# د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه
# د ژوند لنډه پيژندنه

*Download from:aghalibrary.com*



مؤلف: مولانا محمد زكريا كاندهلوي رحمة الله عليه

ژباړه او ترتيب: عبدالصمد "ساهو"

جامعة اسلامية اشرفية
اوله ناحيه كندهار افغانستان

Download from:aghalibrary.com

# د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله

# دژوند لنډه پېژندنه

مؤلف:

مولانا محمد زکريا کاندهلوي رحمه الله

ژباړه او ترتيب:

عبدالصمد "ساهو"

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا پر ليکه کيږي:
www.taleemulislam-radio.com

# دکتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | دامام اعظم ابوحنیفة رحمه الله دژوند لنډه پېژندنه |
| مؤلف | مولانا محمد زکریا کاندهلوي رحمه الله |
| ژباړن | عبدالصمد "صاهو" |
| ناشر | جامعه اسلامیه اشرفیه |
| دچاپ کال | ۱۳۹۱ هـ ش موافق ۱۴۳۳ هـ ق |
| دچاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| دچاپ ځل | لومړی |
| دلاسته راوړلو ځایونه | اشرفیه مکتبه ارگ بازار کندهار، اشرفیه مدرسه اوله ناحیه کندهار. |
| اړیکي: | ۰۷۰۰۳۲۸۵۰۴ |
| | ۰۷۰۰۴۹۱۵۰۱ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# اهداء

د پاک رب العزة جلت عظمته له بې مثله دربار څخه په ډېر عجز استدعا او تمنی لرم چي دغه کم ارزښته کړنه (ناچیزه خدمت) د خپل احسان او کرم له مخي په خپل دربار کي ارزښتنا که او د قبول وړ وګرځوي، او بیا یې ثوابونه د خپل جد امجد شیخ المشایخ محیي السنة عالم رباني ملاا کا رحمه تعالی و روح ته، د خپل مرحوم پلار وروح ته، د خپل درو اروابښادو مندو و اروا حانو ته، د خپل دوؤ اروابښادو خوندو و اروحانو ته او د خپل شهید وروور الحاج مولوی محمد قاسم «مدثر» و روح ته اهداء کوم.

# مننه

کله چي د دغه اثر د ژباړني او ترتیب کار، د الله جلّ جلاله په فضل او کرم سره، پای وموند نو ما د خپل مشر ورو او استاد محترم شیخ الحدیث الحاج محمد حقاني صاحب، مد ظله، او د اشرفیه مدرسې مؤسس الحاج مولوی صاحب محمد رسول، مد ظله، څخه احترامانه غوښتنه وکړه چي د د یني علمي اصولو په اساس د کتاب د محتوی په تصحیح کي د لوريیني له مخي را سره مرسته وکړي، دواړو محترمينو د خپل لوړ له مخي په ورين تندي د عاجز بنده عرض قبول کړ، الله پاک دې و دواړو ته په دارينو کي اجرعظیم ورکړي.

اشرفیه مدرسه چي په روان پېړ کي د یو خورا روښانه دېني مشال په څېر ځلېږي او په منطقه کي يې د یو لویې دیني علمي مؤسسې حیثیت ځان ته غوره کړی دی او مختلفی علمي څانګي لري، ځکه خو د همدغه ديني او علمي نهاد رئیس نوموړي مولوي صاحب محمد رسول د نوموړي مدرسې د تألیف او ترجمې و څانګي ته لارښونه وکړه ترڅو دغه اثر د ديني علمي اصولو په رڼا کي کره کړي. د ده د هدايت سره سم د نوموړي څانګي منسوبينو دغه اثر تر کره کولو وروسته د تائید وړ وباله، الله جلت عظمته دې د دوی دغه خدمت په خپل دربار کي قبول او په دارینو کي ورته اجر عظیم ورکړي.

د عاجز بنده مشر ورور او استاد شیخ الحدیث حقاني صاحب د کتاب د کره کولو لپاره هم زیات هڅه او هاند وکړ او په دقیقه ډول یې د دغه کتاب تصحیح او مقابله سرته ورسوله. تصحیح په دې معنی چي په کوم ځای کي د بنده څخه کومه تېر وتنه شوې وه هغه یې راته اصلاح کړېده، او د

هغه صفحې په لمنليک کي د «تصحيح» اشاره هم ورته شوېده، او په کوم ځای کي چي د اصلي کتاب په عربي متن کي تېروتنه موجود وه هغه يې د نورو نسخو سره مقابل کړې او د صحيح شکل ترجمه يې تهيه کړېده چي د هماغه صفحې په لمنليک کي د «تصحيح او مقابلهِ» اشاره ورته شوېده.

هر چا چي د دغه کتاب په هره چاره کي مرسته او کومک کړی وي هغو ټولو محترمينو ته کوروداني وايم او د زړه له کومي ور څخه مننه کوم او د الله پاک له دربار څخه ورته په دارينو کي اجر عظيم او سر بلندي غواړم.

د رب المنان د احسان هيله مند عبدالصمد «ساهو»

# تقریظ

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم

درنو لوستونکو!

ښکاره خبره ده، چې الله ﷻ د هغه چا څخه د دین کار اخلي، چې خپله ورسره محبت لري او ددې لپاره یې بېلابیلې طریقې پیدا کړي دي یوه طریقه یې داده، چې کله یو څوک الله ﷻ ته خوښ انسان سي د دغه کس محبت د خلکو په زړونو کې واچوي په پایله کې یې خلک پیروي کوي لکه، چې الله ﷻ فرمایي:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا (مریم، آیة: ۹۶)

ژباړه: باور وکړئ! کوم کسان، چې ایمان لرونکي دي او صالح اعمال تر سره کوي الله ﷻ به دداسې کسانو محبت د خلکو په زړونو کې واچوي.

دهمدغه خبرې په نظر کې نیولو سره ویلای سو، چې سیدنا امام ابو حنیفة رحمه الله هغه جلیل القدر عالم، زاهد او نېک انسان دئ، چې د ټول امت لپاره یوه نمونه ده. دده رحمه الله تقوا او دیانت ددې لامل ګرځېدلی دئ، چې شاوخوا دیارلس پېړۍ مسلمانان دده دعلمي هڅو او خدمتونو څخه سیراب سوي دي او همدا دده رحمه الله د دیانت څرګندونه ده، چې دومره لوی جماعت دده سره مینه لري او پکښې منل سوی دئ.

داچې دامام ابو حنیفة رحمه الله په پیروانو کې د نړۍ وتلي عالمان دي او په امت مسلمة کې دهیڅ عالم دومره پیروان او مقبولیت نسته دا ددې څرګندونه کوي، چې دده رحمه الله سره الله ﷻ محبت لري او په خپل رحم یې حق ته وصل کړی هم دئ او څوک، چې یې پیروي کوي ان شاء الله تعالی هغه به هم حق ته وصل خلک وي.

دداسې یوه وتلی عالم یاد ساتل، پېژندل، او د مخربینو دا تهاماتو مخنیول پکار وي او دا د مسلمة امت کفایي وجیبه ده، الحمد لله د همدې خدمت لپاره د کندهار ښار یوه تن مفکر، تکړه او غوره لیکوال الحاج عبد الصمد "یاهو"

دسیدنا امام ابو حنیفة رحمه الله دژوندانه رشتینې ځېره، حقیقي مقام معرفي کول او دده رحمه الله ستر خدمتونه په ډېر ښه معیار سره دیوه کتاب په بڼه ځرګند کړي دي، الله جل جلاله دي ورته اجر ورکړي.

اشرفیه مدرسه نوموړی کتاب تائیدوي او دا کار ددین او دیندارو خلکو لپاره یو ستر خدمت بولي او دالله جل جلاله دستر دربار څخه غواړي، چې نوموړی کتاب دمسلمانانو داستفادې وړ وګرځي.

وَمِنَ اللهِ التَّوفِيق

داشرفیې مدرسې دتالیف او ترجمې څانګه

| دتالیف اوترجمې دڅانګې غړي | |
|---|---|
| **دنده** | **نوم** |
| دمدرسې رئیس | مولوي محمد رسول صاحب |
| ددارالافتاء رئیس | شیخ الحدیث مولوي عبدالرحیم صاحب |
| ددارالافتاء مرستیال | مولوي سیداحمد غفوري صاحب |
| عضو دارالافتاء | مولوي محمد مجاهد صاحب |
| عضو دارالافتاء | مفتي سیداحمد صابر |

# فهرست


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۱ |
| ۲ | دوهمه ملاحظه د قیاس اړوند ده | ۴ |
| ۳ | د (مخکنی وینا) لومړی برخه | ۵ |
| ۴ | د امام صاحب لومړنی علمي او دیني برياوي | ۶ |
| ۵ | د امام صاحب تقوی، زهد او اخلاق | ۷ |
| ۶ | د امام صاحب د عقل زیاتوالی، ذهني ذکاوت او د فکر تیزي | ۱۱ |
| ۷ | د امام صاحب لوړ علمي مقام | ۱۴ |
| ۸ | د امام صاحب حاضر جوابی. او په علمي مناظره کي د ده خاص مهارت | ۱۷ |
| ۹ | د امام صاحب د ظهور عصر | ۱۹ |
| ۱۰ | د امام صاحب مذهب او د دیني علومو اصول | ۲۲ |
| ۱۱ | د مخکنی وینا دوهمه برخه<br>د امام ابو حنیفة رحمه الله په اړوند د ملاحظاتو مختصره یادونه | ۲۶ |
| ۱۲ | د ایمان مبحث | ۳۴ |
| ۱۳ | د ایمان کمي او کیفي توپیر | ۳۴ |
| ۱۴ | د ایمان د زیادت او نقصان پ... کله اختلاف د ټولو علماؤ په نزد صرف یو لفظي اختلاف دی | ۳۶ |
| ۱۵ | د اهل السنة والجماعة و دوه مشهور قولونو ته څغلنده کتنه | ۴۰ |

فهرست



| صفحه | موضوع | شماره |
|---|---|---|
| ۴۴ | و اول قول ته ځیرنه | ۱٦ |
| ۴۸ | و دوهم قول ته ځیرنه | ۱۷ |
| ۵۲ | د ځیرني نتیجه | ۱۸ |
| ۵۵ | د ایمان او عقیدې مقایسه د مشابهت له مخي اشکال نلري خو د مساواة او مماثلت په اساس بیا مقایسه سمه نه بریښي | ۱۹ |
| ٦۴ | و امام صاحب او احنافو ته د مرجئه د نسبت په هکله ضروري تشریحات | ۲۰ |
| ۷۰ | د خوارجو سره د امام صاحب یوه جالبه مناظره | ۲۱ |
| ۷۴ | د ایمان د اصلي مبحث وروستی نتیجه ګیري | ۲۲ |
| ۷۵ | د قیاس او رأیي مبحث | ۲۳ |
| ۷۹ | آیا قیاس په صورت کلي ممنوع او بد دی که ځیني اوقات و قیاس او رأیي ته هم ضرورت سته؟ | ۲۴ |
| ۸۳ | امام صاحب په قیاس کي مسبوق دی | ۲۵ |
| ۸۴ | ولي د امام صاحب شهرت په رأیه او قیاس کي تر نورو زیاد سوی دی؟ | ۲٦ |
| ۸۷ | د احادیثو په علم کي د امام صاحب مقام | ۲۷ |
| ۸۹ | د بحث لپاره د خبر واحد ځانګړتیا | ۲۸ |
| ۹۱ | د احادیثو د اقسامو لنډه یادونه | ۲۹ |
| ۹۱ | د خبرواحد سیر | ۳۰ |

## فهرست


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱ | د حکم په استنباط کي د راوي د شخصیت مؤثریت او د فقاهت اصل | ۱۰۰ |
| ۳۲ | د حفظ او حافظیت اصل | ۱۰۴ |
| ۳۳ | په روایت کي د احتیاط مطلب | ۱۰۵ |
| ۳۴ | مرسل حدیث او امامین هریو امام مالک رحمه الله او امام ابو حنیفة رحمه الله | ۱۰۶ |
| ۳۵ | د روایت د وروسته والي اصل | ۱۱۰ |
| ۳۶ | په احادیثو کي د خبرواحد د سیر د دوهمي مرحلې پیل | ۱۱۰ |
| ۳۷ | د احادیثو دغه مرحله وار سیر | ۱۱۵ |
| ۳۸ | د امام صاحب د هغه شاګردانو لنډه یادونه څوک چي خپله هم محدثین دي او د محدثینو استادان هم دي | ۱۱۶ |
| ۳۹ | د امام اعظم لنډ پیژندنه | ۱۴۵ |
| ۴۰ | لومړی فائده، د ده رحمه الله په پیژندګلوي کي ده | ۱۴۵ |
| ۴۱ | دوهمه فایده، د امام اعظم فضیلت او د ده هغه صفتونه چي خلکو بیان کړیدي | ۱۵۱ |
| ۴۲ | دریمه فایده، د امام په تابعي کېدو کي ده | ۱۵۹ |
| ۴۳ | څلرمه فایده، په علم الحدیث کي د ده لوړه مرتبه | ۱۶۲ |
| ۴۴ | پنځمه فایده، د اهل فن د معلوم اسلوب سره سم د ده رحمه الله په لړ روایت کي د احادیثو ده | ۱۷۲ |
| ۴۵ | شپږمه فایده، په اجمال سره پر ده باندي د اعتراضونو په رد کي ده | ۱۸۱ |

# فهرست



| صفحه | موضوع | شماره |
|---|---|---|
| ۱۹٦ | اوومه فايده، د ده د مشايخو په بيان کي ده | ۴٦ |
| ۱۹۸ | اتمه فايده، د ده د شاګردانو په پېژندګلوی کي ده | ۴۷ |
| ۲۰۰ | نهمه فايده، په هغه څه کي ده چي د ده مذهب ورباندي ولاړدی | ۴۸ |

# مُقدّمه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و صلاته و سلامه على محمد خاتم النبيين و امام المتقين. و رسول رب العالمين و على اله و صحبه و التابعين لهم باحسان الى يوم الدين.

د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله د مناقبو په هكله دغه ليكنه د حافظ القرآن و الحديث علامه مولانا محد زكريا كاندهلوي رحمه الله ځانګړې او مستقله ليكنه نه ده بلكه دا د هغه رحمه الله تعالى د نايابه اثر د امام مالك رحمه الله د تأليف «موطأ» د شرحې «اوجز المسالک» د مقدمې يو جز دئ.

حافظ القرآن و الحديث علامة مولانا محمد زكريا كاندهلوي رحمه الله (۱۳۱۵ ـ ۱۴۰۲ هـ. ق.) د حضرت مولانا محمد الياس كاندهلوي رحمه الله وراره او دهغه رحمه الله تعالى شاګرد دئ. دغه دواړه محترم مشايخ د نن ورځې د اسلامي نړۍ د اسمان بې سارې ځلانده ستورې دي، دواړه د علم او عمل دميدان اتلان دي. هغوى يوازې په دې بسنه او اكتفاء نده كړې ،چې زيات شمېر شاګردان يې د علم په ګاڼه سينګار كړي او ميدان ته راويستلي دي بلكه د قلم په څوكه يې هم نه ستړې كېدونكې هاند او هڅې كړې او د پام وړ علمي آثار يې و اسلامي نړۍ ته په ميراث پرې اينبي دي، د بېلګې په توګه د نومړو د تأليفاتو له جملې څخه د اوجز المسالک، تبليغي نصاب او فضائل الاعمال يادونه بس او كافي ده . د علمي ارشاد او قلمي هاند تر څنګ يې د الله پاک د دين د خدمت لپاره د

منډو ترنډو لار هم خالي نده پرې ایښې، د ټول عالم اسلام لپاره یې د فیض او برکت نه ډکه د تبلیغ دروازه خلاصه کړېده، چي هره ورځ په لسګونو زره بلکه کله څوک و وایي چي په لکونو انسانان ورځخه برخمن کیږي هم به انشاء الله ډېره مبالغه نه وي. د همدغه تبلیغ له برکته هره ورځ څوک نوي په اسلام مشرف کیږي، څوک د ناپوهي له تورتم نه راوځي او څوک بیا د عصیان د مهلک توپان څخه بچ کیږي.

د امام صاحب د مناقبو په هکله دغه لیکنه د «اوجز المسالک الی موطأ امام مالک» د مقدمې جز دی، ځکه خو په ډېر لنډ ډول لیک سوېده، اما د لنډوالي سره ئې د امام صاحب ژوند په ډېر ښه مختصر او لنډ اندازکي انځور کړی او د هغه رحمه الله د ژوند اکثره مهم نقاط ئې را برسیره کړیدي. د مؤلف رحمه الله ټول لیکني د تعصب څخه پاکي او هر څه ئې په مستند او مدلل ډول د علمي اوصولو پر بنیاد په بې پرې ډول لیکلي دي چي اصلي موخه یې د الله جل جلاله رضایت، د اسلام خدمت او د واقعي اسلام انځور دی. هغوی د امام صاحب د ژوند په هکله ځکه څه لیکلي دي چي عام مسلمانان د دین د بزرګانو د محنتونو، تکلیفونو، زغم، صبر او تحمل څخه اګاه او خبر سي، او دا حقیقت ورته جوت سي چي د دین په کارکي څومره محنت، تکلیف، زغم او صبر په کار دی، او همدغه دین موږ ته په څومره مشکلاتو را رسېدلی دی. د دین د بزرګانو د حالاتو څخه خبرېدل د دین په کارونو کي د صبر، د زغم او د استقامت زیادت راولي، همدا وجه ده چي حافظ مولانا محمد زکریا صاحب یوازي د امام ابوحنیفة رحمه الله په هکله نه بلکه د دین د ډیرو بزرګانو د حالاتو په هکله لیکني کړیدي.

د دې لپاره چې موږ هم په دغه بهیر کې پل ایښی وي او په دې هیله چې الله پاک راته د دین د خدمت شرف په نصیب کړي او د دین د خدمتګارانو د کاروان ملتیا په سلامتیا کې را په برخه سي ځکه مو په نیک شګون سره د حافظ مولانا محمد زکریا رحمه الله د لیکل سوي کتاب «اوجز المسالک» څخه د امام اعظم رحمه الله مناقب انتخاب کړل او هغه مو د خپل توان او وس سره سم و ژباړل.

د نوموړي ژباړل سوي اثر لپاره د مقدمې په شکل یوه مخکنی وینا هم ترتیب سول، څرنګه چې دغه ژباړل سوي اثر ډېر لنډ او مختصر دی دغه مخکنی وینا په لنډه بڼه او په غیر مستقیم ډول د نوموړي اثر لپاره د یو څو ټکو ضروري تشریحات بیانوي، هغه د دې لپاره چې ویونکي د مطالعې په دوران کي هم ذهناً د هغه و اختصارته اماده وي او هم د دغه کتهور اثر څخه پوره ګټه پورته کړي.

دغه (مخکنی وینا) په دوؤ برخو کي را و نغښتل سوه:

د (مخکنی وینا) اوله برخه په ډېره لنډه توګه د امام اعظم یو څو هغه بریاوي او فضائل په غیږ کي رانغاړي چي قریب په تواتر ثابت سوي دي، او دوهمه برخه د امام اعظم رحمه الله په هکله درې ملاحظات او د هغه ملاحظاتو په اړوند جوابونه په بر کي نیسي:

اوله ملاحظه د ایمان په هکله لیکل سوېده، اګرچي د دغه ملاحظې په اړوند د مولانا صاحب کاندهلوي په حاضره لیکنه کي څه ندي ویل سوي، مګر څرنګه چي دغه ملاحظه او د هغه جواب له معتبرو منابعو څخه را نقل سوی دی او لیکونکی بې له دې چي په هغه کي خپل یوه وړه غوندي رأیه او نظریه ورګډه کړي یوازي د هغه ترتیب په غاړه لري، نو په

همدغه لحاظ ويلای سو چي دا د مولانا صاحب د ليکني سره پوره تړاو او ارتباط لري.

## دوهمه ملاحظه د قياس اړونده

د قياس په اړوند چي څه ليکل سوي دي هغه ټول د مولانا صاحب په کامله پيروي او متابعت کي د ده رحمه الله د ليکني وضاحت او تشريح ده، په هغه کي هم د ليکونکي يوه وړه غوندي نظريه او رأيه نده ورکړه سوې. دا ځکه چي د عاجز ليکونکي دومره مقام، مرتبه او پوهه نسته چي په دا ډول مسايلو کي خپله رايه ور شامله کړي، هر څه چي دي هغه ټول د موثقو او معتبرو سرچينو څخه يا د اقتباس په شکل را اخستل سويدي يا په مستقيم ډول را ژباړل سويدي، صرف د ترتيب او تأليف دنده د ليکونکي پر ذمه ده. دلته يوه يادونه ځکه ضروري بولم چي پورته يادسوی د (تأليف) لفظ د نوي ليکني په معنی سره ندی، بلکه د تأليف څخه مطلب د نورو سرچينو څخه د راټول سوو توکو سره پېچل او ترتيب کول دي.

دريمه ملاحظه د احاديثو په روايت کي د امام اعظم د مقام په هکله ليکل سوېده، په دغه بحث کي اصلاً په احاديثو کي د (خبر واحد) و هغه مرحله وار سير ته اشاره سوېده کوم چي د احاديثو په کتابو کي ذکر سوی دی. دا هم د مولانا صاحب د ليکني مربوط يوه کوچنی تشريح بلل کېدای سي. دلته هم هر څه د احاديثو او اصول الحديث د کتابونو څخه يا د اقتباس په شکل يا د مستقيمي ژباړني په شکل را اخستل سويدي، او د نورو کتابونو په نسبت زياته مراجعه د مولانا صاحب کاندهلوي – رحمه

الله تعالی – و «اوجز المسالک» ته سوېده، او ډېر توکي د همدغه اوجزالمسالک څخه را اقتباس سوي یا مستقیماً را ژباړل سویدي.

## د (مځکني وینا) لومړی برخه

د حضرت امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله د مناقبو په هکله خو دومره کتابونه او بابونه لیکل سوی او ترتیب سویدي چي د ټولو را ټولول او منظم کول ځانته ځانګړی کتابتون ایجابوي. اما د هغه د مناقبو په هکله بیخي دا سوال نه پیداکیږي چي په همدغه مورد کي نوي لیکني ته ضرورت نسته، دا ځکه چي هر مؤلف د امام اعظم رحمه الله د مناقبو د لیکني په وخت خپل عذر وړاندي کړی دی چي د هغه لیکنه د امام صاحب د مناقبو په اړوند د دریاب څخه د یو څڅوبي بېلګه ده، دا ځکه چي د امام صاحب مناقب دومره تر حد تېر دي چي حضرت محمد مصطفی ﷺ په امت کي تر اصحابو کرامو (رضوان الله علیهم اجمعین) او د لوړ پوړ تابعینو تر زمانې وروسته ئې بېلګه ډېر لږ لیدل کیږي، ډېرو لوړو امامانو د ده د زیات علم، ځیراکت، تیزي، تقوی، صداقت، صبر، تحمل، سخا، حاضر جوابي، مستقیم او رسا کلام په هکله خپل عالمانه او پاخه نظریات په زښته اوچت انداز کي وړاندي کړیدي چي کله کله ئې په عام ډول فهمول او پوهېدل هم ګران او ستونځمن وي. که د امام صاحب و ژوند ته و کتل سي نو د ده د کارنامو اوچت او لوړ ګراف او لوړه درجه صفا ور څخه مالومیږي.

## د امام صاحب لوړتیا علمي او دیني بریاوې

امام صاحب د ژوند په مختلفو برخو کي په بې ساري توګه حیرانونکي بریاوي ترلاسه کړیدي، مثلاً په (النکت فی المسائل المختلف فیها بین الشافعی و ابي حنیفة) نومي کتاب په صفحه ۹۵ کي ایمان د سعد الطویرقي لورلیکي:

«و اقبل ابوحنیفة رحمه الله في نشأته الأولی علی القرآن حفظاً و قراءةً، و رُوِیَ أنه کان یختم القرآن ستین مرة في رمضان. و قد جاء من عدة طرق أنه أخذ القراءة عن الامام عاصم أحد القراء السبعة»

ترجمه: «ابوحنیفة رحمه الله د ژوند په اولو دورو کي د قرآن و حفظ او قراءة ته مخه کړه، او داسي روایت سوی دی چي ده د روژې په میاشت کي شپېته ځلي د قرآن ختم کاوه، او د یو شمېر لارو نه دا روایت راغلی دی چي ده د امام عاصم څخه د قراءة اخستنه کړېده چي د (قراءت) د اوو ګونو امامانو له جملې څخه یو امام دی». تاسو ګورئ چي د نوموړي کتاب مؤلف شافعي مذهبه دی، او د نوموړي کتاب موخه هم د امام شافعي رحمه الله د مذهب حمایت او تقویت دی، او نوموړي ایمان د سعد لور چي په اسلامي فقه کي د «ام القراء» د پوهنتون څخه د ماستري د درجې د ترلاسه کولو لپاره پر نوموړي کتاب څېړنه او تحقیق کړی دی په داسي حال کي چي د امام صاحب د مذهب لاروی هم نده خو د حقایقو په لیدلو سره ئې د انصاف پر بنسټ حق او حقیقت را په ګوته کړی دی، او د امام صاحب د هلکتوب بریاوي چي هغه د امامت په شېوه د قرآن عظیم الشان حفظ دی او هم په یوه شپه او ورځ کي دوه ځلي د قرآن شریف ختم دی،

بیان کړ. د روژې په میاشت کې د قرآن عظیم الشان شپېته ختمه یو ازې په امام صاحب او امام شعبي پورې منحصر ذکر سویدي، لکه په «المستطرف» کې چې وایي: « و کان ابو حنیفة رحمه الله و شعبي رحمهما الله تعالی یختمان في رمضان ستین ختمة»[1] او بل روښانه او ښکاره مثال د ثقه محدث د امام بخاري د شیخ - رحمهما الله تعالی. نضر بن شمل (متوفی سنه ۲۰۴ هـ.) هغه قول دی چې ابن حجر مکي شافعي په خپل تألیف «الخیرات الحسان في مناقب ابیحنیفة النعمان» نومي کتاب په صفحه ۶ کې رانقل کړی دی او وایي:

«کان الناس نیاماً عن الفقه حتی ایقظهم ابوحنیفة رحمه الله»

ترجمه: «خلک له فقهي نه ویده وه تر څو چې ابوحنیفة رحمه الله را ویاخول.»

له دې نه به غټه او لویه بریا کومه وي چې خلک له فقهي او فقاهت نه ویده او بې خبره وه خو الله پاک امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله د خلکو د را پاڅولو ذریعه او لامل و ګرځاوه. امام شافعي رحمه الله هم د ده د فقهاهت تائید په ډېر تینګار سره کړی دی، لکه چې وایي: «و کان الشافعي یقول: کان ابوحنیفة رحمه الله ممن وفق له الفقه. مختصر تاریخ دمشق، ج: ۷، ص: ۳۹۲ » او یا د امام شافعي رحمه الله هغه مشهور قول چې ویل به یې خلک په فقه کې د ابیحنیفه عیال ګڼل کیږي.

## د امام صاحب تقوی، زهد او اخلاق

د تقوی، زهد او اخلاقو په میدان کې خو بلکل ځانته یو جهان وو، دومره تقوی، زهد او عالي اخلاق ئې وه چې یو عادي انسان ئې هډو

---

[1]: المستطرف في کل فن مستظرف، ج: ۱، ص: ۸

تصور هم نسي کولای، امام شعراني شافعي د (طبقات الکبری) په اول جلد ۵۱سمه صفحه کي وایي:

«و کان له جار یهودي و کانت قصبة بیت خلائه تنضح علی بیت ابي حنیفة فمکث عشر سنین. و هو یکنس کل یوم ما نزل فی داره منها. و یذهب به الی الکوم. و لم یعلم یهودي قط. فبلغ ذلك الیهودي فبکی ثم جاء و اسلم.»

ترجمة: «یو یهودي د ده همسایه وو چي د هغه بیت الخلاء د ابي حنیفة پر کور باندي را خلاصه وه لس کاله په همدغه شاني پاته وه، او ده به هره ورځ هغه ټول څه چي د ده په کور کي له دغه (بیت الخلاء) څخه را لوېدل پاک جارو کول او تر کچره دانه به یې رسول، هغه یهودي له دغه څخه هیڅ نه وو خبر، کله چي دغه (خبر) و یهودي ته ورسېد نو په ژړا سو بیا راغي او مسلمان سو.»

په دغه هکله بل د یو مجوسي هغه قصه هم د یادوني وړ ده چي امام رازي د خپل تفسیر د ۱ جز په ۲۱۶سمه صفحه کي د (اهدنا الصراط المستقیم) په تفسیر کي راوړېده، هغه داسي ده:

«رُوی ان ابا حنیفة رضی الله تعالی عنه کان له علی بعض مجوس مال فذهب الی داره لیطالبه به. فلما وصل الی باب داره وقع علی نعله نجاسة. فنفض نعله فارتفعت النجاسة عن نعله و وقعت علی حائط دار المجوسي فتحیر ابوحنیفة رحمه الله و قال: ان ترکتها کان ذلك سبباً لقبح جدار هذالمجوس، و ان حککتها انحدر التراب من الحائط. فدق الباب فخرجت الجاریة فقال لها: قولي لمولاك ان اباحنیفة بالباب. فخرج الیه و ظن انه یطالبه بالمال. فاخذ یعتذر. فقال ابوحنیفة رضی الله عنه. ههنا ما هو اولی؟ و ذکر قصة الجدار، و انه کیف سبیل الی تطهیره. فقال المجوس: فانا ابدأ بتطهیر نفسي فاسلم في الحال. والنکتة فیه ان اباحنیفة لما احترز عن ظلم المجوسي فی ذاك القدر القلیل من الظلم فلاجل ترکه ذالك

انتقل المجوس من الكفر الى الايمان، فمن احترز عن الظلم كيف يكون حاله عند الله تعالى».

ترجمه: «داسي روايت دی چي د اباحنيفة رضی الله عنه پر يو مجوسي پور باندي ووٚ کورته يې د طلب لپاره ورغی، کله چي د هغه د کور دروازې ته ورسېد پر چوټه يې مرداري ولوېدل، نو ده خپله چوټه و څنډل هغه مرداري د ده د چوتي څخه پورته سول او د مجوسي د کور پر ديوال و موښتل ابو حنيفة رحمه الله حيران سو او ويې ويل: که زه دغه مرداري دلته پرېږدم نو له دې جهته خو د مجوسي ديوال خراب سو، او که دا مرداري و ګروم نو بيا خو د ديوال خاوره ورسره را رژېږي، نو دروازه يې ور وټکوله او د هغه مجوسي وينځه ورته را ووتل، و هغې ته يې وويل: بادار ته دې ووايه چي اباحنيفة په دروازه کي ولاړ دی، هغه ورته را ووتی او داسي ګمان يې کاوه چي پور را څخه غواړي، ځکه خو يې په عذر ويلو پيل وکړ، ابو حنيفة رضي الله عنه ورته وويل چي دلته به څه شی ښه وي، او د ديوال قصه يې ورته وکړل، چي اصلاً به د دغه د پاکولو لپاره کومه لاره وي، مجوسي ورته وويل: اول زه د ځان په پاکولو شروع کوم، په هغه ګړي يې ايمان راوړ مسلمان سو. دلته د پام وړ ټکی دادی چي اباحنيفة د مجوسي په حق کي په دغه لږ اندازه سره هم ځان د ظلم څخه و ساتی، د دغه (لږ ظلم) د پرهېښودلو په خاطر مجوسي د کفر څخه و اسلام ته ولاړ، نو څرنګه چي څوک د ظلم څخه ځان و ساتي نو د هغه حال او درجه به د الله په وړاندي څنګه وي».

امام رازي رحمة الله عليه چي د مذهب له مخي د امام صاحب لاروي هم ندی بلکه په ډېرو ځايو کي شديد اختلاف ورسره لري خو تاسو وينئ

چي د حق په لیدلو سره یې د هغه د فضیلت اظهار د اسلام د افتخاراتو ثخه ګڼلی دی.

دا د امام صاحب د اخلاقو او ټولنیز ژوند ثخه صرف یوه کوچنی بېلګه ده، او د تقوی په هکله یې هم مثل ډېر کم وؤ لکه چي داسي روایت سوی دی چي د کوفې په ښار کي پسه غلا سو امام رحمه الله د دې لپاره چي د غلا د پسه غوښه یې نه وي خوړلې په کوفه کي اووه کاله د پسه غوښه و نه و خوړل، او د ده د تقوی په ارتباط ابن حجر مکي د عبدالله بن مبارک ثخه قول رانقل کړی دی وایي:

« و من ثم لما ذكر عند عبدالله بن المبارك قال: اتذكرون رجلا عرضت عليه الدنيا بحذافيرها ففر منها و ما خالط الظلمة مع سؤالهم له من ذالك[1] ».

ترجمه: «له دغه جهته کله چي به د عبدالله بن مبارک په وړاندي دهغه یادونه وسوه هغه به ویل: آیا تاسو د هغه چا یادونه کوئ چي دنیا په صورت کلي ورته وړاندي سوه او ده فرار ورثخه وکړ او قبوله یې نکړل، او د ظالمانو سره خلط یاني ګډ نسو سره د هغه چي هغوی پدغه هکله غوښتنه هم ورثخه وکړه».

د ده د زهد او عبادت په هکله داسي روایت دی چي ده مبارک به په اوړي کي د ماپښین تر لمانځه وروسته ارام کاوه او په ژمي کي د ماسختن تر لمانځه وروسته[2]. نور به زیات عمر یا په عبادت لګیاه وو یا په تعلیم او تعلم، او دا خو په متعددو روایاتو کي راغلي، منل سوي او مشهوره خبره ده چي امام صاحب ثلویښت کاله د شپې په اوداسه د

---

[1]: خیرات الحسان، ص: ۷

[2]: مناقب ابیحنیفة و صاحبیه، للذهبي، ص: ۲۱

سهار لمونځ و ګذاره[1]. او داسي روايت هم متعددو مؤرخينو راوړی دی چي امام صاحب به پوره قرآن عظيم الشان په يوه رکعت کي ختم کاوه، د لمانځه په يوه رکعت کي د ټول قرآن عظيم الشان ختم يوازي په څلورو نفرو جليل القدر امامانو پوري منحصر ذکر سوی دی لکه د (المستطرف) مؤلف چي د معتبرو منابعو په حواله ليکلي دي: «و ختم القرآن فی رکعة واحدة اربعة من الائمة؛ عثمان بن عفان، و تميم الداري، و سعيد بن جبير و ابوحنيفة رضی الله تعالی عنهم[2].» او همدا رنګه (مختصر تاريخ دمشق) خاص د همدغو ياد سوو څلورو نفرو په اړوند ليکلي دي چي دوی په داخل د کعبې شريفي کي د قرآن عظيم الشان ختم کړی دی، لکه چي وايي:

«قال خارجة بن مصعب: ختم القرآن فی الکعبة اربعة من الائمة: عثمان بن عفان، و تميم الداري، و سعيد بن جبير، و ابوحنيفة رحمه الله[3]».

## د امام صاحب رحمه الله د عقل زياتوالی، ذهني ذکاوت او د فکر تيزي

د امام صاحب رحمه الله د عقل زياتوالی، ذهني ذکاوت او د فکر تيزي دومره ډېره وه چي همېش د لوړ عقل خاوندان ورته په حيرت او ګوته په غاښ وه، په همدغه ارتباط اکثره مصنفينو د ده زيات محير العقوله کارنامې ليکلي دي، کوم چي اکثره يې د تهلکې څخه د عامو مسلمانانو د نجات سبب هم ګرځېدلي دي، دلته د اورېدوالي څخه د ځان ساتني په

[1]: مناقب ابيحنيفة و صاحبيه، للذهبي، ج: ۱، ص: ۲۱

[2]: المستطرف فی کل فن مستظرف، ج: ۱، ص: ۶

[3]: تاريخ دمشق، جلد: ۲، ص: ۲۳۴

خاطر صرف د بېلګې په توګه د ده د ذهني ذکاوت يوه لنډه قصه يادول،
غواړو: وکيع روايت کوي او وايي:

«يوه روځ ما اباحنيفة، سفيان، مسعر، جعفربن زياد او حسين بن صالح (رحمة الله عليهم) په کوفه کي په يو خوښي کي[1] يو ځای سره وليدل چي په هغه کي د لوړي طبقي خلک او د کښتني طبقې خلک ټول يوځای سره راټول سوي ول، په دغه واده کي يو سړي خپلي دوې لوڼي د بل سړي و دوؤ زامنو ته ورپه نکاح کړي وې، کله چي خلک ټول سره را يوځای سول په دغه وخت کي د واده مشر خلکو ته راووت او ورته ويې ويل: موږ په يو لوی مصيبت اخته سولو، چا ورته وويل: هغه مصيبت څه شی دی؟ ده ورته وويل: موږ خطاوتلي يو، هرزوم د هغې ښځې سره د واده شپه تېره کړېده چي هغه د ده په نکاح کي نه وه، خلکو ورڅخه و پوښتل: ته د دوی پلار يې؟ ده ورته وويل: هو! سفيان وويل: دا عين هغه قضيه ده چي حضرت علي عليه السلام حکم پکي کړی دئ، معاويه ﷺ په دغسي قضيه کي حضرت علي ﷺ ته د فتوی او پوښتني لپاره يو څوک ور ليږلی وؤ، حضرت علي ﷺ هغه پوښتلی وؤ چي آيا ته د معاويه استازی يې؟ او ورته فرمايلي وه: په يقين سره دا زموږ په ښارکي نده پېښه سوې، زه داسي ګڼم چي پر هر يوه د دوی د مهر تاوان لازم دی، په دې دليل چي هر يوه وه ښځې ته لاس رسی پيدا کړی دی، دا ځکه چي په شبه سره د ښځې وطي کول د دې ټول مهر لازم کوي، که دا د ده څخه اميدواره سي نو اولاد يې ساهو او ثابت النسب دی. او هره يوه ښځه به د اشتباهي وطي د عدې تر تېرېدو وروسته و خپل مېړه ته ور

[1]: خوښی: د واده ميلمستيا.

واپس سي، او په دغه کي پر دوی باندي هیڅ شی نسته. خلک ټول چپ وه، د سفیان خبري یې اورېدلې، او (داسي مالومېده) چي هغه یې خوښه ولې. ابو حنیفة رحمه الله د قوم په منځ کي ساکت ناست وؤ، مسعر ورته وکتل او ورته وویل: په دغه کي یو څه ووایه یا اباحنیفة! سفیان ورته وویل: له دغه نه بغیر نور څه نه ښایي چي ویې وایي، ابو حنیفة رحمه الله ورته وویل: زه هلکان (زومان) غواړم، هغه یې دواړه ورته حاضر کړل، ابو حنیفة رحمه الله له دوی هر یوه نه پوښتنه وکړه: آیا هغه ښځه چي تا برایي د واده شپه ورسره تېره کړل ستا خوښه ده چي ستا ماینه سي؟ هغوی هر یوه ورته وویل: هو! ده ورته وویل: ستا د هغې ښځي نوم څه دی چي ستا د ورور سره ده؟ هغه ورته وویل: فلانی د فلاني لور، ده ورته وویل: ووایه چي هغه پر ما طلاقه ده. بیا ابو حنیفة رحمه الله د نکاح خطبه وویل او هر یوه ته یې هغه ښځه ورپه نکاح کړل چي لاس رسی یې ورته سوی وو، وروسته نو ابو حنیفة رحمه الله وویل: د سره نوي واده جوړ کړئ! خلک د ابو حنیفة رحمه الله د فتوی څخه په تعجب کي پاته سول. په دغه روځ مسعر را ولاړ سو ابو حنیفة رحمه الله یې پر خوله مچ کړ، او ویې ویل: آیا تاسو د ده پر دوستي ما ته ملامتي وایاست؟ وایي چي په دغه وخت کي سفیان چپ ناست وو څه یې نه ویل».[1]

د امام صاحب د عقل او ذکاوت تیزي و هر چاته معلومه ده، او همېشه به په مشکلاتو کي د عام او خاص مرجع وو، ځکه خو یې پر هر چا قدر او عزت هم زیات وؤ.

[1]: حیاة الامام ابوحنیفة للعفیفي، ص: ۸۷

## د امام صاحب لوړ علمي مقام

د ده لوړ علمي مقام خو په تواترسره ثابت دی او هيڅ منصف ورڅخه انکار نکوي لکه نوموړي ايمان بنت سعد چي د خپل ذکر سوي ځېړنيز اثر په ۱۰۰مه صفحه کي وايي:

«لأبيحنيفة مکانته علمية التي لاينکرها الا مکابر. و التی اقرّ بها له بها العلماء جيلاً بعد جيل؛ فيقول عنه معاصره الفضيل بن عياض: کان ابوحنيفة رحمه الله رجلاً فقيهاً، معروفاً بالفقه... معروفاً بالافضال... صبوراً على تعلم العلم بالليل والنهار».

ترجمه: «د ابيحنيفة د علمي مقام څخه، بېله حاسده، هيڅوک انکار نکوي، هغه علمي مقام چي پوهانو ورباندي پښت پر پښت اقرار کړی دی، د ده معاصر فضيل بن عياض د ده په شان کي وايي: ابو حنيفة رحمه الله فقيه وؤ، په فقه سره پېژندل سوی وؤ، په سخاء سره پېژندل سوی وؤ، شپه او روځ د علم پر زده کړه باندي ټينګ وؤ» او ورپسې وايي:

«و کثر مدح مادحين له حتى سماه عبد الله بن المبارك بمخ العلم»

ترجمه: «او د ده صفت ثناګويانو ډېر کړی دی، تر داسي حده چي عبدالله بن مبارک دی د علم «مغز» بللی دی». همدا رنګه شيخ الاسلام ابن تيمية هم د لوړي طبقې محدثو علماؤ په جمله کي د امام صاحب نوم ذکر کړی دی، په همدغه ارتباط دي د زيات تفصيل لپاره هلته مراجعه وسي، موږ دلته د هغه د پراخ او اوږده بحث څخه صرف يو څو جملې ذکر کوؤ:

« وَأَهْلُ الشَّامِ لَمْ يَكُنْ فِيهِمْ كَثِيرٌ كَاذِبٌ وَلَا أَئِمَّةٌ كِبَارٌ فِي الْقِرَاءَةِ وَالْحَدِيثِ وَكَذَلِكَ أَئِمَّةُ الْفُقَهَاءِ فَمَالِكٌ عَالِمُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ . وَالثَّوْرِيُّ وَأَبُو حَنِيفَةَ وَغَيْرُهُمَا مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ . وَابْنُ جريج وَغَيْرُهُ . مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ ؛ وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ والأوزاعي

وَطَبَقَتُهُ بِالشَّامِ وَقَدْ قِيلَ إِنَّ مَالِكًا إِنَّمَا احْتَذَى مُوَطَّأَهُ . عَلَى كِتَابِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ وَقِيلَ : إِنَّ كِتَابَ ابْنِ جُرَيْجٍ قَبْلَ ذَلِكَ[1] ».

ترجمه: «او هر څه چي اهل شام وه په دوی کي د پر دروغجن نه وه او نه هم د قراءت او حديثو په لويو امامانو کي او داغه رنګه د فقهي په امامانو کي هم دروغجن نه وه، ځکه چي امام مالک رحمه الله د مدينې د اوسېدونکو عالم وؤ، ثوري، ابو حنيفة رحمه الله او نور د اهل کوفې څخه وه، ابن جريج او نور د مکې څخه وه، حماد بن سلمة او حماد بن زيد د بصرې څخه وه، اوزاعي او دهغه ډله په شام کي وه. چا داسي ويلي دي چي مالک د موطأ په ليکلو کي په يقين سره د حماد بن سلمة په کتاب پسي اقتداء کړېده او چا بيا ويلي دي چي د ابن جريج کتاب تر دغه دمخه وؤ». او نوموړی د مجوعة الفتاوی په بل ځای کي ليکي:

« وَوَكِيعِ بْنِ الْجَرَّاحِ ؛ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ إِدْرِيسَ ؛ وَمُعَاذِ بْنِ مُعَاذٍ ؛ وَحَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ ؛ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ ؛ وَأَمْثَالِ هَؤُلَاءِ مِنْ طَبَقَةِ شُيُوخِ الْإِمَامِ أَحْمَد . وَهَؤُلَاءِ كُلُّهُمْ يُعَظِّمُونَ السُّنَّةَ وَالْحَدِيثَ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمِيلُ إِلَى مَذْهَبِ الْعِرَاقِيِّينَ كَأَبِي حَنِيفَةَ وَالثَّوْرِيِّ وَنَحْوِهِمَا كَوَكِيعِ ؛ وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ[2] »

امام ذهبي د عبدالله بن مبارک په حواله وايي چي ابو حنيفة رحمه الله يو علامه وؤ[3]، او مکي بن ابراهيم د امام بخاري شيخ (رحمهما الله) وايي: ابو حنيفة رحمه الله د خپلي زمانې تر ټولو لوړ عالم وؤ[4]، او يو بل شيخ وايي:

[1]: مجموعة الفتاوی، ج: ۲، ص: ۳۷۸

[2]: مجموعة الفتاوی، ج: ۴، ص: ۲۳۹

[3]: مناقب ابيحنيفة و صاحبيه، للذهبي، ص: ۳۰

[4]: ذکر سوي مرجع، ص: ۳۲

که د ابيحنيفة علم د ده د زمانې د علماؤ د علم سره وتلل سي نو د
ابو حنيفة رحمه الله علم به پر د روند سي، لکه چي وايي:

«قال يحی بن ابي طالب. سمعت علي بن عاصم يقول: لو وُزِن علم ابيحنيفة بعلم اهل زمانه لرجح[1]».

مطلب دا چي د امام صاحب علمي اوچت مقام دومره ندی چي په يو څو جملو کي د هغه تعريف را لنډ سي. بلکه د هغه لوړ علمي مقام بابونه نه!! بلکه کتابونه غواړي، مثلاً د قرآن عظيم الشان د تفسير په هکله چي د فقهي احکامو د استنباط لپاره د اجتهاد په لياره کي د خطاء څخه د مجتهد د ساتلو په خاطر کوم اصول ده وضع کړيدي هغه دومره لنډ او لږ ندي چي په يوه باب او يا يو کتاب کي دي بحث ورڅخه وسي، همدا ډول د احاديثو اصول و ګڼه، د اجماع، عرف عام او قياس لپاره هم امام صاحب ډېر ښه او مفيد اصول وضع او غوره کړيدي، په دغه اصولو پوهېدل هم د هر چا لپاره څه اسانه خبره نده، شايد يوه همدا وجه وي چي ځينو کسانو ته په ځينو ځايونو کي څه سوالونه او پوښتني پيدا سوي دي، همدا لامل دی چي ډيرو علماؤ د امام صاحب ناقدين پر دوه ډلو تقسيم کړيدي؛ يوه هغه ډله ده چي د امام صاحب په اصولو نه پوهيږي، دا ډله علماؤ تر يو اندازې معذور ګڼلې ده، او بله هغه ډله ده چي د عناد له مخي يې بې بنسټه روايات جوړ کړي او افتراءات يې کړيدي، دا ډله نسبت اولي ډلي ته علماؤ ډېره مسؤله بللې ده.

[1]: مرجع فوق: ص: ٣٢

**د امام صاحب حاضر جوابي، او په علمي مناظره کې د ده خاص مهارت**

بل دا چې امام صاحب د دومره لوړ علميت تر څنګ زښته زيات حاضر جوابه هم وؤ، مثلاً امام ذهبي وايي: «کله چې امام صاحب منصور و خپل دربار ته ور وغوښت نو ربيع الحاجب و منصورته وويل: يا اميرالمؤمنين! دا ستا د نيکه (ابن عباس) مخالف دی، ځکه چې هغه ويل: که څوک د قسم څخه يوه يا دوې روځې پس استثنی (انشاء الله) و وايي: صحيح دی، خو دی وايي: که د قسم سره جوخت انشاء الله و نه ويل سي بيا نه صحيح کېږي.

سمد ستي امام صاحب ورته وويل: «يا اميرالمؤمنين! يقيناً د ربيع په فکر تا لره په عسکري فوج کي د هيچا بيعت نسته، هغه ورته وويل: څنګه؟ ده ورته وويل: ستا په مخ کي به په قسم سره بيعت وکوي کله چې کورته ولاړ سي بيرته به انشاء الله ووايي او قسم به باطل کړي، منصور وخندل او ويې ويل: يا ربيع! پر ابو حنيفة رحمه الله تعرض مکوه[1]».

په علمي جدل او مناظره کي هم امام صاحب ځانته خاص پر عقل او منطق ولاړه علمي طريقه درلوده، هغه په دې لحاظ چې ډېر ځله به امام صاحب په مناظره کي په حقيقت باندي د طرف مقابل د قانع کولو لپاره د سوال او جواب لياره غوره کول، تر څو طرف مقابل د خپلي فرضي قضيې په تناقض اعتراف وکړي او د اصلي حقيقت و منلو ته اماده سي، د بېلګي په توګه د سعودی عربستان د اوقافو او اسلامي شئونو وزير (شيخ صالح بن عبد العزيز بن محمد ال شيخ) په خپل (اصول الايمان في ضوء القرآن و السنة) نومي کتاب کي د منکرينو سره د الله (جل و علی شأنه) د

---

[1]: مناقب ابي حنيفة و صاحبيه، ص: ۴۷

وجود او وحدانيت د ثبوت په اړوند د امام صاحب دغه مناظره ثبت کړېده:

«وقد جاء في بعض الآثار أن قوما أرادوا البحث مع الإمام أبي حنيفة رحمه الله في تقرير توحيد الربوبية . فقال لهم رحمه الله : "أخبروني قبل أن نتكلم في هذه المسألة عن سفينة في دجلة تذهب فتمتلئ من الطعام وغيره بنفسها وتعود بنفسها ، فترسو بنفسها وترجع ، كل ذلك من غير أن يديرها أحد ؟" .فقالوا : "هذا محال لا يمكن أبدا . فقال لهم : إذا كان هذا محالا في سفينة فكيف في هذا العالم كله علوه وسفله ؟" .فنبه إلى أن اتساق العالم ودقة صنعه وتمام خلقه دليل على وحدانية خالقه وتفرده[1]».

ترجمه: «يقيناً چي په بعضو آثارو کي راغلي دي چي يوې ډلي و غوښتل چي د امام ابوحنيفة رحمه الله سره د پالونکي څښتن تعالى د موجوديت او وحدانيت د ثبوت په هکله مناظره وکړي ، امام رحمه الله ورته وويل: مخکي له دې چي موږ او تاسو په دغه مسئله کي بحث سره وکړو تاسو ماته د هغه کښتۍ په باب خبر راکړئ چي د دجلې په درياب کي پر دې غاړه د خوراکي توکو او نورو موادو څخه پخپله ډکيږي او بيا ځي هغه بلي غاړي ته هلته پخپله دريږي او خالي کيږي او بيرته خپله راځي، دا ټوله کارونه پخپله کوي بې له دې چي څوک ئې اداره کړي؟
هغوی ورته وويل: دا محاله ده هيڅ امکان نلري، ده ورته وويل: که دا په يوه کښتۍ کي محاله وي نو څنګه به په دا دومره لويه نړۍ کي، چي دومره لوړي او ژوري لري، ممکنه وي؟ په دغه يې پوه کړل چي د جهان يو له بل سره پيودل او په دومره دقيق ډول سره د هغه جوړول د خالق پر

[1]: اصول الايمان فى ضوء القرآن و السنة، ص: ۱۹

موجوديت او دهغه جل و على شانه پر تنهايي او وحدانيت ښوونه او دلالت کوي».

د علمي جدل لپاره امام صاحب يو لړ اصول وضع کړل تر څو د هغه له مخې د هماغه وخت د اشد ضرورت پر اساس د غير اسلامي ډلو د اسلام ضد، زهرجن ښکاره او پټ تبليغات خنثى او شنډ کړي، مثلاً محمد بن احمد ابوزهره د خپل تأليف (ابوحنيفة حياته و عصره . . . ) د «عصر ابوحنيفة» په مبحث کي ليکي چي د امام صاحب په عصر کي له يوه پلوه غير اسلامي ډلي لګيا وې چي د قضاء، قدر، روح، مسيح او داسي نورو مسايلو په اړوند يو لړ پوښتني راپيدا کړي تر څو عامه ذهنيت مغشوش او ګډوډ کړي، له بله پلوه منحرفي اسلامي ډلي لکه جبريه، قدريه، خوارج او داسي نور په ډېر زور سره د خپلو منحرفو عقايدو په خپراوي او نشر لګيا وې.

## د امام صاحب د ظهور عصر

د امام صاحب په عصر کي دوه قسمه غير اسلامي ډلي د اسلام پر ضد په فعاليت لګيا وې؛ يو هغه ډلي چي له لويه سره برملا د اسلام څخه جلا وې لکه د يزيد په دربار کي د مريانُس نومي رومي راهب نفوذ[1]. او بل هغه ګمراه او مرتدي ډلي وې چي په ظاهره له اسلامه څخه منشعب سوي وې خو په حقيقت کي د اسلام بوى هم نه وؤ ورسره لکه د مسيلمة كذاب پاته شوني (بقايا): دکتور محمود طحان د موضوعه احاديثو په بحث کي وايي: دغه زنديقو ډلو په ښکاره د اسلام سره د مقابلې توان نه درلود ځکه خو يې و ځبيثي ليارې (د موضوعه احاديثو و جوړولو ته)

---

[1]: ابوحنيفة حياته وعصره، ص: ۷۸

مخه کړه، او د اسلام د تحریفولو او په اسلام کي د بدو را پیداکولو په خاطر يې يو لړ احاديث وضع کړل، چي له دغه جملې نه يو هم محمد بن سعيد الشامي دی[۱].

څرنګه چي د دغو ډلو تبليغات به ځيني وخت د اسلام تر پردې لاندي مخفي تبليغات وه ځکه خو بعضي اوقات اسلامي ټولنه هم ورڅخه متأثره سوېده، د بېلګي په توګه د دغو ډلو د منفي تبليغاتو څخه يو هم د عربي نړۍ لپاره د قومي تعصب تبليغ وؤ، چي په دې ډول د وی غوښتل چي د اسلام په دننه کي عرب او عجم يو له بله سره بېل کړي، سره د هغه چي دا يو جوت حقيقت دی چي په اسلام کي د انسانانو تر منځ توپير نسته او هر هغه څوک چي متقي وي هغه د الله تعالی په وړاندي معزز او عزتمند دی، مګر دغو ډلو غوښتل چي د قرآن عظيم الشان د دغه عمده او لوی اصل چي فرمايي:

«إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ الحجرات ۱۳»

په هېره ولو سره په اسلامي ټولنه کي د تشتت او نفاق اور وشندي. اګرچي په لومړي سرکي دغه تبليغات څه مؤثر واقع سول، لکه په ځينو اموي دربارونو کي چي د محدود وخت لپاره داسي رول جاري سوی وؤ چي غير عرب نسي کولای چي د غزا او جهاد په ميدان کي د غنيمتونو څخه برخمن سي[۲]. اما د الله جل جلاله په فضل او کرم او د هغه وخت د لويو فقيه امامانو او محدثينو خصوصاً د څلورو واړو مذهبونو امامانو

---

[۱]: تيسير مصطلح الحديث، ص: ۹۰

[۲]: ابوحنيفة حياته وعصره... ، ص: ۷۴

د زيار او کوښښ په نتيجه کي دا هڅي په عمده توګه ناکامه او بې اثره پاته سوې.

نوموړي ابوزهره ليکي چي د غير اسلامي ډلو د تبليغاتو تر څنګ په خپله په اسلامي کړی کي هم منطقوي، صنفي، مذهبي او ګروهيز تعصبات د افراط و آخري پوړی ته رسېدلي ول، او په ځينو ځايو کي دغه تعصباتو د اسلام د سرحد څخه هم تجاوز کړی وؤ، لکه د اسلام د لويو علماؤ او حفاظو په وړاندي د حجاج بن يوسف تند او تېز ګامونه. د امام صاحب په هکله هم ځيني ملاحظات د هغه وخت همدغه تعصبات انځوروي، د مثال په توګه د امام صاحب د اصحابو په هکله يو قول داسي وايي چي هغوی صادق او ريشتني دي مګر دانه ښايي چي د ابو حنيفة رحمه الله له اصحابو څخه روايت وسي، لکه چي وايي: «سألت ابي عن اسد بن عمرو: قال: كان صدوقاً و ابويوسف صدوق و لكن اصحاب ابيحنيفة لاينبغي ان يروي عنهم شئ[1].» که دا قول صحيح وبلل سي نو له دې نه له ورايه مالوميږي چي حتی په هغه وخت کي د ګروهيزو تعصباتو له تأثير څخه صحيح اسلامي ډلي هم سالمي ندي پاته سوي او ور څخه متأثره سويدي، ځکه تاسو وينی چي د هغه چا څخه چي پر صدق او ريشتنولي يې اقرار کيږي خو د هغه څخه صحيح روايت بې له کوم دليل فقط و فقط د تعصب له مخي ترک وهل کيږي.

په همدغه شاني عصر کي امام صاحب ظهور کړی دی. هغه په يوازي سر، په خالي لاس (يوازي سر او خالي لاس په دې مانا چي کوم فوجي، قومي او منطقوي حمايت نه وؤ ورسره) د الله جل جلاله په فضل او د

[1] العلل، ج: ۲، ص: ۳۰۰

خدای ورکړي بې ساري علم په زور او مټ و يوه پلو ته د علمي جدل نه لياري د غير اسلامي او منحرفو ډلو د افکارو د خپراوي مخه ور ډب کړه؛ لکه ابوزهره چي د خپل نوموړي تألیف په ۶۹ مخ کي ليکي چي ابو حنيفة رحمه الله تخميناً د ۲۲ ډلو په مقابل کي د علمي جدل او مناظرې له لياري د اسلام څخه دفاع کوله او دی د اسلام د لويو مدافعينو څخه وؤ، او په يوه روايت کي راغلي چي امام صاحب څو ويشت ځلي وو. بصرې ته، چي په هغه وخت کي د مختلفو ګروپونو مرکز ګرځېدلی وؤ، د علمي مجادلې او مباحثې لپاره سفرونه کړيدي.
او بل پلو ته امام صاحب د فقهي احکامو د استنباط په منظور د تفسير، حديثو او اجماع اصول ترتيب، غوره او وضع کړل.

**د امام صاحب مذهب او د ديني علومو اصول**

امام صاحب د فقهي احکامو د استنباط په منظور د تفسير او حديثو د اصولو د ترتيب او غوراوي بنسټ ايښودونکی بلل کېدای سي، لکه حافظ جلالدين سيوطي رحمه الله چي د همدغه نظر د تائيد په منظور په «تبيض الصحيفة» کي د دغه نظر د تائيد قول رانقل کړيدی همدغه قول په «الرسالة المستطرف» کي راغلی دی او وايي: «و قال في (تبيض الصحيفة) قال بعض من جمع (مسند ابيحنيفة) من مناقب ابيحنيفة التي انفرد بها انه اول من دون علم الشريعة و رتبه ابواباً ثم تابعه مالک بن انس رحمه الله في ترتيب (الموطأ) ولم يسبق اباحنيفة احد. اه».
يقيناً که اصلي حقيقت ته په ځير وکتل سي نو دا به جوته سي چي امام اعظم د ديني علومو د اصولو په غوراوي او وضع کولو کي قريب د مخکښ حيثيت درلود، د اصحابو کرامو او د لوړپوړو تابعينو له طبقې نه پس همدا امام صاحب وؤ چي د تفسير، احاديثو، اجماع او قياس له

اصولو څخه يې په تفصيل سره بحث کړی دی، بلکه کوم تفصيل او بسط چې امام صاحب د ديني علومو و اصولو ته ورکړی دی د ده تر زمانې پورې يې ساری کم ليدل سوی دی، مثلاً قياس خفي يا په بل عبارت د استحسان قاعده د اولنين ځل لپاره ده رحمه الله معرفي کړېده، د نسخي د قاعدې لپاره يې مختلف فرعي اصول بيان او معرفي کړل، د متواتر، مشهور او واحد اخبارو تر منځ يې د توپير اصول تشريح کړل او داسي نور.

د مذهب په لحاظ د اصحابو په پېر کي خو هر صحابي د رسول الله صلی عليه وسلم د مبارکو ارشاداتو او ښوونو څخه مستقيماً مستفيد او متأثر سوی وؤ ځکه خو هر يو د نظر او مذهب څښتن وؤ، وروسته د لوړ پوړ د تابعينو په پېر کي هم ډېر داسي کسان وه چې په ديني فروعاتو کي يې من حيث مذهب د خپلي رأيي اظهار کړی دی، او د امام صاحب په عصر کي هم هر امام لکه سفيان ثوري، امام اوزاعي، امام مالک او نور هر يوه ځانته رأيه او مذهب درلود، داچي د امام صاحب مذهب ولي د دغو مذاهبو په ميان کي ډومره زيات شهرت و ګاټه کېدای سي چي لامل يې داوي چي يو خو امام صاحب په ديني فروعاتو کي د خپل وخت ضروري مسائل او قضايا د فقهي تقديري په شکل مطرح کړل او ډېرو مهمو مسائلو ته يې مخکي له مخکي لا معقول او د منلو وړ جواب تعين کړی وؤ چي خلکو به د ضرورت په وخت کي د عمل په ډګر کي پياده کول، او بل داچي د ده مذهب د اجتهاد پر بنسټ په ټولنه کي د هر قسم تعصب نه خالي د يو پاک او سوچه معتدل اسلامي مذهب په صفت منل سوی وؤ، چي وروسته بيا د نور اسلامي مذاهبو په منځ کي درو نورو مذهبونو هم .زيات شهرت ځانته خپل کړ

تقريباً همدغه مذاهب وه چي د هغه وخت د اسلامي نړۍ متلاطم او د تعصباتو نه ډک غیر اسلامي طوفانونه يې ایسار کړل، او په اسلامي نړۍ کي د اسلامي تمدن د تأمین او تعمیل په خاطر بې پرې ازاد څېړنیز حرکت پیل سو، د احادیثو چاڼ شروع سو، سقیم او غیر سقیم احادیث سره جلا سول، د فقهی احکامو د استنباط لپاره د تفسیر اصول، د احادیثو اصول، د اجماع او د قیاس اصول وضع سول، په یقین سره ویل کېدای سي چي په دغه ټوله سوچه اسلامي پروسه کي امام ابوحنیفة رحمه الله تر ټولو مخکښ او پېشتازه وؤ بلکه بنسټ ایښودونکی بلل کېدای سي.

د جرمني د کوپنهاګن د «مرکز الثقافي الاسلامي» څخه په یوه خپره سوې انټرنیټي مقاله کي دوکتور قاسم الامامي لیکي چي امام ابوحنیفة رحمه الله په حقیقت کي د حجاز د اهل الحدیث او د عراق د اهل الرأیي د دوؤ مذهبو د جمع کېدو بنسټ بلل کیږي، هغه په دې لحاظ چي امام صاحب بر سېره پر هغه چي په عراق کي يې د علم د امامانو څخه د علومو تحصیل وکړ او پخپله هم د اهل الرأیي د امامانو څخه وؤ په مکه معظمه کي يې هم د شپږ کالو د اقامت په دوران کي د عبدالله بن عمر غوندي علماؤ علم حاصل کړ، لکه چي وایي: «وابوحنیفة رضی الله تعالی عنه هو اساس بین مذهبی اهل الحجاز اهل الحدیث و اهل العراق اهل الرأی. کان ابوحنیفة رضی الله عنه من علماء اهل الرأی ولکنه ذهب الی الحجاز واقام في مکة ست سنوات یأخذ العلم من علماء الحجاز امثال عبدالله بن عمر.» محمد ابوزهره هم په خپل یاد سوي تألیف کي د امام صاحب د شیوخو په مبحث کي په دې هکله بحث لري چي لنډ حاصل يې داسي دی: ابوحنیفة رحمه الله د کوفې په مدرسه کي د

حضرت علي او حضرت عبدالله بن مسعود – رضی الله تعالی عنهما – علم حاصل کړ. او هم يې په کوفه کي د عکرمة له طريقه د عبدالله ابن عباس او په مدينه کي د نافع له طريقه د عبدالله ابن عمر او حضرت عمر او د مکې په مدرسه کي د مشهور فقيه او مفسر عطاء ابن ابی رباح له طريقه د عبدالله بن عباس د احاديثو، فقهي او تفسير علم حاصل کړ. او هم يې د اهل تشيع د امامانو څخه لکه امام محمد باقر (متوفی سنه ۱۱۴ هـ.)، امام زيد (متوفی سنه: ۱۲۲ هـ.) او امام محمد جعفر صادق (عليهم السلام) څخه د علم اخستنه کړېده. دغه ته ورته يو مطلب د مشکاة په اسماء الرجال کي او هم په نورو کتابونو کي ذکر سوی دی چي د لنډوني په خاطر په همدغه لنډ مطلب بسنه کيږي او د زيات تفصيل لپاره دي هلته مراجعه وسي. د دې خبري مطلب داچي امام صاحب په واقع کي د يو معتدل مذهب اساس ايښی دی، هغه اعتدال چي د واقعي او اصلي اسلام بنياد پر ولاړ دی، همدا وجه ده چي ويل کيږي چي د کثرت په لحاظ د امام صاحب د مذهب پيروان د ټول اسلامي امت دوه پر درې برخه تشکيلوي.

## د مخکنۍ وینا دوهمه برخه

## د امام ابوحنیفة رحمه الله په اړوند د ملاحظاتو مختصره یادونه

د امام صاحب د دومره لوړ علمي مقام او دومره لوړ شان سره سره بیا هم د زمانې د ناخوالو په سبب په هماغه عصر کې او ورپسې د ناوړه اثراتو په اساس د پېړیو په پوړیو کې د ده رضی الله تعالی عنه په هکله یو لړ ملاحظات او انتقادات په وجود راغلي دي. دغه ملاحظات د مختلفو ډلو له پلوه د مختلفو لاملونو له مخې ویل سوي دي. لکه مخکې چې ورته اشاره وسوه چې یو قسم هغه غیر اسلامي ډلې وې چې په اسلامي ماحول کې یې د پردې ترشا په چل ول د خلکو اذهان مغشوش کول، بله ډله هم د دغو منفي تبلیغاتو څخه متأثره سوي منحرف اسلامي ګروپونه وه لکه خوارج او داسي نور. د دغو دواړو ډلو ګماشتګان د امام صاحب د قوي او مضبوط استدلال سره مخ سول، بلکه د تاریخي ثابت سوي شهادتونو له مخي هغوی د جدل او مناظرې په میدان کې د امام صاحب په وړاندي پر ځنګنو سویدي، ځکه خو یې پسي شا په غیر مستقیم ډول ناروا تبلیغات کول او کاذب روایتونه یې جوړول. له دې نه علاوه په اسلامي کړی کې هم یو لړ ګروپونه وه چې د مختلفو علتونو له مخي یې د امام صاحب په هکله یو لړ ملاحظات په وجود راوستل. له دغه جملې څخه یو هم د وخت آمرین وه کوم چې هغوی د امام صاحب د سپین او رسا کلام سره نه وه جوړ، ځکه چې امام صاحب هیڅکله د حق په مقابل د هغوی مراعات نه کاوه بلکه صفا او حق خبره یې ورته کوله، بله ډله هم و دربار ته منسوب علماء وه چې د دربار د رضائیت د حصول په خاطر او یا د حسد او رخې له مخي یې د امام صاحب سره مخالفت خپله وجیبه ګرځولې وه، مثلاً: امام

صاحب همېشه په مجلس کي د علويانو (سيدانو) طرفداري کوله[۱]، او په فکري لحاظ يې هم د امام زيد، امام جعفرصادق او امام محمد باقر – عليهم السلام – سره علمي تړاو او رابطه دلوده[۲]، او لکه مخکي چي وويل سول ده له هغوی نه د علم اخستنه هم کړېده. يو خو دغه ياد سوي ټکي و خليفه ته مرغوب او خوندور نه وه، په همدغه اړوند د موصل د خلګو د دوهم ځلي د قيام په وخت د امام صاحب سپينه وينا و خليفه منصور ته ښه مثال دی چي هغه هم خليفة ته خوندوره نه وه، هغه داسي وه: کله چي د موصل خلکو دوهم ځلي قيام وکړ نو خليفة امام صاحب، ابن شبرمه او ابن ابی ليلی و خپل حضورته د سلا مشورې لپاره ور وغوښتل او هغوی ته يې وويل چي د موصل خلکو مخکي دا تعهد کړی وؤ چي که چيري هغوی دوهم ځلي قيام وکړ نو د هغوی وينه او مالونه و خليفة ته مباح دي. په دې شکل خليفة غوښتل چي د خپل شوم پلان د پلي کولو لپاره د امام صاحب غوندي عالم او متقي شخص فتوی تر لاسه کړي. په دغه وخت کي امام صاحب سکوت وکړ، هغه نورو دوؤ وه خليفه ته وويل: «ای امير المؤمنين! د موصل اوسېدونکي ستا رعيت دي که ته هغوی ته عفوه وکړي نو دا به ستا شفقت وي او ستا د شان سره لايقه ده، او که هغوی ته جزاء ورکړې نو هغوی يې مستحق دي»، بيا خليفه و امام صاحب ته وويل: «يا شيخ! تا ساکت وينم.» امام صاحب ورته وويل: «يا اميرالمؤمنين! د موصل خلکو هغه څه تاته مباح کړيدي چي هغوی يې اختيار نلري، دا داسي ده لکه يوه ښځه چي خپل فرج بې له

---

[۱]: ابوحنيفة حياته وعصره ...، ص: ۴۴

[۲]: اخير الذکر مرجع، ص: ۷۹

نکاح او ملک یمین څخه و بل چا ته مباح کړي، آیا دا هغه ته روا کیږي؟»
خلیفه ورته وویل: «یا!» امام صاحب و خلیفه ته وویل چي خپل لاس د
موصل د خلکو څخه لیري وساته[1]. په دغه هکله مؤرخین لیکي چي خلیفه
ماښیجن غوندي سو او د غه مجلس یې تر وخت د مخه ختم کړ.
د وخت و حکامو ته د امام صاحب د سپینو ویناؤ څخه دا یو کوچنی
بېلګه ده، هغه هیڅکله د دین په امورو کي د چا مراعات نه کاوه، بلکه
همیش یې صرف د الله جل جلاله د رضایت لپاره خبره کوله.
د وخت د حکامو تر څنګ د هغه وخت هغه دیني ډلي هم چي نسبت و امام
صاحب ته یې علمي ظرفیت او مقام او چت نه وؤ د حسد او رخي له مخي
د امام صاحب په هکله روښانه او صفا نیت نه درلود، مثلاً: ابن ابی لیلی
پر یوې لیونۍ ښځي، چي یو متنفذ شخص ته یې په ابن الزانین سره
خطاب کړی وؤ، دوه حد قذفه (یو حد د پلار د ښکنځا او بل حد د مور د
ښکنځا) په مسجد کي په ولاړي ورباندي جاري کړل، کله چي امام
صاحب له دغه واقعې څخه خبر سو نو ویې فرمایل: چي ابن ابي لیلی په
دغه حکم کي شپږ ځایه خطا وتلی دی؛ یو په مسجد کي حد نه برپایه
کیږي په داسي حال کي چي ده په مسجد کي حد برپایه کړی دی. دوهم:
پر ښځه حد په ولاړي نه جاري کیږي. دریم: یو ځلي وهل هم د پلار د
ښکنځلو د حد څخه کفایت کوي او هم د مور د ښکنځلو د حد څخه، ځکه
چي که یو څوک و یو ټولی ته ښکنځل وکړي پر هغه یو حد جاري کیږي.
څلرم: پر لیونۍ حد نسته. پنځم دوه حده یې سره یو ځای کړل، پداسي
حال کي چي دوه حده نه سره یو ځای کیږي، که څه هم یو یې سپک وي.

[1]: اخیر الذکر مرجع، ص: ۴۱

شپږم: د هغه مور او پلار حاضر نه ول او دا مالومه نده چي آيا هغوي د خپل حد غوښتنه کول که يا؟ وايي چي په دغه اړوند ابن ابي ليلى و امير ته شکايت وکړ، او امير امام صاحب د فتوى ورکولو څخه منع کړ. امام صاحب هم تر يو څو روځو پوري فتوى نه ورکوله، تر څو چي د وليعهد استازى ورته راغى او په ځينو مسايلو کي يې فتوى ورڅخه و غوښتل، امام صاحب ورته وويل چي زه د فتوى څخه منع سوى يم، استازى و امير ته ورغى، امير ورته وويل چي زما ورته اجازت دى، امام صاحب بيرته و فتوى ته کښېناست او فتوى ورکول يې شروع کړل[1].

دغه وروستى دواړه ډلي عبدالحکيم فتوري د لندن څخه په يوه خپره سوې اينټر نيټي کي مقاله کي «سياسي ديني» ډله بللې ده، نوموړى وايي چي د هداياؤ په ليږلو، د لوړو حکومتي منصبونو لکه د قاضي القضاة د منصب په پيشنهاد کولو او د فشار په وارولو سره سياسي ډلي غوښتل چي د خپلو کړنو د تأيد لپاره د امام صاحب ملتيا او فتوى تر لاسه کړي. او ديني ډلي، يا د دربار د رضايت لپاره يا د رخي او حسد له مخي په امام صاحب پسي سوء تبليغات کول. خو امام صاحب هيڅکله د الله په وړاندي د يو قوي ايمان له مخي د خپل هوډ نه تېر نسو او نه يې د دربار هداياوي او منصبونه قبول کړل او نه هم د دربار فشار ته تسليم سو، او نه هم په ټولنه کي د دين تر عنوان لاندي د سوء تبليغاتو تر تاثير لاندي راغي، بلکه د ژوند تر آخري رمق پوري يې د الله د دين د نشر او اشاعت کار کما حقه مخ ته بيوي او د رسول کريم صلى الله عليه و سلم د ريشتني امتي په صفت يې د هغه صلى الله عليه و سلم ټول هغه احاديث چي ده ته د

[1]: اخير الذکر مرجع، ص: ۴۳

سالمي او خوندي لیاري ورسېدل هغه يې تشريح کړل، او هر اړخيزه مسائل او فروعات يې ورباندي تفريع کړل.
په اسلامي حلقه کي نوري ډلي هم د امام صاحب په هکله د يو لړ ملاحظاتو لامل ګرځېدلي دي لکه څنګه چي تاسو به د کتاب د مطالعې په وخت ورسره مخ شئ چي د امام صاحب د وقت لوی محدث امام اوزاعي غوندي امامان هم د امام صاحب په هکله د دغه متعصبو منفي تبليغاتو څخه متأثر سوي وه او کله چي د اصلي حقيقت نه اګاه سوي دي نو د امام صاحب په لوړ شان يې اعتراف کړی او د خپل نظر نه ګرځېدلي دي. محمد بن احمد ابوزهره هم د خپل نوموړي تأليف په نوموړي مبحث کي وايي چي يو لړ منطقوي او مذهبي اختلافونه او تعصبات د دې باعث سول چي يوازي د امام صاحب په شان کي نه بلکه د نورو ډېرو امامانو په شان کي دي زيات بې بنياده ملاحظات په وجود راسي.
د نېکه مرغه هغه ټول ملاحظات چي د امام صاحب په اړوند په وجود راغلي دي د تاريخ په اوږدو کي لويو امامانو، محدثينو، مشايخو او علماؤ په مستند ډول جواب کړيدي، مثلاً: د امام صاحب همعصره او د ده شاګرد لوی محدث عبدالله بن مبارک، د امام صاحب بل شاګرد د امام بخاري صاحب شيخ او لوی محدث ابراهيم مکي، هم د امام صاحب توصيف کړی دی او هم يې د هغه څخه دفاع کړېده، د احاديثو ناقدين او محدث حافظان امام ذهبي او امام ابن حجر عسقلاني هريو د امام صاحب په هکله ليکني او تألفات لري او د امام صاحب مناقب يې په ښه انداز ليکلي د، همدا ډول حافظ مولانا جلال الدين سيوطي په «تبيض الصحيفة» کي، حافظ امام ابن عبدالبر مالکي په «الانتقاء» کي، امام شعراني شافعي په «طبقات الکبری» کي، امام ابن حجر مکي شافعي په

«الخيرات الحسان» كي، سليمان عبد القوي الحنبلي په «افصاح» كي علامه مرتضى زبيدي په «جواهر المنيفة» كي معاصر عالم علامه زاهد كوثري په «تأنيب الخطيب» كي او داسي نورو ډيرو علماؤ په خپلو ليكونو او تأليفاتو كي د امام څخه هم دفاع كړېده او هم يې د ده مناقب په ښه انداز بيان كړيدي.

يو تعداد لويو امامانو او محدثينو خو دغه ملاحظات بلكل د سرخوږي وړ ندي بللي، د بيلګي په توګه شيخ الاسلام حافظ ابن تيمية او حافظ ابن كثير هم د امام صاحب د مذهب، علميت، او تقوا تأييد كوي او هم يې په نظرياتو او دلايلو استدلال كړی دی.

د مذهب تأييد پدې مانا چي د ده مذهب د اهل سنت د څلورو مشهورو مذهبونو څخه يو صحيح او پر حق مذهب بولي، كه په كومه مسئله كي اختلاف موجود وي هغه د يو اجتهادي او فرعي اختلاف په حيث تلقي كوي.

د هغه د علم او تقوی په هكله هم نوموړي امامان هر يو ډېري ليكني لري، د ساري په توګه لكه مخكي چي وويل سوه چي شيخ الاسلام ابن تيمية په مجوعة الفتاوی كي د امام صاحب يادونه په ښه انداز سره كړېده، او همدا رنګه حافظ ابن كثير هم په «البدايه و النهايه» كي د ۱۵۰ هجري كال د واقعاتو په مبحث كي د امام صاحب يادونه په ډېر ښه انداز سره كوي.

د امام صاحب په دلايلو او نظرياتو باندي د تمسک په هكله دومره ويل كافي دي چي شيخ الاسلام ابن تيمية د حضرت ابو هريرة – رضی الله تعال عنه – د فضيلت د ثبوت په باب د امام صاحب په قول استدلال كوي او وايي: «وَعَمِلَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ مَعَ الشَّافِعِيِّ وَأَحْمَدَ وَغَيْرِهِمَا بِحَدِيثِهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وسلّم " { مَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ } " مَعَ أَنَّ الْقِيَاسَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ، أَنَّهُ يُفْطِرُ، فَتَرَكَ الْقِيَاسَ لِحَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ . . . »

ترجمه: «ابو حنيفة رحمه الله، د شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله سره يوځای د ابو هريرة په روايت عمل کړی دی، لکه د عليه الصلاة و السلام دا حديث: [ که څوک په هيره سره خوراک يا څښاک وکړي نو خپله روژه دي پوره کړي په تحقيق سره ده ته الله تعالی خواړه او اوبه ورکړل] سره د هغه چي د ابيحنيفة په وړاندي قياس روژه ماتوي، خو قياس يې د ابي هريرة د حديث په خاطر پرېښود».

د امام صاحب په اقوالو سره د تمسک داسي مثالونه د نوموړو امامانو په ليکنو کي په زياته پيمانه مندل کيږي، او همدارنګه لکه څنګه چي وويل سوه چي دوی دواړ د امام صاحب مناقب په ډېر ښه انداز سره بيان کړيدي، خو د دې ترڅنګ بيا دغو دواړو امامانو چي د امام صاحب په هکله کوم ملاحظات سويدي هغه ته يې له سره توجه نده کړې، بلکل يې له نظره غورځولي او کالعدم يې ګڼلي دي. د دې خبري معنی داده چي دا ملاحظات بيخي په سرخوړي نه ارزي او تهول بې اساسه دي، بايد چي يو عاقل هيڅ توجه ورت ونکړي، مګر د عامه ذهنيت د روښانه کولو لپاره، لکه څنګه چي مخکي وويل سوه، ډېرو لوړو علماؤ، پرته له دې چي د ده د مذهب پيرو دي يا نه دي، په خپلو ليکونو کي د هغه - رحمه الله - څخه هم په کلکه دفاع کړې او هم يې د هغه مناقب په ښه انداز ليکلي دي.

د امام صاحب په هکله چي د ملاحظاتو کوم جوابونه ويل سويدي هغه په کتابو نو کي په تفصيل سره په مستند او مستدل ډول ذکر سويدي، او په دغه حاضر کتاب کي هم علامه حافظ مولانا محمد ذکريا کاندهلوي په مؤجز او رسا ډول ځای پر ځای ذکر کړيدي، کېدای سي چي هلته و کتل

سي، خو د بيلګي په توګه مو ږ دلته درې ملاحظات د جوابونو سره ذکر کوو. تر څو محترم ويونکي د همدغه کتاب د مطالعې په وخت کي د ملاحظاتو د جوابونو د اسلوب سره ښه اشنا وي.

د امام صاحب په هکله يوه ملاحظه هم د ايمان په اړوند ويل سوېده، د ايمان په اړوند ملاحظه او د هغه جواب څکه د لږ تفصيل سره ليکل کيږي چي د علامه مولانا محمد ذکريا کاندهلوی په حاضره په ليکنه کي د هغه زياد تفصيل ندی راغلی.

# د ایمان مبحث

د امام صاحب په هکله د ایمان د زیادت او نقصان ملاحظه او د هغه جواب.

یوه ملاحظه چي د ځینو مقاصدو پر اساس یا د نه توجه له امله د امام صاحب په شان کي سوبده هغه هم داده چي ګویا امام د مؤمنانو ترمنځ د ایمان په توپیر ندی قائل یاني په اصل کي امام صاحب د ایمان په زیادت او نقصان ندی قائل، یا دا چي امام صاحب عمل د ایمان جز نه بولي.

## د ایمان کمي او کیفي توپیر

دا د امام صاحب په شان کي د لویه سره تجاهل عارف دی، هغه دا چي د ایمان توپیر یاني د ایمان زیادت او نقصان په کوم لحاظ؟ په کیفي لحاظ که په کمي لحاظ؟ مثلاً که موږ ووایو چي د سهار او ماښام فرض لمونځ په ترتیب سره دوه او درې رکعته دی هیڅ زیادت او نقصان ورکي نسته؛ نه په سفر کي او نه په حضر کي، د دې دا مفهوم ندی چي د عوامو او د اولیاء الله لمونځونو سره یو شانتی دي او هیڅ توپیر نه سره لري، فرضاً که یو امي سړی چي زړه یې هم په دنیایي امورو ډېر مشغول وي د سهار لمونځ په معوذتینو سره ژر ژر اداء کوي، اداب او مستحبات خو پرېږده د سننو هم ډېر خیال نه ساتي، خشوع او خضوع ته هم ډېره توجه نکوي، مګر بالعکس یو متقي ولی الله بیا همدغه د سهار لمونځ په مسنونه قراءت سره په پوره خشوع او خضوع اداء کوي، سنن خو پوره اداء کوي بلکه د مستحباتو او آدابو هم پوره خیال ساتي، اوس نو تاسو پخپله د

دغه دوؤ لمونځو تر منځ مقايسه وکړئ، آيا تر دغه قاعده لاندي (چي د سهاره لمونځ که په سفر کي وي که په حضر کي هيڅ زيادت او نقصان نه قبلوي) دغه دواړه لمونځونه سره يوشي بلل کېداى سي؟ او که په حقيقت کي دوهم لمونځ چي هم د اوږدوالي په لحاظ اوږد وؤ او هم يې د سننو، مستحباتو، آدابو، خشوع او خضوع پوره اهتمام سوى دى نسبت و اول لمانځه ته هم ډېر فضيلت او وزون لري او هم يې په معنوي لحاظ مقام ډېر اوچت دى. اوس دلته ګورو چي د کميت په لحاظ خو يو نفر هم د سهار لمونځ اداء کړ او بل نفر هم، مګر د کيفيت په لحاظ دواړه لمونځونه د ځمکي تر اسمانه فرق لري[1]. ايمان هم په عين شکل و ګڼه، هغه په دې لحاظ چي د هر چا چي ايمان صحت و مومي بس په دغه وسيله دى د اسلام په کړۍ کي شامل سو، د نورو ټولو مسلمانانو په شان اوس پر ده د يو مسلمان اطلاق کيږي او په دې وسيله ده د الله پاک و دربار ته ليار ومندل، اوس نو دا پر ده باندي ده چي د عمل او تقوا په وسيله ځان د الله پاک په دربار کي و عالي مدارجو ته رسوي او که العياذ بالله د غفلت له مخي خپل ايمان بيرته په خطر کي اچوي.

د کميت په لحاظ هم د امام صاحب په وړاندي ټول مؤمنان، په دې لحاظ چي هر يو مؤمن د يوه صحيح ايمان څښتن دى، سره يو شان دي، ځکه چي که په ايمان کي خلل او ضرر وارد سي نو بيا خو د عمل په قبول کي اشکال واردېږي، او دا هم په اتفاق سره منل سوېده چي د شهادتينو په ويلو سره هر څوک د دې جوګه کيږي چي عمل يې د قبول وړ وګرځي. او داهم په اتفاق سره منل سوېده چي په تلپاتي او مستمر شکل په ترک د اوامر او

---

[1]: فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۴۲۳ د مؤلف قو

اختيار د نواهيو ايمان صدق نسي مونډلای، خو په هر صورت د کيفيت له مخي د امام صاحب په وړاندي د مؤمنانو ايمان يو له بله توپير سره لري، لکه چي په «فتح الملهم شرح المسلم» اول جلد ۴۲۸مه صفحه کي د «احياء العلوم» د شارح علامه زبيدي په حواله د امام صاحب دا قول رانقل سوی دی: «اقول ايماني کايمان جبريل، و لا اقول: مثل ايمان جبريل».

**د ايمان د زيادت او نقصان په هکله اختلاف د ټولو علماؤ په نزد صرف يو لفظي اختلاف دی:**

د ايمان په هکله خو څو قوله په په کتابونو کي راغلي دي، اما دوه قوله د اهل السنة و الجماعة تر منځ مشهور دي چي هغه دواړه قوله په اتفاق د ائمه ؤ د يو ثابت نص پر اساس ويل سويدي، په دې لحاظ هيڅ يو قول د دې باعث نه ګرځي چي پر قايل دې طعن وارد سي، بلکه اصلاً دلته اختلاف لفظي بڼه لري، لکه شيخ الاسلام ابن تيمية چي په «مجموعة الفتاوى» کي، ابن عاشور په تفسير «التحرير و التنوير» کي، د الهي ارشاد «فزادهم ايماناً» په تفسير کي، ابن عطية هم د نوموړي مبارک ارشاد په تفسير کي، استاد دکتور موسی شاهين لاشين په «فتح المنعم شرح المسلم» کتاب الايمان صفحه ۲۸ کي د ابن حجر په حواله، ابن ابی عز الحنفي په «شرح العقيده الطحاويه» صفحه ۲۴۳ کي او مولانا شبير احمد عثماني په «فتح الملهم شرح المسلم» کتاب الايمان کي د يو لړ مشهورو امامانو په حواله ويلي دي، مثلاً وروستی مرجع د شيخ الاسلام ابن تيمية دا قول رانقل کړی دی: «په دغه کي ډېر اختلاف لفظي دی، هو! هغه حق لفظ چي مطابق د کتاب او سنت دی، ځکه خو د هيچا لپاره دا نسته چي د هغه په خلاف څه ووايي.» لکه چي وايي: «فان کثيراً من

النزاع فيها لفظي. نعم! اللفظ المطابق للكتاب و السنة هو الصواب. فليس لاحد ان يقول بخلافه[1]».

او بيا هم حافظ ابن تيمية وايي: « وَلَكِنْ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ بِعِبَادِهِ الْمُسْلِمِينَ أَنَّ الْأَئِمَّةَ الَّذِينَ لَهُمْ فِي الْأُمَّةِ لِسَانُ صِدْقٍ مِثْلَ الْأَئِمَّةِ الْأَرْبَعَةِ وَغَيْرِهِمْ كَمَالِكٍ وَالثَّوْرِيِّ والأوزاعي وَاللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ وَكَالشَّافِعِيِّ وَأَحْمد وَإِسْحَاقَ وَأَبِي عُبَيْدٍ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ؛ كَانُوا يُنْكِرُونَ عَلَى أَهْلِ الْكَلَامِ مِنْ الجهمية قَوْلَهُمْ فِي الْقُرْآنِ وَالْإِيمَانِ وَصِفَاتِ الرَّبِّ وَكَانُوا مُتَّفِقِينَ عَلَى مَا كَانَ عَلَيْهِ السَّلَفُ مِنْ أَنَّ اللَّهَ يُرَى فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللهِ غَيْرُ مَخْلُوقٍ وَأَنَّ الْإِيمَانَ لَا بُدَّ فِيهِ مِنْ تَصْدِيقِ الْقَلْبِ وَاللِّسَانِ فَلَوْ شَتَمَ اللهَ وَرَسُولَهُ كَانَ كَافِرًا بَاطِنًا وَظَاهِرًا عِنْدَهُمْ كُلِّهِمْ.[2]»

ترجمه: «لکن د الله د رحمت څخه پر مسلمانو بنده ګانو باندي په يقين سره امامان دي، هغه کسان چي دوی لره په امت کي د ريښتنولی ژبه وه مثلاً څلور وارِ امامان او نور لکه مالک، ثوري، اوزاعي، ليث بن سعد، او لکه شافعي، احمد، اسحاق، ابي عبيد او ابيحنيفة او ابی يوسف او محمد رحمة الله عليهم؛ دوی تهولو د قرآن، ايمان او د رب د صفاتو اړوند د جهمية له جملې نه د اهل کلام قول رد کړی دی، او دوی سره متفق پر هغه څه دي چي سلف ورباندي وه، له هغه جملې څخه دادی چي الله په آخرة کي ليدل کيږي، او په يقين سره قرآن د الله کلام دی مخلوق ندی، او د ايمان په هکله د زړه او ژبي له تصديق څخه چاره نسته، که څوک الله او د هغه رسول ته د بدو نسبت وکړي هغه په باطن او ظاهر کافر دي، د دوی تهولو په نزد همداسي ده».

[1]: فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۴۲۰ د حافظ ابن تيمية قول.

[2]: مجوعة الفتاوی، ج: ۲ ص: ۱۳۴

تاسو وینی چي شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه نه یوازي دا چي د ایمان په هکله د امامانو تر منځ اختلاف ته اشاره نه کوي بلکه دا د الله رحمت بولي چي دوی په اعتقادي مسائلو کي خاص بیا په ایمان کي ټول سره یوشی دی او په عقیده وي مسائلو کي ټول د صالح سلفو په شان سره متفق دي.

ابن عاشور هم په «التحریر و التنویر» کي دا یو لفظي اختلاف بللی دی،لکه څنګه چي د الهي ارشاد «فزادهم ایماناً» په تفسیر کي لیکي:

«فالظاهر ان الایمان اطلق هنا علی العمل، ای العزم علی النصر و الجهد، و هو بهذ المعنی یزید و ینقص. و مسألة زیادة الایمان و نقصه مسألة قدیمة، والخلاف فیها مبنی علی ان الاعمال یطلق علیها اسم الایمان، کما قال الله تعالی: [و ما کان الله لیضع ایمانكمُ البقرة ۱۴۳] یعني صلاتکم. اما التصدیق القلبي و هو عند القلب علی اثبات وجود الله و صفاته و بعثة الرسل و صدق الرسل. فلا یقبل النقص، و لایقبل الزیادة. و لذالك لاخلاف بین المسلمین في هذ المعنی، وانّما هو خلاف مبنی علی اللفظ. غیر أنّه قد تقرّر في علم الأخلاق أن الاعتقاد الجازم إذا تکررت أدلّته، أو طال زمانه، أو قارنته التجارب، یزداد جلاء وانکشافاً. وهو المعبّر عنه بالملكة. فلعلّ هذا المعنی ممّا یراد بالزیادة. بقرینة أن القرآن لم یطلق وصف النقص في الإیمان بل ما ذکر إلا الزیادة. وقد قال إبراهیمُ علیه السلام: { بلی ولکن لیطمئنّ قلبيُ البقرة: ۲۶۰ }

ترجمه: « ظاهراً خو دلته د ایمان اطلاق پر عمل سوی دی، یعنی اراده پر نصرت او هاند باندي، او دا (ایمان) په دغه مانا سره زیادت او کمبود قبلوي، د ایمان د زیادت او کمبود مسئله پخوانی مسئله ده، او په دغه کي اختلاف له دې جهته دی چي کله کله پر اعمالو باندي د ایمان د نوم اطلاق کیږي، لکه څنګه الله تعالی وایي: [او الله داسي ندی چي ستاسي

:يمان دي ضائع کړي] ياني لمونځ ستاسي. هر څه چي د زړه تصديق دی هغه د زړه عقد دی پر اثبات د الله د وجود او د هغه پر صفاتو او د رسولانو پر رسالت او رسولانو پر ريشتنولی، څکه خو نه کمبود قبلوي او نه زيادت، او په همدغه شکل په دغه معنی کي د مسلمانانو تر منځ اختلاف نسته، او هرڅه چي اختلاف دی په يقين سره هغه پر لفظ باندي بناء دی، مګر حقيقتاً په علم اخلاق کي دا ثابته سوېده چي ټينګ اعتقاد چي هرکله د هغه دلائل مکرر سي او يا يې زمانه اوږده سي، او يا ازمويني سره نژدې سي، د هغه ځلا د انکشاف له مخي زيادت کوي، او له هغه څخه په «مَلَکَه» سره هم يادونه سوېده، امکان لري چي دا هغه مانا وي چي په زيادت تعبير ورڅخه سوی دي، قرينه يې هم داده چي په يقين سره قرآن د ايمان د نقص پر صفت باندي اطلاق ندی کړی بلکه (نقص) يې هيڅ ندی ياد کړی مګر زيادت يې (ياد کړی دی)، او په يقين سره ابراهيم عليه السلام ويلي دي: [ولي نه! بلکه د دې لپاره چي زړه مي ارام ونيسي]».

تاسو وينئ چي ابن عاشور، په دې دليل چي په قرآن کي د ايمان د «نقص» صفت هيڅ ندی راغلی، څکه خو يوازي په ايمان کي زيادت مني او وايي چي د ايمان زيادت په زړه کي د ايمان د ځلا انکشاف ياني ډېر والی دی، چي په «مَلَکَه» سره هم تعبير ورڅخه کېدای سي، او يا د ايمان زيادت همدا د زړه آرام او اطمنان دی لکه ابراهيم عليه السلام چي يې د الله تعالی څخه غوښتنه کوله.

د ايمان په هکله دواړه مشهور قوله د نورو اقوالو سره يو ځای د «فتح الملهم شرح المسلم» او «فتح المنعم شرح المسلم» په کتاب الايمان کي د هر يوه د مربوطه دلايلو سره ذکر سويدي، د زيات تفصيل لپاره دي هلته

مراجعه وسي. خو موږ دلته د نومړو مراجعو نه په اقتباس و هر يوه ته صرف يو ځغلنده کتنه کوو:

### د اهل السنة و الجماعة و دوه مشهور قولونو ته ځغلنده کتنه

د ايمان په هکله يو قول وايي چي ايمان عبارت د تصديق قلبي او اقرار لساني څخه دی، او بل قول وايي چي ايمان عبارت د تصديق قلبي، اقرار لساني او عمل په جوارحو سره دی[1]، اول قول د احنافو او جمهور فقهاؤ دی او دوهم قول د اکثر محدثينو دی[2].

اوس د دغه دواړو اقوالو ترمنځ و رابطې او تړاو ته لنډ شاني نظر اچوو:

اول قول وايي:

چي د «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٢٧٧[3]»

ترجمه: «بېشکه هغه کسان چي دوی ايمان راوړی دی نېک عمل کوي او لمونځ ادا کوي او زکاة ورکوي دوی ته اجر د دوی د رب په وړاندي ستنه او هيڅ وېره پر دوی باندي نسته او نه به دوی غمګين سي.» او د جبريل عليه السلام د مشهور حديث د ظاهري نص او داسي نورو زياتو دلايلو په اساس ايمان ځانته دی، او اسلام چي عبارت د عمل څخه دی ځانته[4].

اما يو له بله داسي سره تړلي او مرتبط دي چي عمل بېله ايمانه صحت نلري او ايمان بېله عمله صدق نه مومي، ځکه چي عمل په جوارحو د زړه د

[1]: فتح المنعم، ج:١، ص:٢٨

[2]: فتح المنعم، ج:١، ص: ٤٣

[3]: البقرة: ٢٧٧

[4]: فتح المنعم، ج:١، ص: ٣٠، سطر: ١١

تصديق سره لازم او جز د ايمان دى[1]، او د ايمان او اسلام نسبت داسي دى لكه د نس نسبت و ملا ته او د ملا نسبت و نس ته، اهل كبائر فاسقين بولي، وايي: دوام او استمرار پر ترک د اوامر او پر فعل د نواهيو ايمان ته زيان او خدشه رسوي، فاسقين د اور مستحق ګڼي خو د همېش لپاره نه، ياني مخلد فى النار يې نه بولي[2]. او بل دا چي شيخ الاسلام حافظ ابن تيمية هم د صالح سلفو په متابعت د ايمان لپاره د تصديق قلبي او اقرار لساني څخه چاره نه ويني لكه چي وايي: «وأن الايمان لابد فيه من تصديق القلب واللسان»[3].

په دوهم قول کي څرنګه چي موږ ملاحظه نړو ځکه خو يې د دلائلو څخه هم تيريږو، او اول قول چي موږ يې د دوهم قول په شاني صحيح بولو او هغه هم د خپل نظر د اثبات لپاره خورا ډېر متواتر دلايل لري د مثال په توګه يې دلته ستاسو په مخکي يو يا دوه دلائل ايږدو:

قال الله تبارک و تعالى في القرآن العظيم: «ولما يدخل الايمان في قلوبهم». و قال النبي صلى الله عليه و سلم: «الايمان ان تؤمن بالله وملئكته و كتبه و رسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره». اخرجه مسلم عن ابن عمر و عليه جمهور اهل السنة»[4].

او د سعودي عربستان د حج، اوقافو، ارشاد او اسلامي شئونو وزير الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد ال الشيخ هم د قرآن او حديث د

---

[1]: شرح العقيدة الطحاوية لابن ابى عز : ص: ٢٤٣

[2]: الشرح الميسر على الفقهين الاكبر و الابسط: ص: ١٠، الفتح الملهم، ج: ١، ص: ٤٠٤، د امام غزالي او علامه زبيدي اقوال.

[3]: مجموعة الفتاوى، ج: ٢، ص: ١٣٤

[4]: تأنيب الخطيب، ص: ٩٠

صريح نصوصو پر اساس همدغه تعريف د ايمان لپاره غوره کړی دی لکه چي وايي:

«وقد دلت نصوص الكتاب والسنة على أن الإيمان يقوم على الأصول الستة، وهي: الإيمان بالله، وملائكته، وكتبه، ورسله، واليوم الآخر، والقدر خيره وشره، وقد جاء ذكر هذه الأصول في القرآن الكريم والسنة النبوية في مواطن عديدة، منها:

١ قوله تعالى: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي } { نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا } (النساء: ١٣٦).

٢ وقوله تعالى: { لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ } (البقرة: ١٧٧).

٣ وقوله تعالى: { آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ } (البقرة: ٢٨٥).

٤ وقوله تعالى: { إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ } (القمر: ٤٩).

٥ وثبت في صحيح مسلم من حديث عمر بن الخطاب المشهور بحديث جبريل « أن جبريل سأل النبي صلى الله عليه وسلم فقال: أخبرني عن الإيمان، قال: ( أن تؤمن بالله، وملائكته، وكتبه، ورسله، واليوم الآخر، وتؤمن بالقدر خيره وشره » (١).

او وروسته اضافه کوي او وايي چي دغه شپږ اساسي اصول دي چي ايمان ورباندي ولاړ دی، يوله بله سره تړلي لازم او ملزوم دي، ځيني يې له ځينو څخه نه جلا کيږي، په ځينو سره ايمان د نورو پاته په ايمان سره

---

(١) صحيح مسلم، حديث شميره: ١

حتمي دی، په ځينو سره کفر په پاته نورو سره هم کفر دی، لکه چي وايي:
«فهذه أصول ستة عظيمة يقوم عليها الإيمان ، بل لا إيمان لأحد إلا بالإيمان بها ، وهي أصول مترابطة متلازمة ، لا ينفك بعضها عن بعض ، فالإيمان ببعضها مستلزم للإيمان بباقيها ، والكفر ببعضها كفر بباقيها»[١].
دوهم قول چي ايمان عبارت له تصديق، اقرار او عمل څخه بولي وايي: ايمان او اسلام چي هر يو ځانته ذکر سي نو فرق نه سره لري، او که دواړه يوځای سره ذکر سي نو بيا ايمان ځانته دی او اسلام ځانته، وايي چي مثال يې داسي دی لکه د فقير او مسکين، چي سره يوځای سي سره جلا سي او چي سره جلا سي نو بيا يو په بل کي تداخل سره لري[٢].
دوهم قول سره دهغه چي عمل د ايمان جز بولي خو د عمل په نيستي کېدلو سره کفر نه وايي، يعنی اهل کبائر کافران نه بولي، بلکه د اول قول په شاني اهل کبائر فاسقين بولي، او د اول قول په شاني د اهل کبائر په هکله وايي: د اصحابو، تابعينو او ټولو امامانو په اتفاق څوک چي د يوه ذره ايمان سره له دنيا نه تللی وي د تل لپاره د اور مستحق نه ګڼل کيږي، او ورپسي وايي: په متفق عليه ډول دا ثابته ده چي د هغه چا په هکله چي د الله تعالی له پلوه اذن وسي د هغه شفاعت به رسول کريم صلی الله عليه و سلم کوي، او دا بېله استثنا د ټول امت متفق عليه عقيده ده[٣]. دوهم قول په ايمان کي تصديق او اقرار اصل بولي او عمل فرعه، هغه دا رنګه چي د عمل په نيستي کېدو سره ايمان د تصديق او اقرار په اساس پر خپل

---

[١]: اصول الايمان فی ضوؤ الكتاب و السنة، ج: ١، ص: ١٢

[٢]: فتح الملهم، ج: ١، ص: ٤٠۶، د ابن ابز ذئب قول.

[٣]: فتح الملهم، ج: ١، ص: ٤٠٧، د شيخ الاسلام حافظ ابن تيمية قول.

ځای پا ته دی او بې له تصدیق او اقرار څخه عمل حبطه دی یعني صحت نلري[1].

تبصره: هیره دي نه وي چي معتزله او خوارج هم عمل د ایمان جز بولي، خو فرق پکي دادی چي خوارج اهل المعاصي کافران بولي او معتزله اهل المعاصي مسلمانان هم نه بولي او کافران یې هم نه بولي. خو دواړه اهل المعاصي د همېش لپاره داخل په اور کي بولي، دغه نظر په خاص ډول د پخپله د وهم قول سره او په عام ډول د ټول اهل السنة و الجماعة سره ډېر توپیر لري یاني ورسره په تضاد کي دي. په دغه هکله د پوره تفصیل لپاره و ګورئ: فتح المنعم، کتاب الایمان، صفحه: ۲۸.

د دغه په ادامه کي د فتح الملهم مؤلف وایي: زه وایم ایمان لکه روح داسي دي اسلام لکه بدن. ایمان حقیقت دی او اسلام صورت. ایمان اصل دی او اسلام فرعه.

که د اقوالو تر منځ تړاو (ارتباط) ته لږ ځیرنه وسي نو دا به بلکل جوته سي چي د اقوالو تر منځ اختلاف کلي ندی بلکه فرعي دی، او د دواړو طرفو دلایل قرآني او د نبوي سنت اساس تشکیلوي.

**واول قول ته ځیرنه**

۱: لمړی به اول قول ته لږ ځیرنه وکړو، هغه چي عمل په ایمان کي داخل نه بولي خو عمل د ایمان څخه جدا او خارج هم نه بولي، هغه په داسي ډول چي د امام صاحب په مذهب کي د فرائضو فرضیت او د نواهیو حرمت د «مؤمن به» شیانو څخه دی او انکاریې کفر دی چي په دې لحاظ عمل د ایمان جز ګڼل کیږي، او بل دا چي ایمانه بېله عمل صدق او ثبوت نسي

[1]: فتح المنعم، ج: ۱، ص: ۲۹

منډلای، او د امام صاحب په مذهب کې په اتفاق سره دا یو منل سوی حقیقت دی چې عمل و عالي درجاتو ته د رسېدلو سبب دی، دا پخپله پر دې صریح دلالت کوي چې عمل د ایمان د قوت اساس تشکیلوي، خاص بیا که د امام صاحب و شخصي ژوند ته وکتل سي نو د یو سلیم عقل لپاره به دا بلکل عجیبه خبره وي چې امام صاحب و عمل ته په ایمان دخل نه ورکوي، ځکه د ده قیام اللیل، تهجد او تعبد د امام ذهبي په قول په تواتر ثابت سوی دی لکه چې وایي: «قد تواتر قیام اللیل و تهجده و تعبده»[1]، او همدا ډول په تواتر ثابته سوېده چې امام صاحب څلوېښت کاله د شپې په اوداسه د سهار لمونځ ګذارلی دی، او پر کوم ځای چې دی وفات سوی دی پر هغه ځای یې زښته زیات د قرآن عظیم الشان ختمونه کړیدي، او هره شپه یې تضرع او زاري د الله و پاک و دربارته دومره ډېره وه چې د علامه حافظ ابن کثیر په قول همسایه ګانو به د ده پر حال ترحم کاوه[2]، خلص دا چې د ده زیات زهد، تقوا، تورع او هم زیات عبادت په تواتر سره ثابت او اظهر من الشمس دی، دا ټول د څه لپاره؟ دا ټول د یو قوي ایمان له مخې د الله جلّ جلاله په دربار کې د عالي درجاتو د حصول لپاره وه، اصلا خبره داده چې امام صاحب – رضی الله تعالی عنه – پره دغه باندې چې عمل د ایمان څخه دی سکوت اقراري کړی دی، یوازې سکوت اقراري نه بلکه هغه رحمه الله تعالی هغه حدیث چې وایي: «هجرت او جهاد د ایمان څخه دي» او حماد بن زید ده ته وړ وړاندې کړی وو د هغه یې قولاً تأید هم کړی دی هیڅ ملاحظه او تأویل یې ندی ورکړی ویلی،

---

[1]: مناقب ابیحنیفة و صاحبیه، ص: ۲۰

[2]: البدایه و النهایه: ج: ۱۰، ص: ۱۱۵

لکه ابن ابي عز چي په «شرح الطحاوية في العقيدة السلفية» دوهم جلد ۳۲۸مه صفحه کي وايي:

« و قد حكى الطحاوي حكاية ابيحنيفة مع حماد بن زيد، و أنَّ حماد بن زيد لما روى له حديث: [اى اسلام افضل] الى آخره، قال له: ألا تراه يقول: [اى الاسلام افضل، قال: الايمان] ثم جعل الهجرة و الجهاد من الايمان؟ فسكت ابوحنيفة. فقال له بعض اصحابه: ألا تجيبه يا اباحنيفة؟ قال: بما أجيبه؟ و هو يحدثني بهذا عن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم.»

تاسو وينئ چي لمړی خو امام صاحب د حديث په اورېدلو سره سکوت اقراري وکړ، کله چي د هغه څخه دا غوښتنه وسوه چي اظهار د جواب و کړي، امام صاحب په جواب کي ورته وويل: «بما أجيبه؟ و هو يحدثني بهذا عن رسول الله صلى الله تعالى عليه و سلم». له دې نه د لمر غوندي صفا ښکارېږي چي امام صاحب ايمان د عمل څخه مستغني نه بولي او نه عمل د ايمان څخه خارج بولي، فقط په تعريف کي به د الفاظو له مخي څه فرق وي، چي هغه الفاظ هم، لکه مخکي چي وويل سوه، د شيخ الاسلام حافظ ابن تيمية په قول د کتاب او سنتو مطابق دي.

مهمه خو لا داده جي علامه حافظ ابن کثير چي ايمان عبارت له تصديق قول او عمل څخه بولي يعني عمل د ايمان جز بولي امام صاحب په ډېر ښه القابو يادوي لکه چي وايي: «هو: الامام ابوحنيفة، واسمه: النعمان بن ثابت التيمي، مولا هم الكوفي. فقيه العراق، و أحد أئمة الاسلام، والسادة الاعلام، وأحد أركان العلماء، و أحد الائمة الاربعة اصحاب المذاهب المتنوعة. و هو اقدمهم وفاة، أنه

أدرك عصر الصحابة و رأى أنس بن مالك[١].» او ورپسې د امام بخاري د شيخ الشيخ او لوی محدث يحيى سعيد القطان قول رانقل کوي چي ويل يې: «موږ د الله په وړاندي دروغ نه وايو! موږ د ابيحنيفة تر رأيي ښه رأيه نده اورېدلې، او موږ اکثراً د ده په اقوالو سره عمل کوؤ.» لکه چي وايي:

«وقد كان يحيى بن سعيد يختار قوله في الفتوى، و كان يحي يقول: لانكذب الله! ما سمعنا أحسن من رأي أبيحنيفة، وقد أخذنا بأكثر اقواله[٢].» او همدا ډول شيخ الاسلام ابن تيمية چي هم ايمان عبارت له تصديق قول او عمل څخه بولي په «منهاج السنة» کي د امام صاحب يادونه د نورو لويو محدثينو په لړ کي څو ځايه په لوړ شان سره کړېده[٣]، همدا ډول ابوغدة د «موطاء مالک براوية محمد» د اول جلد په ٧ صفحه کي د «تهذيب التهذيب» او «تذکرة الحفاظ» په حواله د يحيى بن معين څخه روايت کوي او وايي چي يحيى بن معين به ويل: «ما تر وکيع بن جراح بهتر ندی ليد لی، ډېر لمونځونه يې کول احاديث به يې حفظ کول، تهجد به يې کاوه او د ابو حنيفة رحمه الله په قول به يې فتوی ورکوله»، د امام المجدد شيخ محمد بن عبدالوهاب د عقيدې تعريف به هم درته راسي چي هغه خپله عقيده د امام صاحب، اصحابو کرامو، تابعينو او نورو امامانو عقيده په يوه کټګوري کي شمېرلې ده، له دغه مشايخو نه يکي يوه هم د امام صاحب په شان کي ملاحظه نده کړې، دا ځکه چي دوی ټولو ته د ځېړونو او

---

[١]: البداية والنهاية، ج: ١٠، ص: ١١٥

[٢]: مخکني مرجع.

[٣]: منهاج السنة، جلد: ٣، صفحات: ١٤٧ و ١٦٨، او جلد: ٤، ص: ٧٧، طبع بولاق، سنة: ١٣٤٢، د «مكانة الامام ابيحنيفة في الحديث» په حواله.

تحقیقاتو له مخي ثابته سوېده چي اختلاف جزئي دی، او بل داچي امام صاحب په دغه قول کي مسبوق دی، ياني له ده نه مخکي د قرآن او سنتو پر اساس له لوړ پوړ اصحابو او تابعينو ځخه هم داسي اقوال رانقل سويدي، لکه شيخ الاسلام ابن تيمية چي په «مجموعة الفتاوی» کي اشاره ورته کړېده او وايي: «وَهَؤُلَاءِ الْمَعْرُوفُونَ مِثْلُ حَمَّادِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَغَيْرِهِمَا مِنْ فُقَهَاءِ الْكُوفَةِ كَانُوا يَجْعَلُونَ قَوْلَ اللِّسَانِ ؛ وَاعْتِقَادَ الْقَلْبِ مِنْ الْإِيمَانِ ؛ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي مُحَمَّدِ بْنِ كُلَّابٍ[1] وَأَمْثَالِهِ»[2]. بناءاً له دغه ټولو اقوالو نه بلکل دا جوته ده چي په همدغه مورد کي د امام صاحب د قول د پوهاوي په هکله يا خو د تساهل ځخه کار اخستل سوی دی او يا که د امام صاحب په قول کي کومه غير مناسبه ملاحظ کيږي هغه به بناء پر غرض د امام صاحب په شان کي تجاهل عارف وي.

## و دوهم قول ته ځیرنه

هيره مو نسي چي زموږ د بحث ادامه د دواړو اقوالو و تړاو ته ځيرنه وه، او اوس به بيرته د دواړو اقوالو د تړاو په لړ کي و دوهم قول ته لږ ځيرنه وکړو؛ هغه قول چي عمل د ايمان جز بولي بېله عمله هم ايمان صحيح او موجود بولي، يعني که ځوک، العياذ بالله، د الله او د هغه د رسول په هکله لږ غوندي مشکوک وي هغه کافر دی او هيڅ عمل يې صحيح او قابل د قبول ندی، خو بالعکس د (لااله الا الله) د کليمې په ويلو سره بيا ځوک مسلمان دی، اهل کبائر مخلد په نار کي نه بولي؛ لکه مخکي چي وويل سوه، د دغه قول پر اساس تصديق او اقرار په ايمان کي اصل دی او عمل

---

[1]: عبدة بن سليمان الكُلابي ابو محمد الكوفي يقال: اسمه عبد الرحمن، رواه التهذيبين.

[2]: مجموعة الفتاوی، ج: ٢، ص: ١٥٥

فرعه، يعني عمل د ايمان جز بولي نه عين ايمان، لكه امام بخاري - رحمة الله تعالى عليه چي وايي:

«ان الايمان قول و عمل يزيد و ينقص، أن الصلاة و الصيام من الايمان، و أن التطوع الرمضان من الايمان، و أن الحياء من الايمان [1]».

ترجمه: «ايمان قول او عمل دی، زيادت او نقصان كوي، او په يقين سره لمونځ او روژه د ايمان څخه دي، او په يقين سره د روژې نفلونه د ايمان څخه دي، او په يقين سره حياء د ايمان څخه ده.» تاسو ګورئ چي كه دلته د عمل څخه مراد د هغه قبلول په ايمان سره وي نو دا خو دا د امام صاحب په نزد هم د فرائضو فرضيت او د نواهيو حرمت د «مؤمن به» شيانو څخه دي چي انكار ور څخه كفر دی، او كه د عمل څخه مراد فعل سي نو په دې لحاظ خو بيا فعل ده همدغه عبارت له مخي سره متفاوت دی، مثلاً كه يو څوك يو فرض لمونځ د عقيدې له مخي پرېږدي هغه په اتفاق سره بلا شك او شبهه كافر دی، او كه يو څوك د غفلت له مخي فرض لمونځ پرېږدي بيا هم هغه په اتفاق سره فاسق دی د كافر حكم نه ورباندي كيږي، لكه شيخ الاسلام ابن تيمية چي وايي:

« أَنَّهُ لَا يَكْفُرُ بِتَرْكِ شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ مَعَ الْإِقْرَارِ بِالْوُجُوبِ وَهَذَا هُوَ الْمَشْهُورُ عِنْدَ كَثِيرٍ مِنْ الْفُقَهَاءِ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي حَنِيفَةَ وَمَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ وَهُوَ إحْدَى الرِّوَايَاتِ عَنْ أَحْمَد اخْتَارَهَا ابْنُ بَطَّةَ وَغَيْرُهُ [2]».

او بل دا چي دلته د عمل د تشريح لپاره «من» تبعضيه كارول سوی دی چي صفا ور څخه ښكاري چي د ځينو اعمالو په نفي كېدو سره ايمان هيڅ

---

[1]: فتح الملهم، ج: ١، ص: ٤٢٧

[2]: مجموعة الفتاوا، ج: ٢، ص: ١٥٩

نه متضرر کیږي، خو د هماغه عمل په تحمیل سره فاعل د عالي درجاتو صاحب ګرځي. فرضاً که څوک په روژه کي تطوع ونکړي هغه په اتفاق سره کامل مؤمن دی او ایمان یې هیڅ ندی متضرر، او که یو څوک په روژه کي نفلات ادا کړي بیا هم په اتفاق سره د هغه درجې زیاتیږي. او دا چي فرمایي: «یزید و ینقص» دا خو یو جوت حقیقت دی چي له دغه څخه تعدد او کمیت ندی مراد، ځکه چي هر مؤمن د یوه ایمان خاوند دی، او نه هم له دغه څخه مراد په مؤمن به شیانو کي تزئید او تنقیص دی، مثلاً، د ماښام لمونځ چي درې رکعته دی، هیڅ چا لره دا نسته چي هغه دي چي څلور یا دوه رکعته و بولي، یعني و لو که څوک د ماښام د لمانځه فرضیت ومني خو صرف په هغه کي تزئید یا تنقیص ووایي په اتفاق سره مؤمن نه بلل کیږي، مطلب دا چي د ماښام د لمانځه د فرضیت منل چي یو د ایمان د اصلي اجزاؤ څخه دی په هغه کي هم په اتفاق سره تزئید او تنقیص نسي راتلای نو په ایمان کي خو د کمیت په اساس د تعدد له مخي تزئید له سره متصور کېدای نسي، او د ایمان د تزئید او تنقیص څخه مردا د ایمان ضعف او قوت دی لکه په حدیث شریف چي راغلي دي:

«من رأی منکم مُنکَراً فلیُغَیِّرهُ بیدِهِ فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع فبقلبه و ذالك اضعف الایمان [1]».

ترجمه: «هر څوک چي له تاسو څخه منکر (ممنوع کار) ووینی هغه دي په لاس سره منع کړي، که یې طاقت نه وؤ په ژبه سره دي منع کړي، او که یې طاقت نه وؤ په زړه کي دي نفرت ورڅخه وکړي، دا نو هغه ضعیف ایمان

[1]: مسلم، ج: ۱، ص: ۱۶۷

دی». امام نووي هم د ایمان د زیادت څخه د ایمان په قوت تعبیر کړی دی، لکه چي وایي:

«وقال النووي: الاظهر والله اعلم أن نفس التصديق يزيد و ينقص بكثرة النظر و تظاهر الأدلة، و لهذا يكون ايمان الصديقين اقوى من ايمان غيرهم بحيث لا تعتريهم الشبه، و لا يتزلزل ايمانهم بعارض»

ترجمه: «نووي ویلي دي: ډېره ښکاره خبره داده – الله ښه پوهېږي – چي په ډېرو لیدلو او د دلائلو په را برسېره کېدو لو سره خپله تصدیق زیادت او کمبود کوي، په همدغه لحاظ د صدیقینو ایمان د نورو تر ایمان ډېر قوي دی په داسي ډول سره چي دوی شبه نه ښکوي، او نه په پېښه سره د دوی ایمان متزلزل کېږي». او بل داچي مولانا شبیر احمد عثماني په «فتح الملهم» اول جلد ۴۲۴ مه صفحه کي له ډېرو لیارو دا روایت رانقل کړی دی او وایي: «ایمان په زړه کي د یو سپین ټکي په شان پیل کېږي، کله چي ایمان ډېرېږي دا سپین ټکی هم ور سره لوییږي، د ایمان په تکمیلېدو سره ټول زړه سپین سي.» تاسي ګورئ چي مراد هغه واحد سپین والی دی که یو ټکی وي او که ټول زړه ونیسي، او بل مثال هم هغه مخکنی د سهار د لمانځه مثال دی، چي د کمیت له مخي خو امي هم یو د سهار لمونځ و ګذارئ او متقي ولی الله هم یو د سهار لمونځ ګذارلی دی، اما د کیفیت له مخي د متقي ولی الله لمونځ چي په اوږده قراءت سره یې اداء کړی دی د سننو، مستحباتو، ادابو، خضوع او خشوع هم پوره اهتمام ورکي سوی دی د هغه بل لمانځه سره د ځمکي تر آسمانه توپیر لري، یاني د متقي ولی الله لمونځ هم په صوري لحاظ اوږد دی او هم په معنوي لحاظ درونډ او وزین بلل کېدای سي.

### د څېړنې نتیجه

له پورته بیان نه دا پته لګیږي چي د دواړو قولینو تر منځ توپیر څومره دی؟ یعني اصلاً هیڅ توپیر وجودنلري! فقط توپیر د تعبیر له مخي دی، کېدای سي چي کله کله په یوه موضوع کي د علمي اسلوب او میتود له مخي د یو چا تعبیر دومره لوړ او عالي وي چي و هر چاته یې فهم مشکل وي. مولانا شبیر احمد عثماني وايي چي ممکن د خوارجو او معتزله غوندي بد بختو ډلو د بدعتونو د لیارو د بندولو لپاره دغه تعبیر مختار سوی وي، لکه چي وايي:

«فلعل من قال من الأئمة: ان العمل ليس بداخل في الايمان فقد اراد بهذا التعبير سد الذرائع الى بدع هئولاء الاشقياء من الخوارج و المعتزلة، و الامام ابوحنيفة كان قد ابتلى كثيراً بمقابلة الخوارج و مناظرتهم فلم يجد بداً من اختيار هذالتعبير الدافع في نحورهم باصرح الوجه»

ترجمه: «ښايي چا چي د امامانو څخه ویلي دي: چي په یقین سره عمل په ایمان کي داخل ندی، په حقیقت کي به په دغه (تعبیر) سره د هغه بدبختو کسانو معتزله او خوراجو د بدعتونو د لیارو بندول مراد وي، او امام ابو حنیفة رحمه الله په حقیقت کي د خوارجو سره ډېر په مقابله او مناظره اخته وؤ ځکه خو به یې له دغه تعبیر نه بغیر بله چاره نه وي لیدلې، هغه چي د دوی په وړاندي ښکاره سپر دی». له دغه بیان څخه دا ثابته ده چي دا یو منلی او جوت حقیقت دی چي د اصحابو کرامو او کبارو تابعینو نه پس تقریباً امام صاحب اول هغه څوک دی جي د ګمراه فرقو پر ضد درېدلی دی او هغوی ته یې د علمي جدل په میدان کي داسي ماتي ورکړېده چي بې له افتراءاتو څخه نور څه ندي ورپاته سوي، ځکه خو پر امام صاحب د افتراءاتو لړۍ څو چنده سوېده، له یوه پلوه د ده مقابلین

لکه خوارج چي قصداً او عمداً یې د عقیدې له مخې د امام صاحب په شان کې کاذب روایتونه جوړول، له بله پلوه د ده د لوړ علمي استدلال فهم د ځینو کسانو لپاره مشکل ګرځېدلی وؤ.

د ده د لوړ علمي استدلال روښانه دلیل دادی: لکه تاسو چي مخکې ولیدل چي یحیی بن سعید القطان، وکیع بن جراح، ابن تیمیة، ابن کثیر، شیخ محمد بن عبد الوهاب او داسي نورډېر لوړ محدث امامان یا د ده په رأیه عمل کړی او د ده په قول یې فتوی ورکړېده، یا یې د ده څخه دفاع کړې او د ده توصیف یې په ښه انداز کې کړی دی او یا یې خپله عقیده د ده د عقیدې په څېر بللې ده، دا ځکه چي هغوی ته د څېړونو او تحقیقاتو له مخې د هغه د استد لال ټول زوایا ور مالوم سوي وه، او دا ورته جوته سوې وه چي د امام صاحب استد لال ټول پر شرعي اساس ولاړ دی. د «فیض الباري» مؤلف چي حنفي دی هغه هم تر ډېر اوږده بحث وروسته دې نتیجې ته رسېدلی دی چي دا شخړه اصلي او عقیدوي نه ده بلکه دا د نورو اجتهادي اختلافونو په شان یو جزئي او فرعي اختلاف دی، موږ دلته د لنډوني په خاطر د هغه د اوږده بحث څخه تېرېږو صرف د نوموړي کتاب د اول جلد د ۴۳مې صفحې د غه لنډ بیان د ویونکو مخکې اېږدو:

«ثم هؤلاء افترقوا فرقتين، فأكثر المحدثين الى ان الايمان مركب من الاعمال. وامامنا اعظم رحمه الله تعالى واكثر الفقهاء والمتكلمين الى ان الاعمال غير داخل في الايمان، مع اتفاقهم على ان فاقد التصديق كافر، و فاقد العمل فاسق. فلم يبق الخلاف الا في التعبير. فان السلف وان جعلوا الاعمال اجزاء، لكن لا بحيث ينعدم الكل بانعدامها، بل يبقى الايمان مع انتفائها»

ترجمه: «وروسته بیا دا کسان پر دوؤ ډلو سره جلا سول، اکثره محدثین و دېخوا ته ولاړل چي ایمان مرکب د اعمالو څخه دی، لکن زموږ امام اعظم، اکثر فقهاء او متکلمین و دېخواته ولاړل چي اعمال په ایمان کي داخل ندي، سره د هغه چي د دواړو پر دغه اتفاق دی چي د چا چي په زړه کي تصدیق نه وي هغه کافر دی، او د چا چي عمل نه وي هغه فاسق دی، پس نو اختلاف باقي پاته نسو مګر صرف په تعبیر کي. ځکه چي سلفو که څه هم اعمال جز د ایمان ګرځولي دي اما په داسي شکل ندي چي د هغوی په نیستي کېدو سره دي اصل (ایمان) نیستي سي، بلکه د عمل د نیستي کېدو سره بیا هم ایمان پر خپل ځای پاته دي.

له دې پورته څېرني نه دا جوتیږي چي دلته توپیر دومره دی لکه د لمنځه د اولي تحریمي په هکله چي څوک وایي دا دلمانځه رکن دی څوک وایي چي شرط دی، خو هغه څوک چي شرط یې بولي هغوی د لمانځه او تحریمي تر منځ په هیڅ نوع فاصله ندي قائل، ځکه خو په هر صورت لمونځ صحت مومي. اوس که د هغه قول په اساس، چي تحریمه شرط بولي، د لمانځه تحدید وسي نو وبه ویل سي چي لمونځ په (سبحانك اللهم) سره پیل او په (السلام علیکم و رحمة الله) سره پای ته رسیږی. په دغه صورت کي :ستي اشکال رامنځ ته کیږي، او که ورسره واضح سي چي د لمانځه دمخه به «الله اکبر» وایې او ورسره جوخت به لمونځ شروع کوي بیا نو اشکال رفع دی. د عمل او ایمان په هکله هم عین خبره ده، ځکه چي اعمال په جوارحو سره څوک د زړه د ایمان لپاره لازم بولي او څوک بیا عمل د ایمان جز بولي، لکه په «شرح الطحاویة فی العقیدة السلفیة، ۲هم جلد، ۲۲۹مه صفحه» کي چي راغلي دي:

«و الاختلاف الذی بین ابی حنیفة و الائمة الباقین من اهل السنة اختلاف صوری. فان کون الاعمال الجوارح لازمة لایمان القلب، او جزء من الایمان، مع الاتفاق علی ان مرتکب الکبیرة لا یخرج من الایمان، بل هو فی مشیة الله تعالی، ان شاء عذبه، وان شاء عفا عنه نزاع لفظی. لایترتب علیه فساد اعتقاد.»

ترجمه: «او هغه اختلاف چي د ابیحنیفة او نورو امامانو ترمنځ واقع دی هغه یو صوري اختلاف دی، ځکه چي په یقین سره بودن د اعمالو په جوارح سره د زړه د ایمان لپاره لازم دي، یا (عمل) جز د ایمان دی، سره د هغه چي اتفاق پر دغه باندي دی چي مرتکب د ګناه کبیره د ایمان څخه نه وزي، بلکه دی د الله په اراده کي دی که یې اراده وسوه عذاب ورکوي او که یې اراده وسوه عفوه ورته کوي. دا یو لفظي اختلاف دی چي عقیدوي فساد ورباندي مرتب ندی».

## د ایمان او عقیدې مقایسه د مشابهت له مخې اشکال نلري خو د مساواة او مماثلت په اساس بیا مقایسه سمه نه برېښي

دا چي ویل کیږي چي په مقایسوي لحاظ امام صاحب د ټولو مؤمنانو ایمان سره یو شی بولي او د دوی ترمنځ د ایمان په توپیر ندی قائل، د همدغه خبري د وضاحت لپاره باید وویل سي چي په مقایسه کي دوه مهم اصله په نظر کي باید ونیول سي؛ هغه داچي یوه مقایسه د مشابهت له مخي ده چي په هغه کي په عام ډول د اشیاؤ ورته والی یو او بل ته ښودل کیږي، فرق نکوي که دا ورته والی یوازي کمي وي یا یوازي کیفي، یا دا مقایسه یوازي په ذات کي وي یا یوازي په صفت کي. بله مقایسه د مساواة او مماثلت له مخي ده؛ چي په هغه کي اکثراً مقایسه هم په کمي لحاظ او هم په کیفي لحاظ په ذات او په صفاتو

سره کیږي[1]، لکه مخکې چې د دووُ لمونځو تر منځ مقایس یوازې د مشابهت له مخې وویل سوه، ځکه چې دواړه د سهار لمونځونه وه او د دواړو تر منځ مشارکت یوازې په وخت کې ووُ.

د مؤمنانو ترمنځ د ایمان د توپیر په هکله خبره داده چې په دیني اعمالو او عقیده کې د مشابهت له مخې مقایسه ممنوع نده، او موږ یې په احادیثو او د اهل حدیث په اقوالو کې مثالونه مندلای سو، د مثال په توګه: لمونځ چې په یوه قول د ایمان جز بلل کیږي او په قرآن کې هم ایمان د لمانځه په معنی راغلی دی، لکه الله تعالی چې فرمایي: «وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ... . البقرة، ۱۴۳ یعني صلاتکم.» خو په احادیثو کې د صحابي لمونځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمانځ سره مشابه بلل سویدی، لکه دا لاندې احادیث:

«قال ربیعة بن ابي عبدالرحمن حدثني عبدالله بن دینار و كان من صالحی المسلمین صدقاً ، دیناً قال غابت الشمس و نحن مع عبدالله بن عمر فسرنا فلما رأیناه قد امسی قلنا له الصلاة فسكت فسار حتی غاب الشفق و تصوبت النجوم فنزل فصلی الصلاتین جمیعاً ثم قال رأیت رسول الله صلی الله علیه و سلم اذا جد به السیر صلی صلاتي هذه یقول جمع بینهما بعد لیل. بیهقي ،ج: ۳، ص: ۱۵۸».

ترجمه: «ربیعة بن عبد الرحمن وایي: عبدالله بی دینار، چې د صداقت او دیندوستی له مخې د صالحو مسلمانانو څخه ووُ، ما ته حدیث ویلی دی او ویل یې: لمر ولویدی موږ د عبدالله بن عمر سره ووُ تګ مو کاوه نو هر کله چې موږ ولیدل چې یقیناً تاریکه سوه موږ ده ته وویل: لمونځ! چوپ پاته سو، او تګ یې کاوه تر هغه چې شفق ولوېدی او ستوري

[1]: فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۴۲۸، د احیاء العلوم د شارح علامه زبیدي قول.

ښکاره سول نو را ښکته سو او دوه لمونځه یې یو ځای و ګذارل، پس له هغه یې وویل: ما رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی دی چې کله به تګ مهم وؤ نو داسې لمونځ به یې کاوه لکه دغه زما لمونځ، پس له ماښام څخه یې د دواړو په مابین کې یو ځای والی وایه».

«حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ أَبِي خَالِدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي هُرَيْرَةَ أَهَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِكُمْ قَالَ وَمَا أَنْكَرْتَ مِنْ صَلَاتِي قَالَ قُلْتُ أَرَدْتُ أَنْ أَسْأَلَكَ عَنْ ذَلِكَ قَالَ نَعَمْ وَأَوْجَزُ قَالَ وَكَانَ قِيَامُهُ قَدْرَ مَا يَنْزِلُ الْمُؤَذِّنُ مِنْ الْمَنَارَةِ وَيَصِلُ إِلَى الصَّفِّ. مسند احمد، مسند ابوهریرة، جزء: ۱۷، ص: ۱۱۷.»

ترجمه: «اسماعیل یاني ابن ابي خالد د خپل پلار څخه روایت کوي چې ویل یې: ما ابوهریرة ته وویل: آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په تاسو سره داسې لمونځ کاوه؟ هغه وویل: آیا تا زما د لمانځه څخه کوم ناسم شی لیدلی دی؟ ما ورته وویل: (فقط) غواړم چې دغسې یو پوښتنه وکړم، هغه وویل: هو! (په لمانځه کې یې) لنډوالی کاوه، او ویې وویل: چې د هغه صلی الله علیه و سلم قیامه پر داسې اندازه وه لکه یو مؤذن چې د منارې څخه راښکته کیږي او د صف سره یو ځای کیږي».

له دغه احادیثو نه دا جوتیږي چې د وضاحت لپاره مشابهت ندی ممنوع هغه دا چې د صحابي عمل، هغه هم لمونځ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه سره مشابه ګڼل سوی دی، په داسې ډول چې یو صحابي مبارک، کله چې له هغه څخه پوښتنه وسول چې ایا رسول الله صلی علیه و سلم په تاسې سره داسې لمونځ ګذارلی دی؟ هغه په جواب کې ورته وویل: هو! او یا دا چې یو صحابي مبارک وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغسې لمونځ اداء کاوه لکه دغه زما لمونځ. له دغه څخه

مالومه سول چي مشابهت ندی ممنوع، ځکه چي مشابهت يو شی دی مماثلت او مساواة بل شی، ياني کوم مشابهت چي دلته ليدل کيږي هغه کمي مشابهت دی نه مماثلت او مساوات، ځکه چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم لمونځ خو په کيفي لحاظ ډېر اوچت مقام لري نسبت د صحابي و لمانځه ته، څوک به ووايي چي په کيفي لحاظ دا کټ مټ هاسي لمونځ دی لکه رسول الله صلی الله تعالی عليه و سلم چي اداء کړی دی؟ هو! د کميت له مخي (د لنډ والي يا اوږد والي په لحاظ) به هاسي لمونځ صحابي مبارک اداء کړی وي لکه ده چي د رسول الله صلی عليه و سلم څخه ليدلی وؤ، د رکعتونو په حساب به په هماغه تعداد رکعتونه اداء سوي وي، او يا د جمع کولو په لحاظ به د دوؤ وختو دوه لمونځونه سره يوځای سوي وي چي دا ټول حالات دلته تر کميت پوري تعلق لري، خو په کيفی لحاظ هيڅکله د يو صحابي لمونځ و هغه درجې ته نسي رسېدلای کوم چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم لمونځ دی. همدا شاني ايمان هم وبوله، هغه دا چي ايمان هم په کيفي لحاظ په عباداتو سره قوت او زيادت پيدا کوي او په کمي لحاظ د هيڅ چا ايمان نه نيمی کيږي، ياني داسي نسي کېدای چي يو څوک دي پر الله او پر رسول باندي ايمان او اعتقاد ولري او العياذ بالله پر قرآن نه، او په دغه شاني پر هر مؤمن دا لازمه ده چي پر ټولو (مؤمن بها) شيانو باندي ايمان ولري، پر يوه (مؤمن به) سي باندي ايمان نه لرل و کفر ته مفضي کيږي، او نه څوک دوه ايمانه پيدا کولای سي، ياني د کميت له مخي ټول مؤمنان په دې لحاظ سره يو شی دي چي هر يو مؤمن د يوه ايمان څښتن دي[1].

---

[1]: العقيده الطحاوية، ص: ١٨

اوس وليدل سوه چي مشابهت هم هغه كټ مټ څيز نه دى چي عين مماثلت او مساوات ور څخه افاده سي، بلكه صرف د يو سي ورته والى (په كوم كمي يا كيفي صفت كي) و بل سي ته ښكاره كوي، مثلاً په يوه غره كي د يوه جنس دوې ډبري چي يوه لويه او بله وړه وي هغه ته موږ ويلاى سو چي دا ډبره (د رنګ يا تركيب په لحاظ) و دغي بلي ډبري ته ورته ده يا دا ډبره داسي ده لكه دا بله ډبره، فرق نه كوي كه يوه ټوټه يوه كوچنۍ زره وي او بله ټوټه يو غټ سخر. خو د رنګ يا تركيب په لحاظ به ورته والى سره ولري، همدا سي د نن روځي مؤمنان هم هاسي مسلمانان دي لكه د پرون روځي مؤمنان چي وه، ولو كه د ايمان د قوت او زيادت په لحظ هم توپير موجود وي، دا ځكه چي پر هر مؤمن دا لازمه ده چي پر ټولو مؤمن بها شيانو داسي ايمان ولري لكه څنګه چي رسول صلى الله تعالى عليه و سلم فرمايلي دي او اصحابو كرامو په ايمان سره منلي دي، د بېلګي په توګه د قرآن عظيم الشان په يوه آيت سره منكر د ټول قرآن د منكر حكم لري لكه الله جلّ جلاله چي په دغه سره تنبه فرمايلې ده:

« أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ » البقرة. ٨٥[١].

ياني په مؤمن بها شيانو كي د هيڅ چا لپاره د زيادت او نقصان مجال نسته[٢]، د زيادت مثال داسي دى لكه مسيلمة كذّاب او د هغه اتباعو چي نور هر څه منل خو په څنګ كي يې د مسيلمة كذّاب نبوة هم وايه او د

---

[١]: په دغه هكله وګورئ الشرح الميسر على الفقهين الابسط و الاكبر، ص: ٢٧

[٢]: فتح الملهم، ج: ١، ص: ٤٢٢ ، د مؤلف قول چي په عبد ضعيف تعبير ور څخه شوى دى.

نقصان مثال لکه د قرآن په هکله چي مخکي وويل سوه چي په يوه آيت سره منکر د ټول قرآن د منکر حکم لري.
د مؤمنانو د ايمان او عقيدې ترمنځ د مشابهت د جواز بل روښانه او واضح دليل دادی چي د امام المجدد الشيخ محمد بن عبدالوهاب عقيده هم د اصحابو، امام صاحب او نورو ټولو صالح سلفو دعقيدې سره مشابه بلل سوې ده. لکه چي وايي:

« عقيدة الشيخ محمد بن عبد الوهاب رحمة الله عليه:

عقيدة الشيخ هي كعقيدة السلف الصالح ، وهي ما كان عليه رسول الله صلّى الله عليه وسلّم وأصحابه والتابعون والأئمة المهتدون ؛ كأبي حنيفة ومالك والشافعي وأحمد وسفيان الثوري وسفيان بن عيينة وابن المبارك والبخاري ومسلم وأبي داود وسائر أهل "السنن" وأمثالهم ممن تبعهم من أهل الفقه والأثر كالأشعري وابن خزيمة وتقي الدين بن تيمية وابن القيم والذهبي وغيرهم رحمهم الله تعالى جميعا»[1].

له دې عبارت نه په ښکاره له ورايه دا څو ټکي مالوم او ثابت دي:
لمړي: له دې نه دا ثابته سوه چي په عقايدو کي مقايسه د مشابهت له مخي جايز ده، لکه تاسو چي وينی چي د اصحابو کرامو، تابعينو، کبارو امامانو د صالح سلفو او خلفو عقيده په يوه مقايسوي عبارت کي د مشابهت په اساس سره را ونغاښتل سوه.
دوهم: دلته دا هم ثابته سول چي د کبارو امامانو تر منځ چي د عقايدو په هکله کوم اختلاف موجود دی هغه جزئي او فرعي دی، ځکه خو تو پير ندی ورکي سوی او ټول سره يو شانتي په يو ښکلي عبارت کي سره راپيچل سويدي، هيڅ اختلاف ته ګوت نيونه نده پکي سوې، سره د هغه

---

[1]: اصوالايمان، ص: ٨ ، تألف: امام المجدد الشيخ محمد بن عبدالوهاب.

چي امام شيخ محمد عبدالوهاب په اختلاف ډېر ښه واقف وؤ، چونکه اختلاف فرعي او جزئي دی ځکه خو له سره يې تذکر نه دی ورځخه کړی.
دريم: په يقين سره دا ثابته سول چي د صحت په اساس عقيده هماغه يوه عقيده ده لکه څنګه چي رسول کريم صلی الله تعالی عليه و سلم فرمايلې ده او اصحابو کرامو په ايمان سره منلې ده، خو د درجاتو (قوت) په لحاظ به حتماً تفاوت پکي موجود وي.
دلته دا هم ثابته سول چي د صحت له مخي د ټولو اصحابو کرامو، تابعينو لويو امامانو، صالح سلفو او خلفو د عقيدې په تعريف کي توپير نسته، و لو که د الفاظو له مخي څه توپير هم موجود وي، ځکه چي تاسو وينئ چي د ټولو عقيده بې له کوم توپيره صحيح بلل سوېده او هيڅ اختلاف ته پکي اشاره نده سوې.
بناءاً په جرءت سره دا ويل کېدای سي چي د لويو امامانو خصوصاً د څلورو مذهبونو د امامانو څخه د يوه اقوال په تعصب سره خپلول او پر بل باندي په تعصب سره ګوت نيونه او ملاحظه له لويه سره فضول سر خوږی دی. دا ځکه چي ټولو مشهورو امامانو دغه اختلاف لفظي او صوري بللی دی، لکه د شيخ الاسلام حافظ ابن تيمية له اقوالو نه چي په صراحت سره ښکاره سول، او د شيخ محمد بن عبدالوهاب د عقيدې په تعريف کي خو بلکل هر نوعه خدشه په همدغه اړوند له منځه ځي، او بل دغه اقوال يوازي په څلورو امامانو باندي منحصر ندي، بلکه له دوی نه مخکي د اصحابو کرامو او کبارو تابعينو څخه د نبي کريم صلی الله تعالی عليه و سلم د مبارکو اقوالو او الهي ارشاداتو په رڼا کي هم داسي اقوال راغلي دي، چي تفصيلات يې په تفاسيرو کي لکه تفسير طبري، تفسير ابن کثير او نورو تفاسيرو کي ذکر سويدي، مثلا ابن کثير د الهي ارشاد: «الذين

یؤمنون بالغیب» په تفسیر کي وايي: «قال ابو جعفر رازي، عن العلاء بن مسیب بن رافع، عن ابي اسحاق، عن ابي الاحوص، عن عبدالله، قال: الایمان التصدیق.

و قال علي بن ابي طلحة و غيره، عن ابن عباس: [یؤمنون] یصدقون.

و قال المعمر عن الزهري: الایمان العمل.

و قال ابو جعفر الرازي، عن الربیع بن انس: [یؤمنون] یخشون.»

په حقیقت کي دا ټول هغه څه دي چي له کلي او اصولي اختلافه وتلي دي، او امام اعظم (رضی الله تعالی عنه) پدې هکله ډېر مؤثر، رسا او مؤجز کلام لري چي دا ټول په یوه کوچني عبارت کي سره را ټول سویدي لکه مخکي چي هم د «احیاء العلوم» د شارح علامه زبیدي په حواله د امام صاحب دا قول را نقل سو چي وايي: «اقول: ایماني کایمان جبرئیل، و لا اقول: مثل ایمان جبرئیل[1].». وګورئ چي په څومره واضح او مؤجز توګه د ایمان مقایسه د مشابهت له مخي ویل سوېده، او د مماثلت له مخي بیا مقایسه نفي سوېده، دا ځکه چي مماثلت په ټولو صفاتو کي د مساوات او برابرۍ غوښتونکی دی او مشابهت بیا داسي ندی، ځکه خو مشابهت لکه مخکي چي په تفصیل سره وویل سول ممنوع ندی، بلکه مماثلت دی چي هیڅ څوک ورباندي قائل ندی، لکه د «فتح الملهم شرح المسلم» د قول مطابق چي د علامه زبیدي د قول په ادامه کي وايي: «هیڅ څوک د عامو خلکو، ملائکو او انبیاؤ ایمان سره یوشی نه بولي بلکه په ډېرو امورو کي تفاوت ورکوي».

---

[1]: د «فتح الملهم» اول جلد، ۴۲۸مه صفحه

بل دا چي د «فتح الملهم» د مؤلف، امام نووي، شرح العقايد، المواقف، شرح الاحياء او کردري د اقوالو مطابق[1] دا سمه خبره ده چي ايمان د قوة او ضعف له مخي زيادت پيدا کوي، او له کردري څخه بيا په ورپسې صفحه کي ذکر سويدي چي د اياتو او احاديثو مطابق کېداسي دا زيادت د ايمان په نور کي وي، ځکه چي هيڅ داسي عمل نسته چي هغه دي نور ونه لري او حافظ ابن کثير د «نورٌ على نورٌ» په تفسير کي د ابی بن کعب هغه قول رانقل کړی دی چي وايي نور هغه ايمان او قرآن دی چي د مؤمن په سينه کي قرار لري، لکه چي وايي: «قال ابی بن کعب: المصباح: النور، وهو القرآن و الايمان الذي في صدره».

په همدغه اساس موږ ويلای سو چي د اخلاص په عمل سره د زړه نور يعني ايمان زياتيږي چي مثال يې داسي دی لکه په توره تياره کي چي په يوه لوی پراخ بيابان کي څو نفره د مختلفو استقامتو څخه په ليري فاصله کي وه يوه هدف ته جبراً د داخليدو په هيله د خوځښت په حال کي وي، خو هدف ته د داخليدو لپاره دوه اساسي شرطونه هم موجود وي؛ يو دا چي هريو و هدف ته د داخليدو لار بايد خپله پيدا کړي، او بل دا چي هر څوک و هدف ته د داخليدو لپاره يو څراغ هم په لاس کي بايد ولري. او لياره هم ډېره اړه او ګړمه ده، او د ورکېدو او هلاک خطر هم ورکي سته، اوس نو ځيني کسان داسي څراغ په لاس کي لري چي صرف د څراغ اطلاق ورباندي کېدای سي چي نه ليار ورباندي مالوميږي او نه هم نوره فايده ور څخه اخستل کيږي، ياني رڼا يي ډېره ضعيفه ده، او ځيني نور بيا داسي څراغان په لاس کي لري چي پوره او قوي رڼا ورکوي، ياني دا

---

[1]، فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۴۲۱،

څراغان د رڼا د ډېروالي او قوت په لحاظ سره متفاوت دي، او س نو تاسو فکر وکړي چي کوم يو و هدف ته د ژر او محفوظ رسېدو ډېر چانس لري.
د عاصي او بې عمله ايمان همداسي د کم نوره څراغ په شان فرض کړئ، ځکه چي په عمل سره ايماني رڼا زيادت مومي او په قوي کيږي[1]، او هم په عمل سره د زړه يقين زياتيږي، تسکين او اطمنان په ډيريږي، لکه د مخه چي د صحيح مسلم هغه حديث وويل سو چي د لږ عمل د څښتن ايمان ډېر ضعيف وي. د ايمان زيادت همدا قوت، يقين او اطمنان دي لکه د حديث شريف څخه چي په صراحت سره مالوميږي، او مفسرينو هم د ايمان زيادت تصديق، يقين، او قوت بللی دی، د بېلګي په توګه د توګه د تفسير بغوي قول په همدغه هکله وګورئ چي د ايمان معنی يې په تصديق، يقين او قوت سره کړېده، لکه چي وايي: «﴿فَزَادَهُمْ إِيمَانًا﴾ تصديقاً وقوتاً ويقيناً».

له دې لنډه بيان نه دا جوته ده چي د امامانو تر منځ د ايمان په هکله اختلاف يو فرعي او جزئي اختلاف دی چي د آياتونو او احاديثو څخه د اجتهاد او استنباط پر اساس منځ ته راغلی دي، بناءاً هيڅ څوک نسي کولای چي وه يوه ته د اقوالو دي د تعصب پر بنياد ګوته ونيسي او يا دي طعن ورباندي وارد کړي، په همدغه ارتباط مخکي وويل سوه چي په دغه هکله د امام اعظم په شان کي تجاهل عارف خو ځه. بلکه د هغه د قول په باب تند او تېز ملاحظات د انصاف نه ليري خبره او ظلم دي.

## و امام صاحب او احنافو ته د مرجئه د نسبت په هکله ضروري تشريحات

او د همدغه ملاحظې اړوند بله خبره داده چي ځيني محترم حضرات کله ناکله و احنافو ته په عام ډول او امام صاحب ته په خاص ډول مطلقاً د

---

[1]: شرح العقيده الطحاوية: ص: ٢٤٣

«ارجاء» نسبت کوي لکه محترم شیخ الحدیث مبارکپوري چي په «منة المنعم شرح المسلم» کتاب الایمان ۵۶مه صفحه کي وایي: «و قالت الحنفیة ان الایمان هو مجرد التصدیق، اما الاقرار فمنهم من جعله شرطاً لاجراء الایمان، و لذالک سموا بالمرجئة.» تاسو ګورئ چي محترم شیخ الحدیث علی الطلاق بې له کوم وضاحت څخه د احنافو لپاره د «مرجئة» لفظ استعمال کړ، چي دا کله ناکله د اذهانو د مغشوشتیا سبب ګرځي، د دې لپاره چي خبره پوره روښانه سي نو ښه به داوي چي د مرجئة د لفظ د وضاحت لپاره د «فتح الملهم شرح المسلم» یوه یا دوې پاڼي واړوؤ تر څو خبره د همداسي ګونګ حالت څخه راووځي:

په همدغه اړوند مولانا شبیر احمد عثماني د «فتح الملهم شرح المسلم» د اول جلد په ۴۲۰مه صفحه کي د یو عالمانه او منصفانه هر اړخیزي څېړني په لړ کي د «احیاء العلوم» د شارح علامه زبیدي څخه نقل قول کوي او وایي:

«تسمیة بعض السلف لامامنا اعظم رحمه الله مرجئاً کصاحب «القوت» و غیره و تبعه القنوي من علمائنا: انما هو لتأخیره امر صاحب الذنب الکبیر الی مشیئة الله تعالی. و الارجاء التأخیر کما في قوله الله تعالی: «وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ ... . التوبة ۱۰۶» لا بالمعاني التي نُسبت للمرجئة التي هی قبائح في نفس الامر. ... وهذا لا یکون قادحاً في منصب امامنا، و قد ثبتنا ثبوتاً واضحاً. و اشتهر أنه من رؤوس اهل السنة و اول من رد علی القدریة و الطوائف الضالة. یُفهم ذالك من سیر کتب مذهبه. ومن نسب الیه الارجاء فبالمعنی المتقدم، و به کان یقول شیخه حماد بن ابي السلیمان و غیره من السلف.»

ترجمه: «د بعضو سلفو له خوا زموږ د امام اعظم رحمه الله تعالی یادول په مرجئة سره لکه خاوند د «قوت» او نور، زموږ د علماؤ څخه قنوي هم

د هغوی متابعت کړی دی؛ په یقین سره دا په دې خاطر چې ده د ګناه کبیره د څښتن سرنوشت د الله تعالی تر ارادې پورې ځنډنی او معطل بللی دی، ارجاء و ځنډ ته وايي لکه الله پاک چې فرمايي: [ او نور کسان دي له دې پاته سوو نه چې تأخير کړه سوی دی امر يې خدای ته .... التوبة ١٠٦]، ده ته د مرجئه نسبت په هغه مانا سره ندی چې هغه په خپل ذات کې بد دي، دا زموږ د امام اعظم په شان کې بده خبره نده، او په یقین سره ثابته سوېده په ښکاره ثبوت سره او دا جوته ده چې دی د اهل سنت د سرانو څخه وؤ، او د هغه اولو اشخاصو څخه وؤ چې پر قدريه او نورو ګمراه ډلو يې رد کړی دی، دغه خبره د ده د مذهب د کتابونو له مطالعې څخه مالومیږي، او چا چې ده ته د ارجاء نسبت کړی دی هغه په دغه مخکنی (سمه) مانا سره دی، او داغه رنګه د ده شیخ حماد بن سلیمان او نورو سلفو هم ویلي دي.» او ابن عبدالبر په «انتقاء» کې د مرجئه د مذهب په رد کې د امام صاحب قول را نقل کړی دی او وايي:

«قال ابوحنيفة في رد هذا المذهب الخطير: و لا نقول: ان المؤمن لاتضره الذنوب، و لا نقول: انه لا يدخل النار ... و لا نقول: ان حسناتنا مقبول، و سيئاتنا مغفورة، كقول المرجئة.»

ترجمه: «د دغه خطرناکه مذهب په رد کې ابو حنيفة رحمه الله ویلي دي: او موږ نه وايو: چې مؤمن ته په یقین سره ګناهون ضرر نه رسوي، او موږ نه وايو: چې په یقین سره دی په اور کې نه داخلیږي، او موږ نه وايو: چې زموږ نیکئ په یقین سره قبولي دي، او زموږ ګناهونه بخښل سويدي، لکه د مرجئه قول.»

د «فتح الملهم» مؤلف د علامه زبيدي د قول په تعقیب د شیخ الاسلام ابن تيمية هغه قول را نقل کړی دی چې د فقهاؤ هغه ډله چې د ارجاء په

دایره کي داخل بلل سویدي یاني د ارجاء نسبت ورته سوی دی هغه د امامانو په وړاندي اهل علم او اهل دین دي او سلفو هیڅ یوه هغه فقها، چي د ارجاء نسبت ورته سوی دی کافرندي بللی، لکه چي وايي:

«قال الحافظ ابن تيمية: و لهذا دخل في ارجاء الفقهاء جماعة. هم عند الائمة اهل علم و دين. و لم يكفر احد من السلف احداً من مرجئة الفقهاء ....[1]» او همدا رنګه علامه کوثري وايي چي «ارجاء د عمل» د اهل السنة و الجماعة په وړاندي د ایمان د ارکانو څخه ده، لکه چي وايي:

«و لا التفات الى المتساهلين ممن لا يفرقون بين الشمال و اليمين. فماذا بعد ظهور الحجة و وضوح المسالة، على من يرى ارجاء العمل من ان يكون ركناً اصلياً للايمان؟ و عليه الكتاب و السنة و جمهور الصحابة. و جميع علماء اهل السنة الذين يستنكرون قول الفريقين الخوارج و المعتزلة. فارجاء العمل من ان يكون من اركان الايمان الاصلية هو السنة[2].»

ترجمه: «هیڅ پروا د سهل انګارانو نسته کوم چي د چپه او راسته فرق نسي کولای، نو څه پروا به وي د هغه چا لپاره چي هغوی، پس له هغه چي دلیل جوت او مسئاله ورته روښانه سول، «ارجاء د عمل» یې د ایمان اصلي رکن و ګڼي؟ (په داسي حال کي) چي د قرآن او سنت په رڼا کي داغه د مشهورو اصحابو حکم هم دی، او هم د اهل السنة د ټولو هغه علماؤ (حکم دی) چي (په دغه هکله) یې د خوارجو او معتزلهؤ اقوال رد کړي دي، څکه خو دا له سنتو څخه ده چي «ارجاء د عمل» دي د ایمان له ارکانو څخه وي.»

---

[1]: فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۳۲۰

[2]: تأنيب الخطيب، ص: ۹۰

او شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیة هم د { إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ } د استناد په اساس د اهل الکبائر سرنوشت و الله تبارک وتعالی ته مفوض بولي لکه چي وايي:

«وَقَدِ اسْتَفَاضَتِ الْأَحَادِيثُ فِي خُرُوجِ عُصَاةِ الْمُوَحِّدِينَ مِنَ النَّارِ وَدُخُولِهِمُ الْجَنَّةَ.

فَمَذْهَبُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ وَسَطٌ بَيْنَ نُفَاةِ الْوَعِيدِ مِنَ الْمُرْجِئَةِ وَبَيْنَ مُوجِبِيهِ مِنَ الْقَدَرِيَّةِ.

فَمَنْ مَاتَ عَلَى كَبِيرَةٍ عِنْدَهُمْ؛ فَأَمْرُهُ مُفَوَّضٌ إِلَى اللَّهِ. إِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ. وَإِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ؛ كَمَا دَلَّتْ عَلَيْهِ الْآيَةُ السَّابِقَةُ.

وَإِذَا عَاقَبَهُ بِهَا؛ فَإِنَّهُ لَا يُخَلَّدُ خُلُودَ الْكُفَّارِ. بَلْ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ. وَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ[1].»

ترجمه: «د اهل السنة والجماعة مذهب معتدل دی په ما بین کي د مرجئه د ډلي چي بلکل د مؤمن لپاره (په آخرت) کي عذاب نه مني، او د قدریه د ډلي چي (په آخرت کي) د لویو ګناهونو مرتکبین د همیش لپاره داخل په اور کي ګڼي، اهل السنة والجماعة د اهل الکبیره سرنوشت و الله پاک ته مفوض بولي که یې اراده وسوه جزاء ورکوي او که یې اراده وسوه عفو ورته کوي لکه مخکنی آیت چي پر (دغه مفهوم) باندي دلالت کوي.
او کله چي د خپلو ګناهونو له وجهي عذاب ورکول سو نو د کافرانو غوندي تل په اور کي نه پاته کیږي، بلکه له اوره څخه را ایستل کیږي او جنت ته داخلیږي.»

او مولانا شبیر احمد د حافظ ابن تیمیة د قول په تعقیب وايي: زه وایم چي د خوارجو فتنه د مرجئه تر فتنه کمه نده. او بیا هم د شیخ الاسلام ابن تیمیة د قول په حواله وايي: د اسلام، ایمان، کفر او نفاق مسائل خورا

---

[1]: شرح العقیده الواسطیه. ج: ١. ص: ٢٤٨

لوی او جدي دي، ځکه چې الله تعالی د سعادت، شقاوت، د جنت او او د اور مستحق والی په هغه پوري تړلي او مربوط کړی دي. په دغه کي اختلاف د اول ځل لپاره د هغه په نومولو (مسمی) کې د خوارجو له پلوه واقع سو، هغه په داسي ډول چي هغوی د یکتاپرستانو ګناهکاران په کلي ډول د اسلام څخه و ایستل او د کفر په دائره کي یې داخل و ګڼل، او د کفارو معامله یې ور سره وکړه، د هغویويني او مالونه یې حلال او مباح و ګڼل. مولانا شبیر احمد عثماني ورپسي وايي: امکان لري چي په همدغه اساس امامانو ویلي وي چي عمل په ایمان کي داخل ندی، او کېدای سي چي په دغه (تعبیر) سره به یې د خوارجو او معتزله ؤ د بدعتونو د لیارو بندول غوښتل. او امام ابو حنیفة رحمه الله خو د خوارجو سره په مناظره او مقابله ډېر زیات اخته او مشغول وؤ، ښايي چي بله چاره به یې نه وي لیدلې بې له دغه تعبیر څخه. ځکه دغه (تعبیر) د دوی په وړاندي ښکاره او ثابت سپر دي[1].

ښه به داوي چي په همدغه اړوند د امام صاحب او خوارجو د مناظراتو یوه نمونه هم ذکر کړو تر څو تا سو ته د هغه د ذکاوت، علمیت او کامل صداقت ښه پته ولګيږي، او دا هم ښه درته جوته سي چي اما صاحب بلکل مطابق د کتاب الله د اهل المعاصي سرنوشت د الله تعالی و ارادې ته مفوض بولي، او داسي ندی صحیح نکه خوارج چي ګنهکاران بلکل کافران بولي. او د تل لپاره یې په دوږخ کي بولي، او معتزله هم ګنهکاران د تل لپاره په دوزخ کي بولي. خو صرف په لفظي توپیر، هغه داچي دوی وايي چي د ګناه کبیره خاوندان د اسلام او کفر ترمنځ بین بین

[1]: فتح الملهم، ج: ۱، ص: ۴۲۰

درجه لري، یاني نه مؤمنان دي او نه کافران، او داسي هم نده صحیح لکه مرجئه چي وایي چي ګناه د ایمان سره ضرر نلري لکه طاعت چي د کفر سره فایده نلري.

## د خوارجو سره د امام صاحب یوه جالبه مناظره [1]

«د خوارجو یوه ډله، هغه چي د ګناه کبیره مرتکبین کافران بولي، و امام صاحب ته د مجادلې په شکل راغلل، د اما صاحب څخه یې پوښتنه وکړه چي: دلته د مسجد په دروازه کي دوې جنازې پرتې دي: یوه جنازه د یو شرابي سړي ده چي دومره شراب یې څکلي وه چي د زلقدن تر سرحده یې ځان په ړساوه او مړسو، او بله جنازه د یو زناکاري ښځي ده چي کله یې یقین سو چي د زنا څخه یې حمل اخستی دی نو ځان وژنه یې وکړه. امام صاحب پو ښتنه ورڅخه وکړل: دوی دواړه د کوم ملت څخه وه؟ آیا دوی یهود وه؟ هغوی ورته وویل: یا! بیا امام صاحب ورته وویل: آیا دوی نصارا وه؟ هغوی په جواب کي وویل: یا! بیا یې ورڅخه و پوښتل: آیا هغوی اتشپرستان وه؟ دوی ورته وویل: یا! امام صاحب ورته وویل: د کوم ملت څخه وه؟ خوارجو ورته وویل: له هغه ملت څخه وه چي وایي: اشهد ان لااله الّا الله و اشهد ان محمداً عبده و رسوله! بیا امام صاحب ورته وویل: ما حبر کړئ چي دغه کلمه د ایمان دریمه برخه ده که د ایمان څلرمه که د ایمان پنځمه؟ د خوارجو دغه ډلي ورته وویل: ایمان داسي نسي کېدای چي دریمه دي وي یا څلرمه یا پنځمه! امام صاحب ورته وویل: دغه کلمه څوهمه د ایمان ده؟ هغوی ورته وویل: همدغه ټول ایمان دی! امام صاحب ورته وویل: تاسي له ما څخه څه غواړئ د هغه

---

[1]: دغه مناظره د «امام ابوحنیفة عصره و حیاته ...» د ۲۴ صفحې پر لمن لیک ثبت سوېده.

دوؤ کسانو په باره کي چي تاسو خپله گمان او اقرار کوئ چي دا مؤمنان دي؟ هغوی ورته وویل: موږ له تانه دا غواړو چي آیا دوی دواړه په جنت کي دي او که په اور کي؟ امام صاحب ورته وویل: ستاسي د بیان پر اساس زه د دوی دواړو په هکله وایم لکه څنگه چي حضرت ابراهیم علی نبینا و علیه الصلاة و السلام د خپل قوم په باره کي، چي له دوی نه زیات مجرمین وه، وویل:

«فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ابراهیم. ٣٦»

ترجمه: «هر هغه څوک چي زما اطاعت وکړي بېشکه چي هغه زما (له ډلي) څخه دی او څوک چي زما څخه سرکښي وکړي بېشکه چي ته بښونکي او ډېر مهربانه یې».

زه د دوی دواړو په هکله وایم لکه څنگه چي حضرت عیسی علی نبینا و علیه الصلاة و السلام د خپل قوم په باره کي، چي له دوی نه زیات مجرمین وه، وویل:

«إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ مائده ١١٨»

ترجمه: «که ته هغوی ته عذاب ورکړي بېشکه چي هغوی ستا بندگان دي او که ته هغوی ته ببښنه وکړې بېشکه چي ته غالب او حکیم یې».

زه د دوی دواړو په هکله هغه څه وایم چي حضرت نوح علی نبینا و علیه الصلاة و السلام خپل قوم ته وویل:

« قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ (١١١) قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١١٢)

إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ (١١٣) وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ (١١٤)

ترجمه: «(اشرافو او د لو پوړ خلکو) وویل آیا موږ پر تا ایمان راوړو په داسي حال کي چي ستا متابعت خوار او د کښته پوړ خلک کوي ١١١—(نوح) وویل زه د دوی په کسب او کار خبر نه یم – ١١٢ – د

دوی

حساب بېله زما د ربه د بل چا پر ذمه ندی که تاسو وپوهیږئ – ۱۱۳ – او نه یم زه طرد کونکی (شړونکی) د مؤمنانو – ۱۱۴ – ».

او زه د دوی په هکله هغه څه وایم چي نوح علی نبینا و علیه الصلاة و السلام ویلي دي:

«وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ (۳۱) هود».

ترجمه: «او (ستاسو د خوشامندی لپاره) هیڅکله نه وایم په حق د هغه کسانو کي چي ستاسي په سترګو خوار او ذلیل درغلي دي چي الله به هغوی ته هیڅ ښې او ښیګني ورنکړي الله ښه پوهیږي (په هغه اخلاص) چي پټ د دوی په زړونو کي دی (که زه دغه ووایم) نو بېشکه په دغه وخت کي زه د ظالمانو څخه یم». وایي چي د خوارجو دغه ډله د دغه آیتونو په اورېدلو سره تسلیم سول».

له دغه مناظرې نه مالومیږي چي ارجاء څه ته وایي، د اهل السنة و الجماعة عقیده داده چي په صورت عموم د اعمال نتائج د الله پاک تر ارادې پوري پاته دي لکه پورته چي د علامه کوثري قول ذکر سو، او د دغه لپاره روښانه بل دلیل دا هم کېدای سي چي د بدو اعمالو د ځښتن نیت او د ده د ژوند پسمنظر بې له الله بل هیڅ چا ته نه مالومیږي، او د نیکو اعمالو د ځښتن نیت او اراده هم چا ته نده مالومه، چي آیا د ده عمل د عجب او ریاء څخه خلاص دی او که څنګه؟ لکه په حدیث شریف کي چي راځي:

« عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ أَهْلِ الشَّامِ أَيُّهَا الشَّيْخُ حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى

يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ جَرِيءٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ[1]».

ترجمه: «له ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله څخه اورېدلي دي چي فرمايل يې: اول د خلکو څخه چي په روځ د قيامت به قضاء پر وچليږي هغه څوک دی چي شهيد سوی وي، را به وستل سي او د ده نعمتونه به ورو ښودل سي او دی به يې و پېژني، ورته و به ويل سي چي تا په دنيا کي څه عمل کړی دی؟ دی به ورته ووايي چي زه ستا په لياره کي و جنګېدم تر څو چي شهيد کړه سوم، ورته وبه ويل سي چي دروغ دي وويل! ته د دې لپاره جنګېدلی يې چي زړه ور درته وويل سي، په يقين سره هغه درته وويل سوه، بيا به امر پر وسي، پړمخي به يې کش کړي تر څو په اور کي وغورځول سي. او بل به پر هغه سړي قضاء و چليږي چي د علم په تعليم او تعلم بوخت وي او قرآن وايي، را به وستل سي او د ده نعمتونه به ورته و ښودل سي او دی به يې وپېژني، ورته وبه ويل سي تا په دنيا کي څه عمل کړی دی؟ دی به ورته ووايي: ما ستا په لياره کي د علم

[1]: صحيح مسلم. باب: من قاتل للرياء والسمعة استحق النار.

زده کړه کول او د علم ښوونه مي کول او قرآن مي وایه، ورته وبه ویل سي: دروغ دي وویل، تا د دې لپاره د علم زده کړه او ښوونه کول چي عالم درته وویل سي او قرآن دي د دې لپاره وایه چي قاري درته وویل سي، په یقین سره هغه درته وویل سوه! بیا به امر پر وسي، پړمخي به یې کش کړي تر څو په اور کي و غورځول سي. او پر هغه چا به قضاء و چلیږي چي الله پراخي باندي کړې وي، او ده قسم قسم مالونه خلکو ته ورکړي وي، را به وستل سي او د ده نعمتونه به ورته و ښودل سي او دی به یې وپېژني، ورته وبه ویل سي تا په دنیا کي څه عمل کي کړی دی؟ دی به ورته وایي: ما په دنیا کي هیڅ داسي یوه لیار چي هغه ستا خوښه وي نده پرې ایښي چي په هغه کي مي خیرات نه وي کړی، ورته وبه ویل سي: دروغ دي وویل، بلکه تا د دې لپاره ورکړه کول چي سخي درته وویل سي، په یقین سره هغه درته وویل سوه! بیا به امر پر وسي، پړمخي به یې کش کړي تر څو په اور کي و غورځول سي».

د دغه حدیث مبارک څخه مالومه او ثابته سوه چي په حقیقت کي د هر چا خاتمه پټه ده، خصوصاً د ګنهکارانو خاتمه، په اصل کي د ټولو دنیوي اعمالو نتائج و الله جلّ و علی شانه ته مفوض دي، الله تعالی دي زموږ آخره خاتمه نیکه او د ده په دربار کي د قبول وړ وګرځوي. آمین ثم آمین.

علامه کوثري خو داهم وایي چي د ارجاء یا مرجئه د لفظ ویل د هر چا په خپل نیت پوري اړه لري، که یې په ښه نیت ووایي د ښو مکافات به و ویني، او که یې په بد نیت ووایي د بدو مجازات به ورکړه سي.

## د ایمان د اصلي مبحث وروستی نتیجه ګیري

د پورته سر سري تحقیقاتو څخه دا جوتیږي چي د فقهاؤ، محدثینو او امامانو د مستند او مستدل اقوالو پر اساس د اهل السنة و الجماعة تر

منځ د ایمان او عقیدې په اړوند اختلاف فرعي او جزئي بڼه لري، او اختلاف دومره ندی چي د دې باعث دي وګرځي چي پر قائل د يو قول دي العياذ بالله طعن وارد سي او یا دي د يو امام په هکله ملاحظه وسي. دلته ولیدل سوه چي که عمل په ایمان کي داخل وبلل سي يا د ایمان څخه خارج. په هر صورت د دواړو ترمنځ رابطه او تړاو هم هاغه دی چي په عمل سره ایمان قوي کیږي او بې عمله ایمان ضعيف وي. د کمیت په لحاظ هر مؤمن د يوه صحيح ايمان څښتن دی او د کیفیت په لحاظ د مؤمنانو ایمان د ضعف او قوت په لحاظ يو له بله توپیر سره لري، دقرآن او صحيحه احاديثو له ظاهري نص څخه خو داسي ښکاري چي ايمان ځانته دی او اسلام ځانته. خو په هر صورت د دواړو تعريفونو تر منځ زيات توپير نسته، فقط توپیر به دومره چي يو قول چي عمل د ایمان جز بولي په همدغه اساس عمل د ایمان رکن ګڼل کیږي داسي رکن چي د هغه په نیستي کبدوسره ایمان نه منفي کیږي. او بل قول چي عمل د ایمان څخه خارج بولي خو دغه عمل بيا د ايمان دثبوت لپاره داسي لازمي شرط بولي چي چاره ورڅخه نسته که نه ايمان د ضرر او زيان سره مخ دی.

بيا هم ثابته او جوته خبره داده چي دلته اختلاف فرعي او جزئي دی، ممکن چي يوازي د غرض خاوندان د غرض له مخي و اختلاف ته اساس او جدي رنګ ورکړي. العياذ بالله.

## د قیاس او رأيي مبحث

بله ملاحظه چي د امام صاحب په اړوند کله نا کله تر سترګو کیږی هغه هم د قیا سو او رايي په تړاو ده، هغه چي وايي چي ګویا امام صاحب قیاس او رأیه پر سننو دمخه ګڼي. اصلاً دغه ملاحظه لکه په تیرو پاڼو

كي چي لنډه يادونه ورڅخه سوېده د هماغه وخت د ګروهيزو تعصباتو زېږنده ده، په دغه اړوند حافظ ابن حجر هيتمي شافعي د حافظ ابن عبدالبر مالكي په حواله و دغه ټكي ته په اشاره سره وايي: « اصحاب الحديث د امام صاحب په شان كي افراط او تر حد تېرى كړى دى؛ هغه چي وايي چي امام صاحب قياس پر اثر دمخه ګڼي، او اكثر د علم خاوندان وايي كله چي حديث صحيح سو رأيه او قياس باطل دى، امام صاحب هيڅ حديث د استد لال لپاره ندى ترک كړى مګر ځيني واحد اخبار هغه هم په يو موجه تأويل سره»[1]، د لوى او مشهور محدث يحيى بن معين قول به هم د شپږمي فايدې په مبحث كي در ته راسي چي هغه هم و دغه ټكي ته په اشاره سره وايي: «زموږ اصحابو د اباحنيفة او د هغه د اصحابو په شان كي افراط كړى دى».

اصلاً هر چا ته جو ته ده بلكه د قياس او رأيې په ارتباط دا په تواتر ثابته ده چي امام صاحب يو ضعيف حديث هم پر رأيه او قياس مقدم بللى دى، مثلاً شيخ الاسلام ابن تيمية د حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه په دفاع كي وايي چي (د ابوحنيفة رحمه الله په ګډون) ټول امامان يو ضعيف حديث پر قياس مقدم بولي؛ لكه ابوحنيفة رحمه الله چي د اودس ماتولو په مسئله كي په مرسل حديث سره حكم كړى دى او قياس يې ورته پرې اينښى دى، لكه چي وايي: « بَلِ الأَئِمَّةُ يَتْرُكُونَ الْقِيَاسَ لِمَا هُوَ دُونَ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ كَمَا تَرَكَ أَبُو حَنِيفَةَ الْقِيَاسَ فِي مَسْأَلَةِ "الْقَهْقَهَةِ" بِحَدِيثٍ مُرْسَلٍ...»[2]. او همدا ډول امام ابن حزم اندلسى مالكي وايي چي ټول حنفية پر دې خبره متفق دي

---

[1]: الخيرات الحسان. ص: ٧٥

[2]: مجموعة الفتاوى. ج: ١. ص: ٤٠٣

چي ضعيف حديث پر رأيه او قياس مقدم دی، لکه چي وايي: «جميع الحنفية مجموعون على ان مذهب ابيحنيفة أن ضعيف الحديث عنده اولى من القياس و الرأيي[1].»، محمد ابو زهرة هم د شعراني شافعي د «ميزان» په حواله د امام صاحب څخه يوه مجموعه د اقوالو رانقل کړېده چي په هغه کي اما صاحب تر کتاب، سنت، د اصحابو تر اقوالو او اجماع وروسته د يو اشد ضرورت په وخت کي قياس جايز بللی دی[2] او هغه هم هر قياس نه؛ بلکه هرکله چي قياس سم ندی ورته ښکاره سوی هلته يې د استحسان قاعده ورته وضع کړېده. او همدا ډول امام احمد بن حنبل رحمه الله پر دغه خبره سکوت اقراري کړی دی، ياني دا خبره يې منلې ده چي د امام ابوحنيفة رحمه الله نظر او د امام مالک رحمه الله نظر د قياس او رأيي په باب سره يو شاني دی، لکه چي وايي:

«و من ثمة لما قيل لاحمد بن حنبل (او عن يحيى بلخي: قلت لاحمد بن حنبل) ما الذى نقمتم على ابيحنيفة؟ قال: الرأى! قيل: (او قلت): أليس مالك تكلم بالرأى؟ قال: بلى، و لكن ابيحنيفة اكثر رأياً منه! قيل: (او قلت): هلا تكلمتم في هذا بحصته و هذا بحصته؟ فسكت احمد[3]». او موفق په خپل سند سره د امام صاحب څخه روايت لري او وايي: «قال ابوحنيفة: ليس لاحد ان يقول برأيه مع كتاب الله. و مع سنة رسول صلى الله عليه و سلم و لا مع اجمع عليه صحابة. و اما اختلفو فيه فنتخير من اقاويلهم اقربه الى كتاب الله تعالى و سنة و لا نجتهد، و ما جاوز ذالك بالرأى يوسع الفقه لمن عرف الاختلاف و قاس[4].»

---

[1]: حياة الامام ابوحنيفة للعفيفى، ص: ۲۰۲

[2]: ابوحنيفة عصره و حياته ...، ص: ۲۳۶

[3]: من مقدمة موطأ امام محمد، ص: ۱۹ عن حافظ عبد البر، و ايضاً عن كتاب ابيحنيفة و صاحبيه للذهبي، ص: ۴۱

[4]: حياة الامام ابوحنيفة للعفيفى، ص: ۱۶۴

ترجمه: «ابو حنیفه رحمه الله ویلي دي: هیڅ چا لره دا (حق) نسته چي په رأیه سره خبره وکړي دهغه ځه په هکله چي هغه په کتاب الله او د رسول صلی الله علیه وسلم په سنتو کي موجود وي او هم د هغه ځه په هکله چي پر هغه د اصحابو اجماع وي. خو په هغه ځه کي چي دوی اختلاف ورکي کړی وي موږ به د دوی له اقوالو څخه هغه پکي مختاره کړو چه هغه و کتاب الله او سنتو ته ډېر نژدې وي په دغه (صورت) کي موږ اجتهاد نکوؤ، او تیر تر دغه اجتهاد په فقه کي پراخي راولي (البته) د هغه چا لپاره چي په اختلاف پوهیږي او قیاس کولای سي». له دغه نه بلکل جوته سوه چي په هغه مورد کي چي د کتاب الله، سنت نبوي او د اصحابو د اجماع صریح حکم موجود وي هلته د امام صاحب موقف د رأیي او قیاس په هکله بلکل واضح او روښانه دی چي قیاس او رأیي ته هیڅ ترجیح نه ورکوي؛ لکه محمد ابوزهرة چي وایي چیرته چي صریح نص موجود وي هلته د امام صاحب او ټولو احنافو په نزد قیاس او رأیه هیڅ ځای نلري[1]، او چیرته چي د اصحابو په منځ کي اختلاف موجود وي هلته په رأیه او فکر سره هغه قول مختاره کوي چي کتاب الله او سنتو ته تر نورو ډېر نژدې وي، او چیرته چي هیڅ نوع اثر نه وي موجود هلته یې په قیاس سره د یو مشترک علت له مخي یو مشابه حکم پیدا کړی دی، په حقیقت کي دا د ټول اهل اسلام یو منل سوی او متفق علیه متود او اصل دی چي هیڅ اختلاف ورکي نسته.

[1]: الامام ابوحنیفة عصره و حیاته، ص: ۲۴۶

په دغه مورد کي دلايل او اسناد دومره ډېر دي چي په يقين سره د تواتر و حد ته رسېلي دي خو دلته د لنډوني په خاطر په دغه پورته ليکل سوؤ يو څو مثالو سره اکتفاء کيږي.

## آيا قياس په صورت کلي ممنوع او بد دی که ځيني اوقات و قياس او رأيي ته هم ضرورت سته؟

د رأيي او قياس په ارتباط به ښه خبره داوي چي دا جوته سي چي قياس او رأيه په صورت کلي او مطلق ډول بد ګڼل کېدای سي او که ځني وخت ورأيي او قياس ته هم ضرورت سته. د حضرت معاذ بن جبل – رضی الله تعاله عنه – د حديث څخه دا په صراحت سره مالوميږي چي په هغه مورد کي چي د کتاب اله او سنت نبوي حکم نه وي موجود هلته کېدای سي چي يو فقيه مجتهد د رأيي او قياس څخه کار واخلي، بلکه د حضرت رسول الله صلی الله عليه و سلم د مبارک حديث څخه په صراحت مالوميږي چي د يو فقيه مجتهد لپاره ضرور ده چي رأيه په کار واچوي، او پر همدغه باندي الله پاک صواب هم ورکوي، لکه چي فرمايي:

«عن معاذ بن جبل قال: لمابعثني رسول اله صلى الله تعالى عليه و سلم الى اليمن قال لي: بم تقضي ان عرض قضاء؟ قال قلت: اقضي بما في كتاب الله! قال: فان لم يكن في كتاب الله؟ قال قلت: أقضي بما قضى رسول الله! قال: فان لم يكن فيما قضى رسول الله؟ قال: اجتهد برأيي! قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: الحمد لله الذي وفق رسول رسول الله لما يرضى رسول الله[1].»

---

[1]: ابوداود، ترمذي او امام احمد بن حنبل د دغه حديث روايت کړی دی، او همدا ډول د «معاذ بن جبل» د کتاب په ۴۰ صفحه کي د حجت او استدلال په حيث کارول شوی دی، او علامه ابن کثير د خپل تفسير د اول

ترجمه: «حضرت معاذ بن جبل - رضی الله تعالی عنه - وايي: کله چې زه رسول الله - صلی الله علیه و سلم - و يمن ته استولم راته و يې فرمايل: په څه سره به قضاوت کوې کله چې يو قضيه درته راسي؟ ما ورته وويل: په هغه سره به قضاوت کوم چې د الله په کتاب کي وي! راته وه يې فرمايل: كه د الله په كتاب کي نه وه موجود؟ ما ورته وويل: په هغه سره به قضاوت کوم چې د الله رسول په هغه سره قضاوت کړی وي! راته وه يې فرمايل: که په هغه کي نه وه موجود چې د الله رسول قضاوت پکي کړی دی؟ ما وويل: په خپله رأيه سره به اجتهاد کوم! دی وايي چې رسول الله صلی علیه و سلم و فرمايل: حمد دي وي هغه ذات لره چې د الله د رسول رسول يې په دې و توانا وه چې د الله رسول پرې راضي کيږي». له دغه حديث نه بلکل جوته ده چې رسول الله صلی علیه و سلم په هغه څه خوښيږي چې يو فقيه مجتهد په هغه ځای کي چې د کلام الله او صحيح حديث صريح حکم موجود نه وي رأيه او قياس و کاروي. او همدا ډول د «مكانة الامام الابيحنيفة فی العلم الحديث» نومي کتاب په ۱۳۰ صفحه کي د ليس بن سعد څخه روايت راغلی دی چې هغه ويل: ما د امام مالک رحمه الله څخه او يا مسئلې شمېرلي دي چې په هغه ټولو کي ئې په رأيه سره حکم کړی دی. او سيد عفيفي د رأيي د ضرورت په اړوند وايي: محققينو ويلي دي چې د حديث څخه بې له سالمي رأيي حکم نسي اخستل کېدای، او رأيه هم د حديث نه بغير سمه نسي استعمالېدای، وايي: چې د لمړي خبري مثال هغه دی چې کله چې د بعضو محدثينو

---

جلد په ۷ صفحه کي وايي: «دغه حديث د مسانيدو او سننو په ۵ کتابو کي په جيد اسناد راغلی دی. مرتب عفی عنه.

ښځه پو ښتنه وسوه چې دوه کوچنیان چې د یوه پسه شیدي وخوري آیا د هغوی تر منځ حرمت د نکاح ثابتیږي؟ هغوي په جواب کې ورته وویل: دا حکم په حدیث سره ثابت سوی دی، لکه چې فرمایي: «کل صبیین ارتضعا علی ثدی حرم احدهما علی الآخر» ترجمه: «هر دوه کوچنیان چې له یوه تي ښځه شېدې وخوري یو پر بل باندې حرام سول» وایي چې د (تیزي) رأیي د نه موجودیت په خاطر په حکم کې خطا سول، ځکه چې دوی دا فکر نه ؤ کړی چې دغه مسئله په جزئیت او بعضیت پوري تعلق لري، یاني حرمت یوازي د انسان په شېدو سره ثابتیږي. دوهم مثال په لمانځه کې په قهقهه سره د اودس ماتېدل دي، د رأیي له مخي په قهقهه سره اودس نه ماتیږي، ځکه چې دا د بدن ښځه راوتلی نجاست ندی، لکه د باندې تر لمانځه چې اودس نه په ماتیږي، ځرنګه چې د اعرابي په حدیث سره دا حکم ثابت سو نو په دې اساس رأیه ورته پرېښودل سوه[1].

مطلب دا چې هره رأیه او قیاس بد او شنیع ندی. د قیاس په اړوند به د امام صاحب قول هم درته راسي، چې د هغه خلص او لنډ مفهوم داسې دی: قیاس د ابلیس علیه لعنه بد وؤ ځکه چې هغه په خپل قیاس سره د رب العزة جل جلاله حکم نه و مانه او سرکښي یې مختاره کړل، او هغه قیاس چې د الله جل جلاله د کامل اطاعت د لیارو د پلټلو لپاره کیږي هغه قیاس شرعي قیاس دی، هغه قیاس ته بد نسي ویل کېدای.

شیخ الاسلام ابن تیمیة هم د قیاس په هکله عین نظر لري، لکه چې وایي:

---

[1]: حیاة الامام ابوحنیفة ، ص: ۲۰۳.

« وَكُلُّ قِيَاسٍ عَارَضَ النَّصَّ فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ إِلَّا فَاسِدًا وَأَمَّا الْقِيَاسُ الصَّحِيحُ فَهُوَ مِنَ الْمِيزَانِ الَّذِي أَنْزَلَهُ اللهُ وَلَا يَكُونُ مُخَالِفًا لِلنَّصِّ قَطُّ بَلْ مُوَافِقًا لَهُ[1] .»

ترجمه: «هر قیاس چي د نص سره معارض سي په یقین سره دغه بل شی ندی مگر فاسد (قیاس) او هر څه چي صحیح قیاس دی هغه د هغه څه په پرتله چي الله پاک نازل کړیدي هیڅکله د هغه سره مخالف نه وي بلکه ورسره موافق وي».

علامه الوسي هم په «روح المعاني» کي د الهي ارشاد: «فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ الحشر: ۲» په تفسیر کي وایي:

«واشتهر الاستدلال بالآية على مشروعية العمل بالقياس الشرعي. قالوا: إنه تعالى أمر فيها بالاعتبار وهو العبور والانتقال من الشيء إلى غيره. وذلك متحقق في القياس إذ فيه نقل الحكم من الأصل إلى الفرع[2].»

ترجمه: «په شرعي قیاس سره د عمل مشروعیت په دغه آیت سره مشهور سوی دی، (علماؤ) ویلي دي: په یقین سره الله تعالی امر کړی دی په دغه کي په اعتبار سره، دغه (اعتبار) عبور او انتقال دی د یوه شي څخه و بل ته، او دغه (امر) په قیاس کي ثابت دی ځکه چي په هغه کي د حکم نقلیدل دي د اصل څخه و فرعي ته».

او همدا ډول د (الامام ابو حنیفة عصره و حیاته ...» د ۲۵۱ صفحې پر لمن لیک د کشف الاسرار د دوهم جلد د ۷۰۰ صفحې په حواله د همدغه ذکر سوي الهي ارشاد په استناد سره د قیاس د ضرورت په اړوند استدلال

---

[1]: مجموعة الفتاوى، ج: ۲، ص: ۴۲

[2]: روح المعاني، ج: ۲ ص: ۵۴۵

سوی او ویل سویدي چي قیاس د یو «اقوی دلیل» د نه موجودیت په صورت کي ضرور دی.

## امام صاحب په قیاس کي مسبوق دی

مهمه خبره داده چي امام صاحب لمړی شخص نه دی چي په رأیه او قیاس سره یې د فقهي احکامو پلټنه پیل کړېده، لکه څنګه چي مخکي وویل سوه چي حضرت معاذ ﷺ ته د نبي کریم صلی الله علیه و سلم له پلوه د رأیي په هکله د حمد ویلو په شکل سره اجازه ورکول سوېده، او نور فقیه اصحاب کرام او تابعین هم وه چي چیرته به د کوم حکم په هکله په کتاب الله او سنت نبوي کي پته ورته ونه لګېده هلته به یې د رأیي او قیاس څخه کار اخیستی، د مدینی منورې مفتي او مشهور محدث ربیع الرأیي خو بلکل په (رأیه) سره شهرت پیدا کړی دی، او عبدالله بن عباس ﷺ هم د قیاس له مخي د غاښو د دیت حکم د ګوتو د دیت د حکم په اعتبار، سره برابر بللی دی، لکه علامه الوسي چي وایي:

«قال ابن عباس فی الاسنان: اعتبر حکمها بالاصابع فی أن دیتها متساویة[۱]»، بلکه داسي روایت هم راغلی دی چي بعضو افقه اصحابو کرامو د هغو اصحابو کرامو حدیث چي فقاهت یې نسبت و دوی ته کم وو د رأیي او قیاس له مخي رد کړی دی، مثلاً: حضرت ابن عباس ﷺ د حضرت ابو هریرة ﷺ .هغه حدیث و نه مانه کله چي هغه وویل:

«الوضوء مما مسته النار»

ترجمه: «له هغه څه نه چي اور مسه کړی وي د اودس تازه کول لازم دي.»

د دغه روایت په جواب کي حضرت عبدالله ابن عباس هغه ته وویل:

---

[۱] روح المعاني: ج: ۲، ص: ۶۵

«لو توضأت بماء سخن أتتوضأ منه؟»

ترجمه: «کله چي ته په ګرمو اوبو اودس تازه کړې آیا بیرته د هغه له جهته اودس تازه کوې؟» او بل کله چي حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما واورېدل: «من حمل جنازة فليتوضأ»

ترجمه: «څوک چي جنازه یوسي اودس دي تازه کړي» ده رضي الله عنه د جواب په شکل ورته وویل:

«أتلزمنا الوضوء حمل العيدان اليابسة؟»

ترجمه: «آیا ته پر موږ باندي د وچي چهارپایي د وړلو څخه اودس تازه کول لازم ګرځوې؟»، او یا داچي حضرت علي کرم الله وجهه د (بروع) خبر په قیاس سره رد کړ[1].

له پورته لنډشاني وضاحت نه په زغرده دا ثابتیږي چي امام صاحب په قیاس او رأیه کي مسبوق دی له ده نه مخکي اصحابانو او نورو امامانو هم قیاس او رأیه کارولې ده.

## ولي د امام صاحب شهرت په رأیه او قیاس کي تر نورو زیاد سوی دی؟

سمه به خبره دا وي څرنګه چي اما صاحب له یوه پلوه په خپله تاجر وؤ او په مارکیټ (بازار) کي د عامو مسلمانانو احوال په روښني معاملاتو کي پوره ورته معلوم وؤ، له بله پلوه د یو فقیه مجتهد په حیث اعلم د زمانې وؤ، که وویل سي چي په فقهه تقدیري کي د ده ساری بلکل نه وؤ هم به مبالغه نه وي، او ورسره د زیاتي تقوی او احتیاط څښتن هم وؤ بناءً یې د

[1]: د (بروع) د حدیث تعریف ابوزهرة داسي کوي: «وهو حديث من اخذت المهر المثل وهى لم يسم لها المهر، و مات عنها زوجها»: ابوحنيفة حياته و عصره و ارائه و فقهه. ص: ٢٤٤

اول ځل لپاره، یا د کتاب او سنتو پر اساس او یا پر هغه باندې د قیاس او استحسان له مخې د ژوند په هره زره او لمحه کې د شریعت احکام معرفي او تشریح کړل، په دیني فروعاتو کې یې د خپل وخت ضروري مسائل او قضایا د فقهي تقدیري په شکل مطرح کړل او ډېرو مهمو مسائلو ته یې مخکې له مخکې لا معقول او د منلو وړ جوابونه تعین کړل، لکه په همدغه اړوند چې محمد ابوزهده لیکلي دي چې یو قول داسې راغلی دی چې امام صاحب شپېته زره مسئلې او په بل روایت درې سوه زره مسئلې په فقهه کې معرفي کړېدي[1].

ډېر داسې فروع به وي چې هغوی ته یې احکام د یو مشترک علت له مخې د مربوطه اصولو څخه د قیاس په اساس عبور ورکړی وي څکه خو به د امام صاحب څخه مسائل هم زیات نقل سوي وي چې په هغه کې به د فرعي او جزوي مسائلو کچه هم نسبت د وخت و نورو امامانو ته ډېره زیاته وي، نو کېدی سي چې د همدغه علت په وجه د امام صاحب شهرت په رأیه او قیاس کې زیات سوی وي. او دا هم له امکانه لرې خبره نده چې په علمي مسائلو کې د ده زیات شهرت د کینه ګرانو رخه او حسد راپارولی او د امام صاحب په شان کې یې ناسم اقوال له خولې وتلي وي.

او دا هم ممکنه ده چې د فقهي تقدیري په اصلي مقصد په پوره توګه د نه پوهاوي له کبله په دغه اړوند ځیني کسانو کوم داسې عمل سرته رسولي وي او یا یې داسې قول له خولې وتلی وي چې په هغه سره په قیاس کې د امام صاحب شهرت زیات سوی وي. لکه بعضو زاهد اشخاصو چې لا هم د ده د فقهي شهرت د مخنیوي په خاطر د احادیثو و وضع کولو ته مخه

[1]: امام ابوحنیفة حیاته وعصره وارائه وفقهه، ص: ۳۰۲

کړېده، مثلاً: ابن صلاح د موضوعة احاديثو په بحث کي وايي: ډېر مضر هغه موضوعه احاديث دي چي هغه کسانو چي زاهدين بلل کېده، د دوی په گمان يې د احتساب له مخي وضع کړيدي، خلکو د دوی موضوعات د ثقه په حيث منلي دي او پر دوی باندي يې اعتماد کړی دی، لکه چي وايي: « و أعظمهم ضرراً قوم من المنسوبين الى الزهد، وضعوا الحديث احتساباً فيما زعموا، فتقبل الناس موضوعاتهم ثقة منهم بهم و رکوناً اليهم[1].» او د دغه په مثال کي يې د نوح بن ابی مريم هغه قول راوړی دی چي هغه د دې په خاطر چي خلک د امام صاحب د فقهي څخه وگرځوي د ځان څخه يې احاديث وضع کول، لکه چي وايي:

«روينا عن ابي عصمة وهو نوح بن ابي مريم انه قيل له: من اين لك عن عكرمة، عن ابن عباس في فضائل القرآن سورة سورة؟ فقال: اني رأيت الناس قد اعرضوا عن القرآن، و اشتغلوا بفقه ابي حنيفة و مغازي محمد بن اسحاق فوضعت هذه الاحاديث حسبة[2].»

ترجمة: «موږ د ابي عصمة څخه روايت لرو چي هغه نوح ابن ابی مريم دی، ده ته وويل سوه: ته له کومه له عكرمة له ابن عباس څخه د قرآن د سورة سورة د فضائلو روايت کوی؟ ده ورته وويل: ما خلک وليدل چي د قرآن څخه يې مخ اړولی وؤ د ابيحنيفة په فقهه او محمد بن اسحاق د غزاگانو په بيان مشغول سوي وه ځکه ما دغه احاديث د احتساب له مخي وضع کړل.» تاسو وينئ لکه مخکي چي هم اشاره ورته وسوه چي يوتعداد کسان د نه پوهېدلو په اساس يوازي د امام صاحب نه بلکه د نورو امامانو هم مقابل گرځېدلي دي، لکه دغه زاهد چي د زهد له مخي د

---

[1]: مقدمة ابن صلاح، ج: ١، ص: ١٩

[2]: مقدمة ابن صلاح، ج: ١، ص: ١۶

قرآن عظيم الشان و تلاوة ته د ترغيب په اساس احاديث وضع كړي او خلک يې د فقهي څخه ، چې هغه د قرآن احکام دي او د قرآن د زده کولو څخه اصلي مقصد هم دغه دی، رااګرځوي، او يا يې د محمد بن اسحاق د غزواتو د بيان څخه رااګرځوي چې هغه د مجاهدينو حوصله ور زياته وي. لنډه خبره دا چې په هره برخه کي چې په امام صاحب پسي ناسم تبليغا سويدي هغه د منولو وړ علمي اساس او ريښه نلري. په رأيه او قياس کي هم امام صاحب د صالح سلفو په شان صحيحه ليار نيولې او بلکل يې د قرآن او سنتو کامل متابعت کړی دی.

## د احاديثو په علم کي د امام صاحب مقام

د دوؤ تېرو ملاحظاتو په دوام موږ غواړو چې دلته د امام صاحب څخه د احاديثو د روايت په هکله هم څه ووايو:

په احاديثو کي د امام صاحب د مقام په هکله خو زيات کتابونه ليکل سويدي، د ساري په توګه: العلامه المحدث الشيخ محمد عبدالرشيد النعماني يو مستقل کتاب د «مكانة الامام ابيحنيفة فى الحديث» په نامه ليکلی دی چې په همدغه اړوند يې ډېر مشهور روايات سره راجمع کړيدي او هم يې په دغه مورد کي په اوچت علمي انداز بحث کړی دی، او د «امام ابو حنيفة و علم الحديث» په ناه هم ښه او مفيد کتاب ليکل سوی دی، او «شرح مسند ابيحنيفة» هم له دغه جملې څخه د ذکر وړ کتاب دی. داسي نور هم زيات کتابونه ليکل سويدي، کېدی سي چې په دغه اړوند د زياتو علمي معلوماتو د حصول لپاره همدغه کتابونو ته مراجعه وسي.

په احاديثو کي د امام صاحب د کافي ذخيرې په هکله خو هډو دا پوښتنه نه پيدا کېږي چي د هغه علمي ذخيره دي په احاديثو کي کمه وي، ځکه چي د امام صاحب غوندي مجتهد چي په اجماع د امت سره يې اجتهاد منل سوی دی او د صالح سلفو څخه هم هيڅ يوه د هغه د علميت، تقوی او اجتهاد څخه سترګي ندي پټي کړي او هر يوه ور باندي اقرار او اظهار کړی دی، څنګه به د دغسي يو مجتهد په شان کي، چي د اسلامي نړۍ د اول درجه د مشهور فقهاؤ څخه دی، د احاديثو د علم اړوند ملاحظه په وجود راسي. په دغه هکله حافظ محمد بن يوسف الصالحي الشافعي په «عقود الجمان» کي وايي:

«كان ابو حنيفة من كبار حفاظ الحديث و اعيانهم. ولولا كثرة اعتنائه بالحديث ما تهيأ له استنباط مسائل الفقه، و ذكره الذهبي في «طبقات الحفاظ» ولقد اصاب واجاد[1].»

ترجمه: «ابو حنيفة رحمه الله د احاديثو د لويو حفاظ او ذواتو څخه وؤ، که د هغه ډېره توجه و احاديثو ته نه وای نو هغه ته د فقهي مسائلو استنباط نسوای مهياء کېدلای، او دغه خبره امام ذهبي په «طبقات الحفاظ» کي کړېده او په يقين سره و حق ته رسېدلی او ليار يې مندلې ده». لکه مخکي چي د قياس په بحث کي وويل سوه چي امام صاحب په فقهه کي په يوه روايت درې سوه زره او په بل روايت شپېته زره مسئلې معرفي کړيدي چي دا ټول د کتاب او سنتو د پوهي او حفظ سره مستقيم تړاو لري، يعني د هغه چا په شان کي چي قرآن او احاديثو پوهه يې د هغوی د مربوطه اصولو سره د کمال و سرحد ته نه وي رسولي د داسي مقام تصور ممکن ندی.

---

[1]: تأنيب الخطيب للكوثري، ص: ۳۰۴.

د احادیثو په روایت او علم کي د امام صاحب د مقام په هکله پخپله حافظ مولانا محمد ذکریا کاندهلوي هم په حاضر کتاب کي بحث ورباندي کړی دی چي د یو منصف متشبث لپاره ډېر فایده مند او د اطمنان وړ دی، ځکه خو دلته زیات نه ورباندي تم کیږو، صرف دلته غواړو چي په دغه اړوند په احادیثو کي د (خبرواحد) و سیر ته یوه لنډه کتنه وکړو.

## د بحث لپاره د خبر واحد ځانګړتیا

خبرواحد ځکه د بحث لپاره ځانګړی سو چي د احادیث په هکله چي د امام صاحب په شان کي کوم ملاحظات راغلي دي هغه ټول د خبرواحد په اړوند دي دا ځکه چي یو خو خبرواحد د متواتر په شاني قطعي الثبوته ندی بلکه په اتفاق سره نسبت و متواتر ته یې درجه ټیټه ده، او بل دا چي د متواتر حدیث سیر په ټولو ادوارو کي په یوه حالت کي قرار لري، او د ملاحظاتو په لحاظ په متواتر حدیث کي هیڅ نوع ملاحظه نسي کیدای او نه چا ورکي ملاحظه ویلې ده، بلکه د امام ابوحنیفة رحمه الله او امام مالک رحمه الله په عصر کي مشهور حدیث هم تر خبرواحد د مخه ګڼل سوی دی، لکه د امام ابوحنیفة رحمه الله په اصولو کي چي دا قاعده مقرره سوېده چي هرکله چي واحد خبر د مشهورخبر په مقابل کي راسي نو حجة په مشهور سره کیږي لکه چي وایي:

«و من اصوله فی الاخذ بخبر الاحاد ان لایخالف السنة المشهورة سواءاً کانت فعلیة او قولیة عملاً باقوی الدلیلین [1].»

---

[1]: الامام ابوحنیفة و علم الحدیث، بحث: اصوله فی الحدیث، و ایضاً من شرح مسند ابیحنیفة لملاعلي قاري ، ۱ ، ص: ۴

ترجمه: «او د احادو په خبر سره په اخذ کي د ده د اصولو څخه (قاعده) داده چي خبر واحد به د سنة مشهور مخالف نه وي، فرق نلري که سنت فعلی وي او که سنت قولي، دغه (قاعده) له دوؤ (دلايلو) څخه په هغه اقوی (دليل) سره د عمل په اساس (راغلې) ده». او د امام مالک ﷺ په اصولو کي هم داسي يو اصل مقرر سوی وؤ چي په مدينة کي د حديث شهرت حديث د سند د صحت څخه مستغني کوي، لکه چي وايي: «قال السيوطي فی التنوير: و من اصول الامام مالک ﷺ ان الشهرة الحديث بالمدينة تغنی عن صحة سنده»[1].

دا ځکه چي په هغه وخت کي غير اصطلاحي مشهور نه وؤ بلکه يوازي د اصولو سره برابر همدغه اصطلاحي مشهور وؤ چي له پيل نه بيا تر دوی پوري به په محصور شکل متعددو راويانو روايت ورڅخه کړی وؤ، او څرنګه چي د امام صاحب عصر و خيرالقرون ته نژدې او جوخت وؤ[2] نو ځکه خو دوی ته د هر راوي حال فرد په فرد معلوم وؤ، په همدغه اساس په هغه پېر (عصر) کي په صورت عموم سره تر متواتر حديث وروسته د ستي د مشهور حديث مقام وؤ، همدا وجه ده چي حتی په دې وروستيو پيړيو کي لا هم ځينو علماؤ لکه جصاص مشهور خبر له واحد خبر څخه مستقل او جدا ګڼلی دی، او علامه عثيمين هم په خپل تأليف «مصطلح الحديث» کي وايي چي د امام ابو حنيفة رحمه الله په وړاندي مشهور حديث له خبر واحد څخه جلا او مستقل او تر خبرواحد دمخه دی.

---

[1]: اوجز المسالک، ج: ۱، ص: ۲۴۴

[2]: امام صاحب د روئيت په اساس په اتفاق سره بيله کوم اختلافه تابعي دی او د روايت په اساس هم نويو محدث علماؤ د ده تابعيت ثابت کړی دی. مترجم.

## د احادیثو د اقسامو لنډه یادونه

مخکي تر دې چي د واحد خبر د سیر په سپړلو پیل وکړو ښه به دا وي چي د راویانو د عدد له مخي د احادیثو د اقسامو څخه یوه لنډه یادونه وکړو:
محمد ابو زهرة وایي: «په حقیقت کي د احادیثو او اصول الحدیث علماؤ د راویانو د عدد له مخي احادیث و درې قسمه ته وېشلي دي: احادیث متواترة، احادیث مشهورة او د احادو احادیث یا د امام شافعي رحمه الله په قول احادیث خاصة»[1]. د دغه دروؤ واړه قسمونو عام تعریف داسي دی:
الف: متواتر حدیث: هغه حدیث دی چي له اول نه تر آخره په زیات غیر محصور شمېر ثقه راویانو روایت کړی وي، چي د عادت له مخي د هغوی اجتماع پردروغو باندي محاله وي مثلاً لکه د قرآن انتقال، د پنځو فرضي لمنځونو انتقال، د فرضي لمونځونو د رکعتونو د تعداد انتقال او داسي نور.
ب: مشهور حدیث: هغه حدیث دی چي په اوله یا دوهمه طبقه کي لکه د خبر واحد د راویانو تعداد یې متعدد او محصور وي او پس له هغه زیات نشر سوی وي او د علماؤ داسي یوې ډلي نقل کړی وي چي د هغوی اجتماع پر درغو محاله وي.
دلته باید وویل سي چي د «کشف الاسرار» د مؤلف په قول شهرت په دوهم او دریم پیړیاني د تابعینو او تبع تابعینو په عصر کي معتبر دی، او

---

[1]: ابو حنیفة حیاته و عصره و فقهه و ارائه، ص: ۲۳۷

په وروسته زمانو کې بیا په نشر او شهرت سره حدیث د شهرت و درجې ته نه رسیږي یاني مشهور نه بلل کیږي[1].
بیا هم د یادوني وړ ده چې د مشهور حدیث دغه تعریف غالباً دُ اوّل پیړ اړوند دی، چې هغه وخت لا د «مصطلح الحدیث» علم زیات پراخوالی او بسط نهؤ مندلی او په هغه پیر کې یوازې اصطلاحي مشهور د حفاظو تر منځ مالوم او مروج وؤ، او مشهور د خبر واحد څخه جلا او مستقل وؤ.
ج: خبر واحد: خبرواحد د لغت له مخې هغه حدیث ته ویل کیږي چې یوه راوي یې روایت کړی وي، د اصطلاح له مخې هغه حدیث ته ویل کیږي چې چې په هغه کې د همدغه تقسیم بندي په اساس د متواتر او مشهور شروط نوي یو ځای سوي، یا په بل عبارت د راویانو شمېر یې لږ وي.
د پورته تقسیم بندي په اساس خبر واحد بیا و عزیز او غریب ته وېشل کیږي. مګر د اصول الحدیث د علماؤ د عام معمول له مخې په لمړي سر کې احادیث وه دوه قسمه ته وېشل کیږي؛ اول: متواتر، دوهم: خبرواحد[2]، د همدغه تقسیم بندي له مخې بیا خبرواحد د راویانو د شمېر له مخې و مشهور، عزیز او غریب ته وېشل کیږي. په همدغه اساس مشهور هغه حدیث دی چې د راویانو تعداد یې درې یا له درې څخه زیات وي تر څو چې د تواتر و حدته نه وي رسېدلی، او عزیز هغه حدیث دی چې د راویانو شمېر یې له دوؤ څخه کم نه وي، و بالاخره غریب هغه حدیث دی چې یوه فرد یې روایت کړی وي، په دې لحاظ د فرد په نامه هم یادیږي.

---

[1]: ابوحنیفة حیاته و عصره ... ، ص: ۲۳۷

[2]: تیسیر المصطلح الحدیث، ص: ۱۸

همدغه خبرواحد بیا به د صحیح او سقیم و اقسامو ته وېشل کېږي. اوس نو که خبر مشهور د اول پېر د تعریف له مخې معتبر و ګڼل سي نو د خبرواحد د اقسامو څخه وتلی او سقیم نه پکې راځي یاني ټول صحیح دي، او که د حدیثو د علماؤ د عام معمول له مخې خبرمشهور د خبرواحد جز و ګڼل سي بیا نو کیدی سي چې مشهور هم د عزیز یا غریب په شاني صحیح وي یا سقیم
د بحث د اوږد والي څخه د ځانساتني په خاطر نور بحث دلته لنډه وؤ او په احادیثو کې د خبرواحد و سیر ته راځو:

**د خبرواحد سیر**

اصلاً د خلفای راشدینو له اول خلافت نه شروع بیا د امام احمد بن حنبل رحمه الله تر پېر پوري د خبر واحد سیر په یوه مرحله کې دی، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله په عصر کې بیا د همدغه سیر بله مرحله پیل کېږي.
په حقیقت کې دغه دواړه مراحل د اسلام د صیانت او حفاظت په خاطر د اصحابو کرامو، تابعینو او امامانو د زیات کوښښ او زیار نتیجه ده؛ هغه په دې لحاظ چې اوله مرحله چې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه له خلافت څخه پیل کېږي په همدغه مرحله کې موخه او هدف د الهي امانت یاني قرآن عظیم الشان سالمیت او حفاظت وؤ، او بله مرحله چې د امام احمد بن حنبل رضي الله عنه څخه پیل کېږي په همدغه مرحله کې د حدیثو چاڼ شروع سو، د صحیح او سقیم احادیثو د بېلولو په خاطر پر موجودو اصولو برسېره نوي اصول رامنځ ته سول، د روایت و اصولو ته زیاته توجه وسول.
د احادیثو د سیر په اوله مرحله کې، لکه چې د کتاب د مطالعې په وخت کې به تاسو ورسره مخ شئ، کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه

سو نو د مهمو نصائحو څخه یې یو هم دا نصحیت وؤ چې خلکو ته به یې ویل تاسو د احادیثو ډېر روایت مه کوئ ځکه چې په تاسو پسې به خلک د احادیثو په روایت کې په شدید اختلاف سره اخته سي[1]. حضرت عمر ﷺ به د احادیثو د زیات روایت څخه ټینګ ممانعت کاوه[2]، د احادیثو د لیکلو او را ټولولو په هکله د حضرت عمر ﷺ رأیه او منهج امام سیوطي لیکلی دی لکه چې وایي:

«و ذکر سیوطي أن عمر بن الخطاب رض اراد ان یکتب السنن. و استشار فیه اصحاب رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فاشار علیه عامتهم بذالك. فلبث عمر رض شهراً یستخیر الله في ذالك شاكاً فیه. ثم اصبح یوماً و قد عزم الله تعالی له. فقال: اني كنت ذكرت لكم من كتابة السنن ما قد علمتم. ثم تذكرت. فاذاً أناس من اهل الكتاب قبلكم قد كتبوا مع كتاب الله كتاباً فاكبوا علیها. و تركوا كتاب الله. و اني و الله لا البس كتاب الله بشئ. فترك كتاب(ة) السنن[3]».

ترجمه: «سیوطي ویلي دي: په یقین سره عمر ﷺ اراده وکړه چې سنن ولیکي، په دغه کې یې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د اصحابو څخه مشوره و غوښتل، دوی په صورت عموم په دغه (کتابت) سره مشوره ورکړه، عمر ﷺ درنګ وکړ، نو یوه میاشت یې په دغه کې استخاره وکړه ځکه چې دی په دغه کې متردد وؤ، بیا یوه روځ سهار راووتی او په تحقیق سره الله ده ته پر هغه باندي ټینګ عزم ورکړی وؤ، نو یې وویل: زه چې وم تاسو ته مې یادونه کړې وه د هغه سننو د لیکلو چې یقیناً تاسو ته

---

[1]: اوجز المسالك. ج: ۱، ص: ۱۹۱

[2]: اوجز المسالك. ج: ۱، ص: ۱۸۹

[3]: مخکنی مرجع. ص: ۶۷

معلوم دي، بیا یادونه کوم، په دغه باره کي مخکي له تاسو خلک وه د اهل کتابو څخه چي هغوی د کتاب الله سره یو ځای نور څه هم ولیکل پر هغه باندي پر مخي ولوېدل، او دوی کتاب الله پرېښود، او زه چي یم په الله سره قسم کوم چي په کتاب الله سره به هیڅ شی ګډ نه کړم، ځکه خو د سننو لیکنه پاته سول.» له دغه نه د حضرت عمر ﷺ منهج بلکل ښکاره او جوت دی چي هغه ﷺ ځکه د احادیثو په روایت او لیکنه کي ډېر احتیاط کاوه چي د قرآن سره نور څه ګډ نسي. او د قرآن عظیم الشان د حفاظت او سالمیت په هکله رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«أنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ[1] (په تحقیق سره نبي کریم صلی الله علی و سلم فرمایلي: تاسو زما څخه هیڅ شی بېله قرآنه مه لیکئ، او هغه څوک چي زما څخه بېله قرآنه بل څه ولیکي هغه دي محوه کړي.)» همدا وجه وه چي عبدالله ابن مسعود غوندي جلیل القدره اصحابو کرامو به هم په روایت کي ډېر احتیاط کاوه[2] او د رسول الله صلی الله تعالی علیه و سلم څخه به یې ډېر روایت نه کاوه، او په دغه کي مؤلفینو بل لامل داهم ویلی دی چي دوی ځکه ډېر احتیاط کاوه چي د هغه متواتر حدیث په وعید کي شامل نسي چي فرمایي: «من کذب عليّ متعمداً فلیتبوأ مقعده مِنَ لنّار (څوک چي زما په هکله په قصد سره دروغ ووایي نو خپل ځای ناستی دي په اور کي اماده کړي.)» له دې نه بغیر نور لاملونه هم مؤلفینو ذکر کړیدي: لکه مخکي چي ذکر سوه یو سبب دوی دا ښودلی دی چي ځکه دوی ډېر

[1] مخکني مرجع، ج: ۱، ص: ۶۷ د صحیح مسلم په حواله.

[2] مخکني مرجع، ج: ۱ ص: ۱۹۱

احتياط کاوه چې په قرآن عظيم الشان داسې څه ګډ نسي چې هغه له قرآن څخه نه وي، او بل دا چې په هغه وخت کې لا ليک دومره رواج نه وؤ موندلی ځکه خو د دوی يادښت هم ډېر وؤ او ذهن يې هم پراخ وؤ بناءاً و ليکني ته د سره ضرورت نه وؤ لکه په «المستطرف» کې چې وايي: «قال بن حجر في أول مقدمة فتح الباري ما نصه اعلم ان اثار النبي صلى الله عليه وسلم لم تكن في عصر الصحابة وكبار التابعين مدونة في الجوامع ولا مرتبة لامرين أحدهما انهم كانوا في ابتداء الحال قد نهوا عن ذلک کما ثبت في صحيح مسلم خشية ان يختلط بعض ذلک بالقران العظيم وثانيهما لسعة حفظهم وسيلان اذهانهم ولان أکثرهم کانوا لا يعرفون الکتابة» ترجمه: «په تحقيق سره ابن حجر د «فتح الباري» د مقدمې په اول کې ويلي دي چې متن يې داسې دی: پوه سه چې په يقين سره د نبي کريم صلی الله تعالی عليه و سلم آثار د اصحابو او لويو تابعينو په وخت کې په کتابونو کې په دوه دليله سره راټول سوي او مرتب سوی نه وه، اول دليل: په تحقيق سره اول سر دوی له دغه (د احاديثو له راټولولو) څخه لکه څنګه چې په صحيح مسلم کې چې ثابته سويدې له دې ويرې منع کوله چې ځيني يې له قرآن سره خلط او ګډ نسي.

دوهم دليل: د دوی د پراخ يادښت (حفظ) او روان وسيع ذهن له کبله، ځکه چې په هغه وخت کې دوی اکثره له ليکني سره اشنا نه وه».

په همدغه مرحله کې دغه د احتياط لړۍ همداسې روانه وه خو صرف د لوړ پوړ تابعينو د حفظ اجازه ورته ورکړله او د کتابت په هکله هماغه نظر، له دې ويرې چې له قرآن څخه په نور څه مشغول نسي، په هماغه شان دوام درلود لکه چې وايي: « قال ( مکي ) في ( القوت ) کره کتبه يعني الحديث الطبقة الأولى من التابعين خوف أن يشتغل به عن القرآن فکانوا

يقولون : احفظوا كما كنا نحفظ . وأجاز ذلک من بعدهم[1]». له دغه نه ثابتيږي چي د لوړپوړ تابعينو له دور نه پس د احاديثو د ليکني اجازه څه نا څه وسول ياني لويو تابعينو د احاديثو و ليکني ته اجازه نه ورکول. ورپسي د همدغه مطلب په ادامه کي نوموړی کتاب د مؤثقو منابعو په حواله زياتوي او وايي چي د لوړ پوړ تابعينو په ژوند کي په احاديثو کي کتاب ندی ليکل سوی، مګر د حسن او مسيب او نورو لوړپوړ تابعينو تر وفات وروسته تأليفات شروع سول، چي له هغه جملې نه په اثاروکي او يواندازه د عطاء، مجاهد او نورو په حواله د ابن عباس په تفسير کي اول د ابن جريج کتاب دی چي په مکه کي وليکل سو، بيا د سننو په هکله د معمر بن راشد اليماني کتاب دی چي په يمن کي وليکل سو، ورپسې موطأ د مالک ده، بيا جامع د سفيان ثوري او جامع د سفيان بن عيينية دي چي په آثارو او يو څه په تفسير کي ليکل سويدي. دغه پنځه هغه ليکني دي چي په اسلام کي د سننو په هکله ليکل سويدي.

په دغه مرحله کي لکه خپله چي د «خبرواحد» سير د تغير په حال کي دی همداسي د هغه د اصولو سير هم د تغير په حال وؤ، لکه څنګه چي په اول سر کي خصوصاً د شيخينو په دوره کي د ضرورت نه بغير د احاديثو روايت ډېر کم وؤ[2]، او په ورپسې دور کي بيا په تدريج سره د احاديثو روايات زيات سول ان تردې چي د کبارو تابعينو تر وفات وروسته د احاديثو جوامع وليکل سوه، همدا سي د احاديثو د اصولو سير هم وګڼه؛ هغه په دې لحاظ چي په اول سر کي خو ټول راويان خپله اصحاب کرام وه

---

[1]: الرسالة المستطرفة ، ص: ۷

[2]: اوجز المسالک ، ج: ۱ ، ص: ۱۹

او تول په مستقیم ډول د حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی علیه وسلم د فعلي او قولي ښوونو څخه متأثر سوي وه، ځکه خو د هیڅ یوه په شان کي د خلاف ویلو فکر هم نه کېده، مګر صرف کله کله به د احتیاط له مخي په روایتونو کي د دوهم شاهد غوښتنه هم کېدله، لکه حضرت ابوبکر صدیق چي د حضرت مغیرة بن شعبة څخه په هغه روایت کي شاهد طلب کړ کوم چي هغه د رسول کریم صلی الله تعالی علیه وسلم څخه روایت وکړ چي په میراث کي د انا حق شپږمه حصه ده، او هغه هم حضرت محمد بن سلمة ﷺ د خپل روایت د تأیید لپاره د شاهد په صفت حاضر کړ[1]. بناءاً حضرت صدیق ﷺ هم په میراث کي د انا حق شپږمه حصه مقرر کړ.

او په دغه دوره کي چي لا فتني نه وې ډېري سوي د احادیثو په روایاتو کي د اِسناد ډېر ضرورت هم نه محسوس کېده لکه د ابن سیرین څخه چي داسي یو روایت هم راغلی دی:

«وماكنانسند الحديث، الى ان وقعت الفتنة»[2].

په وروسته زمانو کي کله چي و اسلام ته د فتنو مخه سول ځکه خو د احادیثو روایات هم پاک او سالم نسول پاتي، ځینو خود غرضو او منحرفو ډلو د خپلو شومو اغراضو او مقاصدو لپاره احادیث وضع کړل، همدا وجه وه چي د ثقه روایاتو د معلومولو لپاره د احادیثو په هکله یو لړ اصول رامنځ ته سول، د هر چا څخه هر روایت نه اخستل کېده، د فتوی منابعو او فقیه امامانو د روایت په اخستلو کي سخت شرایط وضع کړل،

---

[1]: الامام ابوحنيفة عصره وحياته ... ، ص: ۲۴۲ د مؤثقو منابعو په حواله.

[2]: الامام ابوحنيفة عصره وحياته ... ، ص: ۲۶۴ د مؤثقو منابعو په حواله.

او د هر حديث د اِسناد معلومي لياري بيان سوي، د احاديثو د روايت لپاره د حفظ، پوهي، او احتياط څښتنان په ګوته سول او د اسلامي فتوی د صدور د مرجع په حيث و پيژندل سوه، لکه په مکه معظمه کي عطاء ابن ابي رباح، او په مدينه منوره کي ربيع الرأيي، په کوفه کي نخعي او داسي نور. امام صاحب هم د دغه لړی د آخري پوړی ډېر محتاط او د اصحابو کرامو خصوصاً د خلفای راشدينو او عبادله ؤ تېنګ پيرو ؤ، ځکه خو يې د مستقيم حديث په روايت کي ډېر احتياط کاوه، د علامه کوثري په قول امام صاحب د نورو محدثينو په دود د هر قسم احاديثو د ليکلو او املاء لپاره مجلسونه نه تړل، بلکه د ده مجلس د فقهي او فقاهت مجلس وؤ چي همېشه به فقيه او مجتهد علماء وربانديز حلقه وه چي د فقهي احکامو د استنباط لپاره به يې د هغه احاديثو حفظ او پلټنه کوله چي فقه به ورکي موجود وه[1]، لکه په دغه هکله چي اسرائيل بن يونس وايي:

«نعم الرجل النعمان. ما كان أحفظه لكل حديث فيه فقه، وأشد فحصه عنه وأعلمه بما فيه من الفقه[2].»

ترجمه: «ښه حافظ وؤ نعمان. څومره ډېر يې په ياد ول هر هغه حديث چي په هغه کي به فقهه وه له هغه څخه به يې سخته پلټنه کول او اعلم په هغه (حديث) سره وؤ چي په هغه کي به فقهه وه». ياني د احاديثو د ضبط او حفظ په انتخاب کي يې د حديث پر صحت، د راوي پر عدالت او نورو اصافو برسېره د رواي فقاهت ته هم کتل.

---

[1]: من هامش مناقب ابيحنيفة و صاحبيه للذهبي، ص: ۴۴

[2]: حياة الامام ابوحنيفة ... للعفيفي، ص: ۱۸۲

## د حکم په استنباط کې د راوي د شخصيت مؤثريت او د فقاهت اصل

امام صاحب د حکم د استنباط لپاره د روايت په قبلولو کې نه يوازې داچې د راوي شخصيت او عدالت مدنظر نيوی بلکه د راوي و فقاهت ته يې هم زياته توجه کوله د بېلګې په توګه: سفيان بن عيينة روايت کوي او وايي: کله چې امام اوزاعي او امام ابوحنيفة رحمه الله د مکې معظمې په دارالخياطين[1] کې سره يوځای سول، امام اوزاعي رحمه الله و امام ابوحنيفه رحمه الله ته وويل: څه شان دی تاسو لره چې په لمانځن کې د رکوع او سجدې په وخت کې لاسونه نه پورته کوئ؟ امام ابوحنيفة رحمه الله ورته وويل: دا ځکه چې دا د رسول کريم صلى الله عليه وسلم څخه ندي صحيح (ثابت) سوي! امام اوزاعي ورته وويل: «قد حدثني الزهري، عن سالم عن ابيه، عن رسول الله صلى الله تعالى عليه و سلم انه كان يرفع.» ترجمه: «په يقين سره ماته حديث ويلی دی زهري، هغه د سالم څخه، هغه د خپل پلار څخه، هغه د رسول الله صلى الله تعالى عليه و سلم څخه چې هغه (صلى الله تعالى عليه و سلم) لاسونه پورته کول»، امام ابوحنيفة رحمه الله ورته وويل: «حدثنا حماد، عن ابراهيم، عن علقمة و اسود، عن ابن مسعود ان رسول الله صلى الله تعالى عليه و سلم لا يرفع يديه الا عند افتتاح صلاة، و لايعود الى شئ من ذالک[2].» ترجمة: «موږ ته د حديث روايت کړی دی: حماد، هغه د نخعي څخه، هغه د علقمة او اسود څخه، هغوی د ابن مسعود څخه چې په تحقيق سره رسول الله صلى

---

[1]: د موفق په کتاب کې او په مرقات شرح مشکاة کې د دارالخياطين پر ځای دارالحناطين ليکل شوی دی.

[2]: امام بخاري - رحمه الله - هم دغه ته ورته يو روايت په «قرة العينين برفع اليدين فی الصلاة» کې لري لکه چې وايي: « قال البخاري ويروی عن سفيان عن عاصم بن كليب عن عبد الرحمن بن الأسود عن علقمة قال: قال ابن مسعود رضی الله تعالى عنه: ألا أصلي لكم صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم فصلى ولم يرفع يديه الا مرة».

الله تعالی علیه و سلم په لمانځه کي لاسونه نه پورته کول مګر د لمانځه په شروع کي او و دغه (لاس پورته کولو) ته بیا هیڅ نه راګرځېده.» امام اوزاعي ورته وویل: زه د زهري د سالم او د هغه د پلار څخه حدیث درته وایم، او ته راته وایي چي موږ ته حدیث ویلی دی حماد د ابراهیم څخه ...، ابو حنیفة رحمه الله ورته وویل: حماد تر زهري افقه وو، ابراهیم تر سالم افقه وو که عبد الله ته فضیلت د صحبت نه وای حاصل نو به مي درته ولي وای چي علقمة تر عبد الله افقه وو، اسود هم د لوی فضیلت څښتن وو او عبد الله (ابن مسعود) خو عبدالله وو[۱]، موفق په دغه اړوند وایي چي اوزاعي د دغه روایت په اورېدلو سره سکوت وکړ[۲].

له دغه مناظرې نه ښکاره جو ته ده چي امام صاحب د فقهي احکامو د استنباط لپاره د روایت په اخستلو کي د افقه او فقیه د روایاتو تر منځ هم په توپیر قائل وو، او په اصولو کي یې دغه ټکی د یو اصل په توګه مقرر کړی وو، لکه مولانا کاندهلوي چي د سمعاني په حواله وایي چي ابو حنیفة رحمه الله د (فقهي استنباط لپاره) د حدیث په صحت کي د راوي فقاهت شرط ګڼلی دی[۳]. اصلاً په روایت کي د فقاهت رعایت د هماغه عصر د عمده اصولو څخه شمېرل کېږي، په «خیرات الحسان» کي د ابن شبرمه څخه هم داسي روایت راغلی دی چي هغه به ویل: «اقلل روایة و تفقه[۴]» ترجمه: «روایت لږ کوه خو فقهي پوهه حاصله کړه»، او د حافظ

---

[۱]: اوبوحنیفة عصره و حیاته ...، ص: ۲۴۴

[۲]: مناقب ابیحنیفة للموفق، ج: ۱، ص: ۱۳۱

[۳]: اوجز المسالک، ج: ۱، ص: ۲۴۷

[۴]: الخیرا الحسان، ص: ۴۹

ابن عبدالبر څخه هم په (عقود الجمان) کي د هغه وخت د يو عام فکر بيان داسي راغلی دی:

«الذي عليه فقهاء جماعة المسلمين و علماؤهم ذم الاكثار من الحديث بدون تفقه و لا تدبر[1]»

ترجمه: «هغه څه چي پر هغه باندي فقهاء دي او پر هغه باندي د علماؤ اکثريت او مسلمانانو اکثريت دی هغه بنه نه ګڼل د ډېرو احاديثو روايت دی بې له فقهي پوهي او بې له غور او تدبر څخه.» دا د هغه وخت د طرز تفکر يو عمومي برداشت يا عمده اصل دی چي ډېر روايت بې له فقهي پوهي او بې له زيات غور او تدبر څخه سم نه ګڼل کېده، بلکه لکه څنګه چي مولانا صاحب کاندهلوي ذکر کړيدي او تاسو به د کتاب د مطالعي په وخت ورسره مخ شئ چي د خلفای راشدينو خصوصاً د شيخينو .رضی الله تعالى عنهم.د خلافت په وخت کي هم اصولي طريقه داسي وه چي کله به د يو حکم د صدور ضرورت محسوس سو نو د هماغه مسئلې د اړوند روايت پلټنه به کېدله، لکه مخکي چي وويل سوه چي حضرت صديق د حضرت مغيرة بن شعبة څخه په ميراث کي د انا د حصي د تعين په خاطر شاهد طلب کړ. په خيرالقرون کي د فقاهت اصل دومره عمده نيول سوی دی چي د مشهورو امامانو څخه د يوه امام عمل په يو حديث سره د هغه حديث د صحت لپاره کافي بلل سوی دی[2]، په همدغه ارتباط مولانا صاحب د اعمش قول رانقل کړی دی او وايي: «ولذا قال اعمش: حديث

---

[1]: پورته ذکر سوې مرجع.

[2]: اوجزالمسالک، ج: ۱، ص: ۲۵۱

يتداوله الفقهاء خير من حديث يتداوله الشيوخ[1].» ترجمه: «او په همدغه ارتباط اعمش ويلي دي: هغه حديث چي فقهاء يې سره واړوي تر هغه حديث ښه دی چي شيوخ يې سره واړوي». او د دغه اړوند مولانا ذکريا صاحب د امام احمد ابن حنبل رحمه الله هغه تأثرات رانقل کړيدي چي امام احمد ابن حنبل رحمه الله د فقيه د مجلس لپاره د لوړ محدث د مجلس پرېښودل ښه ګڼل، لکه چي وايې:

«و لام انسان احمد في حضوره مجلس الشافعي، و تركه مجلس سفيان بن عيينة، فقال له احمد: اسكت! فان فاتك حديث بعلو تجده بنزول، و لايضرك، و ان فاتك مجلس عقل هذاالفتى أخاف أن لاتجده، حكاه السيوطي في التدريب[2].»

ترجمه: «يو سړي و احمد ته پره ورواړول د شافعي و مجلس ته ورتګ په خاطر او د سفيان بن عيينة د مجلس د پرېښودولو په خاطر، احمد هغه ته وويل: چپ شه، که ستا څخه حديث په لوړ سر کي پاته سي په لاندي پوړ کي به يې تر لاسه کړې! او تاته نقصان نسته، او که ستا څخه د دغه ځوان عقل پاته سي زه ويرېږم پردې چي بيا به يې پيدا نکړې!، دغه حکايت سيوطي په (تدريب) کي راوړی دی». او همدا ډول عبدالفتاح ابوغده د «موطأ امام مالک بِرِاوية محمد بن حسن» په مقدمه کي د شيخ الاسلام ابن تيمية په حواله د امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه نقل قول لري او وايي:

«قال امام احمد بن حنبل رحمه الله: معرفة الحديث و الفقه فيه احب الى من حفظه»

---

[1]: پورته ياده سوې مرجع

[2]: پورته ياده سوې مرجع.

او همداغه رنګه په دغه تړاو د علي بن المديني څخه روايت کوي چې ويل يې: «اشرف العلم الفقه فی متون الاحاديث و معرفة احوال الرواة.» او له نوموړي علي بن المديني څخه بل روايت وايي: «کان حديث الفقهاء احب اليهم من حديث المشيخة». او حافظ خطيب بغدادي په «الکفايه» کې د «باب القول فی ترجيح الاخبار» په مبحث کې هم د فقيه د حديث فضيلت د نورو راوايانو پر حديث باندې په خورا تفصيل سره بيانوي، بلکه نوموړی حافظ خطيب بغدادي د فقيه او د فقيه د روايت د فضيلت په اړوند ځانته ځانګړی کتاب د «الفقيه و المتفقه» په نامه لري چې په هغه کې د فقهاؤ او د فقهاؤ د حديث د فضيلت په اړوند خورا اوږده بحثونه سويدي چې کېدای سي د زياد تفصيل لپاره و نوموړو مراجعو ته مراجعه وسي.

امام صاحب هم له يوه پلوه د لوړ پوړ اصحابو کرامو په کامل متابعت کې او له بله پلوه د خپل وخت د متقي علماؤ او فقهاؤ د منل سوو اصولو په رعايت سره همدغه د فقاهت او روايت لپاره نېولې وه.

## د حفظ او حافظيت اصل

پرته د فقاهت د اصل نه امام صاحب نور هم په روايت کې ډېر احتياط کاوه، خاص بيا د حفظ او حافظيت اصل هغه ډېر مهم ګڼلی وو، په همدغه لحاظ ابن صلاح د ده او امام مالک رحمه الله مذهبونه د تشدد د مذاهبو څخه بللي دي، لکه چې وايي:

«و من مذاهب التشديد مذهب من قال: لا حجة الا فيما رواه الراوي من حفظه وتذكره. و ذالك مروى عن مالك و ابيحنيفة رضى الله تعالى عنهما و ذهب اليه من اصحاب الشافعي ابوبكر الصيدلاني المروزي[1].»

ترجمة: «او د تشدد د مذاهبو څخه هغه مذهب دی چي وايي: (روايت لره اعتبار) د حجت نسته مګر هغه روايت لره چي راوي يې د خپل ياد او حفظ څخه روايت وکړي، او دغه روايت د مالک رحمه الله او ابو حنيفة رحمه الله څخه راغلی دی او د شافعي رحمه الله د اصحابو څخه ابوبکر الصيدلاني المروزي و دغه خواته تللی دی».

يعني دوی د فقهي د احکامو د استنباط لپاره يوازي هغه روايت اخستی چي راوي د خپل ذهن او حفظ څخه د هغه روايت کړی وای.

## په روايت کي د احتياط مطلب

په روايت کي د احتياط معنی دانه ده چي امام صاحب په احاديثو کي د لويي برخي څخبتن نه ووْ، ځکه: يو څوک چي په فقه کي لږ تر لږه شپېته زره مسئلې معرفي کوي که له هغه جملې څخه يې يوازي د شلو زرو مسئلو استنباط د احاديثو څخه کړی وي نو ته فکر وکړه چي په احاديثو کي به د څومره لويي برخي څښتن وي، پداسي حال کي چي ده به د هري مسئلې لپاره دوه يا درې احاديث پلټل تر څو چي کوم حديث به د روايت او درايت له مخي د منل سوؤ اصولو سره برابر ووْ نو هغه به يې د حجت او استدلال لپاره ومانه، لکه په همدغه اړوند چي امام يوسف وايي: «کله چي به يې د يو قول (حکم) په هکله تصميم ونيو نو زه به د کوفې پر مشايخو وګرځېدلم چي که د ده د قول د تقويت لپاره کوم حديث يا اثر

---

[1]: مقدمة د ابن صلاح، ج: ۱، ص: ۴۴

پیدا کړم، ډېر ځلي به ما دوه یا درې حدیثه پیدا کړل او چي ده ته به مي راوړل نو ده به د هغه په هکله راته وویل: دا غیر صحیح دی یا دا غیر معروف دی، نو ما به ورته وویل: ته څنګه له دغه خبر سوې پداسي حال کي چي دغه ستا د قول موافق هم دی، نو ده به راته وویل: زه د کوفې د اوسېدونکو په علم سره عالم یم»[1].

**مرسل حدیث او امامین هریو امام مالک رحمه الله او امام ابو حنیفة رحمه الله**

امام صاحب چي د احادیثو په روایت کي د کومو اصولو رعایت کاوه هغه په لنډه توګه حافظ مولانا ذکریا کاندهلوي – رحمه الله تعالی – لیکلي دي چي د کتاب د مطالعې په وخت به تاسو ورسره مخ شئ، خو صرف د کوم شي چي دلته یې یادونه بې ځایه نده هغه داده چي امام صاحب او امام مالک صاحب هریوه په مرسل حدیث سره حجة او استدلال کړی دی، بلکه امام مالک صاحب په موطأ کي بلاغات هم لري مثلاً کله چي د روایت پر سند پوره باور ولري نو په مکمل ډول د روایت د سند یادونه نکوي فقط وایې: «بلغني عن ابی هریرة ...[2].» ورپسې ټوله حدیث ذکر کړي د نورو اصحابو څخه هم په دغه شکل روایات بیانوي، او امام شافعي صاحب هم د سعید بن مسیب او نورو ثقاتو مرسل احادیث د حجت او استدلال تر سرحده منلي دي.

هغه مرسل احادیث چي امامانو استدلال په کړی دی د هغه درجه او حال دوی ته ښه معلوم وو، خصوصاً امام صاحب چي خپله هم د تابعینو له ډلي څخه دی کله چي یې د کوم راوي څخه د کوم فقهي حکم د استنباط لپاره

---

[1]: اوجزالمسالک، ج: ۱، ص: ۱۸٦

[2]: اوجزالمسالک، ج: ۱، ص: ۱۱۲

کوم روایت انتخاب کړی وي هغه راوي له ثقه لویو فقیه تابعینو له جملې څخه وي لکه عطاء، نخعي، زید بن انیسة او داسي نور.
هغه مرسل احادیث چي نوموړو درو واړو امامانو استناد په کړی وي که له دغه طریقه د سند له مخي مرسل معرفي سوي وي خو هماغه حدیث له بل طریقه بیرته وصل سویدي، لکه امام حافظ ابن عبدالبر چي د امام مالک د موطأ ټوله مرسل احادیث بې له څلور احادیثو وصل کړیدي[1].
اصلي خبره داده چي د مذهب امامانو د هر چا مرسل روایت د حجت او استدلال لپاره ندي قبول کړي، بلکه یوازي د منل سوو ثقاتو روایات یې د احادثو د اصولو سره سم قبول کړیدي، هغه هم هغه مرسل روایات چي د دوی یقین وو چي دغه ثقه راوي د دغه روایت د سند ټوله سلسله په متصل ډول تر جناب محمد مصطفی صلی الله علیه و سلم پوري د ثقاتو له طریق رسولای سي، بلکه په یقین سره به دوی ته هم دغه سلسله معلومه وه، د هغه وخت د دود او دستور سره سم به یې د خپلو صالح اسلافو په متابعت کي د کوم لامل له مخي په مرسل ډول سره بیان کړی وي[2]، دغه لاندي لنډ شاني وضاحت د همدغه ادعا لپاره بنه ثبوت دی.
لکه مخکي چي یادونه وسوه د احایثو د سیر په شان د احادیثو د اصولو سیر هم د تغیر په حال کي وو، د ساري په توګه په اصولي لحاظ د خبرواحد په اقسامو کي مرسل هغه حدیث دی چي تابعي مستقیماً د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه د کوم حدیث روایت وکوي، د همدغه مرسل حدیث په اړوند یو وخت یو نظر موجود وؤ او په وروستې

---

[1]: اوجزالمسالک، ج: ۱، ص: ۱۱۱

[2]: ابوحنیفة عصره و حیاته ... ، ص: ۲۶۶

زمانو كي بيا د مرسل په اړوند نظرتغير وموند. لكه ابوزهرة چي په همدغه ارتباط ويلي دي: د ابو حنيفة په زمانه كي د ثقاتو د مرسل منل يو منل سوى حقيقت وۀ. بلكه د ځينو ثقاتو مرسل احاديث خپله د هغوى په قول نسبت و متصل احادثو ته په درجه كي لوړ دي، لكه حسن بصري چي به ويل:

«كنت اذا اجتمع اربعة من الصحابة على حديث ارسلته ارسالاً[١].»

ترجمة: «زه چي يم هر كله چي څلور صحابه د يوه حديث (پر روايت) سره يوځاى سي زه هغه حديث په مرسل (شكل) وايم په ارسال (روايت) سره» او همدا رنګه د ده څخه بل روايت دى چي وايي: «و متى قلت لكم حدثني فلان، حديثه لاغير، و متى قلت: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم، اكون سمعته من سبعين او اكثراً[٢].» ترجمة: «هر كله چي تاسوته ووايم: (حدثني فلان) بس دا يوازي د دغه شخص روايت دى نه د بل چا، او هر كله چي زه ووايم: (قال رسول الله صلى الله عليه و سلم) ما دغه روايت له اويا نفرو څخه اوربدلى وي يا ډېر تر هغه». د اعمش څخه هم داسي روايت راغلى دى چي ويل يې:

«قلت لابراهيم: اذا رويت لى حديثاً عن عبد الله فاسنده لي! فقال: اذا قلت لك حدثني فلان عن عبدالله، فهو الذي روى لى ذالك، و اذا قلت: قال عبدالله، فقد رواه لي غير واحد[٣].»

---

[١]: ابوحنيفة عصره و حياته ... ، ص: ٢٦٦ ، د موثقو منابعو په حواله.

[٢]: پورته ياده سوې منبع.

[٣]: پورته ياده سوې منبع.

ترجمه: «ما ابراهیم ته وویل: هر وخت چي ته ماته د عبدالله څخه د حدیث روایت کوي نو هغه راته مستند کړه! هغه راته وویل: هر کله چي زه درته ووایم: ماته فلاني حدیث له عبدالله څخه ویلی دی، نو دا هغه حدیث دی چي یوازي یې ده روایت کړی وي، او هر کله چي زه ووایم: عبدالله ویلي دي، نو په یقین سره چي دغه (روایت) ماته برسېره پر یوه روایتکوونکي نورو هم روایت کړی وي».

علامه کوثري وايي چي په قرون فاضله کي په مرسل حدیث سره احتجاج د ټول امت یو منل سوی میراثي سنت وؤ، او ورپسې د ابن جریر قول راوړي او وايي: «قال ابن جرير: ردّ المرسل مطلقاً بدعة حدثت في رأس المأتين. اه . كماذكره الباجي في اصوله وابن عبدالبر في التمهيد وابن رجب في شرح علل الترمذي[1].»

ترجمه: «ابن جریر ویلي دي: ردول د مرسل په مطلق ډول سره هغه بدعت دی چي د دوهمي سلني په سر کي رامنځ ته سو. پای. لکه څنګه چي باجي په اصولو کي، ابن عبدالبر په تمهید کي او ابن رجب د علل ترمذي په شرح کي همداسي ویلي دي».

د دغه لنډ شاني وضاحت څخه په ښکاره جوتیږي چي د امام صاحب په عصر کي د ثقاتو مرسل روایات دهغه وخت د عیني شرائطو په اساس د متصل په درجه کي قرار لري، همدا وجه وه چي په هغه وخت کي یوازی امام صاحب نه بلکه ټولو امامانو د ثقاتو مرسل احادیث د منل سوؤ اصولو په رڼا کي د حجت تر سرحده منلي دي.

---

[1] تأنيب الخطيب، ص: ۲۹۸

## د روايت د وروسته والي اصل

هاغه وخت ځيني داسي اصول وه چي اصلاً د وخت د عيني او ممکنه شرايطو سره سم عملاً منل سوي او په جريان کي وه چي بيا په وروستنيو پيړيو کي د و خت د شرايطو په تغير سره د هغه اصولو منل سخت او متعذر سول، له دغه جملې نه يو هم د روايت د و روسته والي اصل وؤ چي امام صاحب د حکم په استنباط کي د هغه سخت رعايت کاوه او بيا په وروستيو کي د زمانې په بعد سره د هغه اصل د رعايت امکانات له منځه ولاړل، لکه څنګه چي د مولانا صاحب د کتاب د مطالعې په وخت به ستاسو مخي ته راسي چي امام صاحب به د رواياتو د صحت تر تثبيت وروسته د هغو له منځه هغه وروستني او آخرني روايت مختاره کاوه، دا ځکه چي وروستني روايت خو د مخکني رواياتو لپاره د ناسخ حيثيت درلود، مګر په وروستيو زمانو کي چي د روايت سلسله اوږده او د راويانو شمېر زياد سو د زماني د بعد په اساس د روايتونو د مخکي والي او روسته والي د تشخيص امکانات هم کم سول ځکه خو په وروستيو پيړيو کي دغه مهم اصل ته په زياته کچه توجه نده سوې او نه هم ورڅخه چندان يادونه سوېده، په همدغه اساس د خبر واحد څخه د حکم په استنباط کي د امام صاحب د عصر د مجتهدينو د رأيي د ارجحيت لپاره نسبت ورپسې قرونو ته دغه يو ښکاره دليل ګڼل کېداى سي.

## په احاديثو کي د خبر واحد دسير د دوهمي مرحلې پيل

له دوهمي مرحلې څخه مراد دا نه دى چي ګويا په اوله مرحله کي د احاديثو ليکنه او روايت بلکل نه وؤ، بلکه په اوله مرحله کي د احاديثو (د خبرواحد) روايت او کتابت په يوه حالت کي دى او په دوهمه مرحاه کي بيا په بل حالت کي. په دغه هکله مولانا محمد ذکريا کاندهلوي په

«اوجزالمسالک» کي ښه پوره تشريحات ورکړي دي چي د زياتو معلوماتو لپاره کېداسي هته مراجعه وسي[1]، خو د مولانا صاحب د بيان څخه د اقتباس په شکل مور غواړو چي د خبر واحد و دغه سير ته يوه لنډه کتنه وکړو:

مولاناصاحب وايي چي د احاديثو د نه ليکني څخه غرض دا ندی چي په اول سر کي احاديث بلکل نه ليکل کېده، بلکه مراد دا دی چي په هغه وخت کي احاديث د کتابو او رسالو په شکل نه وه تدوين سوي. په دغه اړوند مولاناصاحب د «صحيح المسلم» په حواله د سعيد خدري ﷺ روايت رانقل کوي او وايي:

«ان نبي صلى الله عليه وسلم قال: لا تكتبو عني شيئاً الا القرآن. و من كتب عني شيئاً غير القرآن فليمحُه[2].»

ترجمه: «په يقين سره نبي کريم صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: تا سو زما څخه هيڅ شی مه نوشته کوئ مګر قرآن، او هغه څوک چي زما څخه سوا له قرآنه يو شی نوشته کړي هغه دي بيرته محوه کړي.» او وروسته د عبدالله ابن عمر ﷺ حديث راوړي او وايي: حضرت عمر رضی الله عنهما ويلي دي: «قلت: يا رسول الله ا اسمع منك الشئ أفأكتبه؟ قال: نعم! قال: قلت: فى الغضب والرضى؟ قال: نعم! اني لا أقول فيهما الا حقاً[3].»

تر جمه: «ما وويل: يا رسول الله زه له تانه هر شی اورم آياهغه زه نوشته کړم؟ هغه (صلى الله عليه و سلم) و فرمايل: هو! ما وويل: د قهر په

---

[1]: اوجزالمسالک، ج: ۱ ص: ۶۵

[2]: آخرني ياده سوې مرجع، ص: ۶۷

[3]: پورتنی مرجع.

حالت کي وي او که د خوښي په حالت کي؟ علیه الصلاة و السلام و فرمایل: هو! ځکه، زه چي یم په دواړه حالته کي بېله حق (ویلو) څخه بل څه نه وایم». مولانا صاحب د دغه دواړو حدیثونو په تطبیق کي وایي: اذن د هغه چا لپاره چي دهیري څخه وېره ولري، او نهي د هغه چا لپاره چي پر خپل حفظ باور او اعتماد ولري، یا نهي خاص په وخت کي د نزول د قرآن له دې ویري چي له هغه سره څه ګډ او خلط نسي، او اذن په ماسوا د دغه کي. ورپسې مولانا صاحب کاندهلوي وایي چي حافظ په «فتح[1]» کي ویلي دي: اګر چي د احادیثو د لیکني په هکله سلفو اختلاف کړی دی مګر په آخر کي د هغه پر جواز بلکه پر استحباب یې اجماع سوېده[2]. مطلب دا چي په احادیثو کي د خبر واحد د لیکني او روایت سیر په اوله مرحله کي نسبتاً کرار او بطي دی، دا ځکه چي په هغه وخت کي د قرآن عظیم الشان و مصؤنیت او سالمیت ته ټول اذهان متوجه دي خو کله چي د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کي قرآن په مصاحفو کي تدوین سو او د روایاتو په تواتر سره اتفاقاً و منل سو او د اسلامي خلافت و ټولو اطرافو او اکنافو ته دغه الهي امانت په سالمه او صحیح توګه ورسول سو، نور نو د قرآن او د سنتو په رڼا کی د فقه و تدوین او د نبوي مرغلرو و حفاظت او مصؤنیت ته زیاته توجه راوګرځېدل، او قدم پر قدم مخ پر زیا تېدو سوه تر څو د امام اهل السنة (امام احمد بن حنبل رحمه الله) عصر او پېر را ورسېد.

---

[1]: ممکن چي د حافظ څخه مراد حافظ ابن حجر وي او د فتح څخه مراد فتح الباري وي.

[2]: پورتنی یاده سوې مرجع.

د حضرت امام احمد بن حنبلؒ په هکله «الموسوعة العربية العالمية» ليکي:

«ولم يدون احمد مذهبه في الفقه كما لم يمله على احد من تلاميذه كراهة اشتغال الناس به عن الحديث، و هو بهذا على غير منهج ابي حنيفة، الذي كان يدون عنه تلاميذه في حضوره، و مالك الذي كان يدون بنفسه و كذا الشافعي. فالجميع قد تركوا فقهاً مدوناً بخلاف احمد فلم يترك فقهاً مدوناً، الا أن تلاميذه بعده قاموا بتدون ما سمعوه منه. و من هؤلاء التلاميذ: محمد بن اسماعيل البخاري صاحب الصحيح. و مسلم بن الحجاج النيشابوري صاحب الصحيح، و ابو داود صاحب السنن.»

ترجمه: «او احمد رحمه الله خپل مذهب په فقه کي تدوين نکړ لکه څنګه چي همداسي د ده شاګردانو يوه هم (د ده په ژوند کي) و هغه ته ميلان و نکړ، دغه (کار) ځکه دوی سم نه ګاڼه چي خلک يې د احاديثو څخه مشغول کول، او دی چي وؤ په دغه شکل سره د ابو حنيفة رحمه الله د منهج پر خلاف وؤ، کوم چي د ده شاګردانو د ده په حضور کي له ده څخه فقه تدوين کړه، او پر خلاف د منهج د مالک وؤ کوم چي هغه پخپله فقه تدوين کړه، او همدا ډول شافعي هم وګڼه، دوی ټولو تدوين سوې فقه پرېښودل بغير له احمد رحمه الله څخه چي تدوين سوې فقه يې نه پرېښودل، اما د ده شاګردانو د ده نه پس د ده د هغه فقهي تدوين وکړ چي له ده څخه يې اورېدلې وه. د دغه شاګردانو له جملې څخه: محمد بن اسماعيل بخاري دی چي خاوند د صحيح دی، مسلم بن حجاج نيشاپوري خاوند د صحيح دي او ابو داود دی چي خاوند د سننو دی».

له دغه بيان څخه ښکاره جوته ده چي د امام احمد بن حنبلؒ منهج له نورو درؤ وارو امامانو له منهج څخه ډېر توپير لري، دا ځکه چي د دريو

واړو امامانو په عصر کي د فقهي د تدوين اشد ضرورت وؤ ځکه خو هغوی د فقهي و تدوين ته زياته توجه وکول، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله په پير کي بيا د نبوي مرغلرو د راټولو احساس زياد سو په همدغه اساس نوموړي د فقهي د تدوين په عوض د احاديثو و راټولو ته زياته توجه وکړل، همدا وجه ده چي موږ ويلای سو چي په احاديثو کي د خبرواحد او هغه د اصولو د سير دوهم پړاو د امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه پيل کيږي.

دلته د هيڅ نوع اشکال د پيداکېدؤ هډو سوال هم نه پيدا کيږي، هغه په دې لحاظ چي په اول پړاو کي چي د قرآن عظيم الشان د سالميت او مصؤنيت دوره وه ځکه د خبرواحد او د هغه د اصولو سير ډېر کرار او بطي وؤ، او په ورپسې دور کي بيا د فقهي د تدوين ډېر اشد ضرور محسوس سو ځکه خو لويو درؤ واړو امامانو د اصحابو کرامو او لويو تابعينو په متابعت د قرآن او سنتو په رڼا کي په لوړ همت سره د فقهي و تدوين ته مخه کړل چي د الله په فضل او کرم سره يې پوره بريا هم پکي تر لاسه کړل. او د فقهي د تدوين په لړ کي يې بې شمېره صحيح احاديث را وسپړل او زيات فقهي فروعات يې ورباندي بنا کړل، خاص بيا امام اعظم رضي الله عنه لکه مخکي چي وويل سوه چي د هر فقهي حکم لپاره به يې متعدد احاديث تر څېړني لاندي نيول، همدا ډول امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله خو هريوه پخپله د احديثو کتابونه ليکلي دي، په همدې لحاظ دا يو جوت حقيقت دی چي دري واړه امامان په په احديثو کي د لويي برخي څښتنان دي.

کله چي د روايت او درايت د ميدان د اتل (امام احمد ابن حنبل رحمه الله) وخت سو نو دا وخت خو فقه په پوره پيمانه تدوين سوې وه مګر نبوي

مرغلري لکه څنګه چي ښايي هاسي نه وې راټولي سوي ځکه خو نوموړي په عام ډول د احاديثو و تدوين ته ارجحيت ورکړ، او د احاديثو د تدوين په لړ کي يې د څلرم فقهي مذهب بنياد هم کېښود.

## د احاديثو دغه مرحله وار سير

که د احاديثو و دغه مرحله وار سير ته په ځير وکتل سي نو دا حقيقت به بلکل ور څخه جوت او ښکاره سي چي دغه دواړه مراحل يو د بل څخه جدا نه دي بلکه يو د بل مکمل او پوره کونکي دي. په اول سر کي چي د قرآن د حفاظت او سالميت ضرورت دی ځکه په احاېثو کي د خبرواحد سير بطي دی، او د همدغه دور په آخر کي بيا د فقهي د تدوين لپاره ضرورت محسوس سو ځکه خو د څرګند او منل سوؤ اصولو په چوکاټ کي په زياته پيمانه صحيح احاديث رابرسېره او وسپړل سول او زيات ديني فروعات ورباندي تفريع سول، چي په همدغه اساس زياتو امامانو د خپلو غوره سوؤ اصولو پر بنسټ په ديني فروعاتو کي خپل نظر د مذهب په حيث څرګند کړ، د امام اعظم ﷺ مذهب له لويه سره په پيل کي ياني په همدغه دوره کي د کثرت په لحاظ د اول فقهي مذهب په حيث د شهرت و هغه لوړ پوړ ته ورسېد، د ده مذهب ځکه د عامو او صالحو مسلمانانو د توجه وړ وګرځېد چي له يوه پلوه د ده د مذهب استناد پر قرآ عظيم الشان باندي وؤ، او له بله پلوه يې په پراخه پيمانه له صحيح احاديثو څخه د ژوند په هره ګوښه او زاويه کي فقهي مسائل او فروعات راوايستل او په علمي ډول يې تشريح کړل.

په ورپسې دور کي بيا د فقهي د تدوين او اجتهاد تر څنګ د احاديثو د تدوين او کره کولو ضرورت هم په زياته پيمانه محسوس سو، د احاديثو د تدوين او کره کولو سير چي لا له پخوا پيل سوی وؤ مګر په دغه دوره

کې امام احمد ابن حنبل رحمه الله خپله زیاته توجه د دغه پلو ته راوګرځول او د احادیثو په راټولولو، کره کولو او تدوین کې یې د خپل فکري نوښت له مخې کوټلي او مبتکرانه ګامونه پورته کړل چې و راتلونکو نسلونو ته یې د فقهي د زیات تدوین په منظور په فقهي مسائلو کې د همېش لپاره د اجتهاد دروازه پرانستې وګڼل.

**دامام صاحب د هغه شاګردانو لنډه یادونه څوک چې خپله هم محدثین دي او د محدثینو استادان هم دي:**

له پورته لنډشاني وضاحت نه څرګندیږي چې په احادیثو کې امام اعظم رضي الله عنه د لوړ مقام څښتن دي، او تاسو ته به نور هم د دغه کتاب د مطالعې په دوران کې، په احادیثو کې، د ده اوچت مقام جوت سي، خو د دې لپاره چې په احادیثو د ده مقام ښه راڅرګند سي نو موږ د کمپیوټر په مټ د شاملې په سافت ویر کې درج د «رواة التهذيبين» څخه د امام صاحب د نهشپېته نفرو هغه محدثینو شاګردانو لیست را ایستلی دی چې ټول د لویو محدثینو امامانو لکه امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم او داسي نورو محدثینو شیوخ او استادان دي او دلته کټ مټ هماغه لیست بې له کوم تغیر او ژباړني څخه ستاسو مخکي ایږدو تر څو تاسو پخپله د هغه له رویه په احادیثو کې د امام صاحب د مقام اټکل و کولای سي.

د امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله د یو څو هغه شاګرادانو د نومونو لیست چې ټول خپله هم محدثین دي او د اهل الحديث د امامانو شیوخ او استادان هم دي، البته د یادوني وړ ده چې په اول سر کې پخپله د امام صاحب نوم ذکر سوی دی:

الاسم : النعمان بن ثابت التيمي أبو حنيفة رحمه الله الكوفي الإمام ، مولى بني تيم الله بن ثعلبة ( فقيه أهل العراق و قيل أنه من أبناء فارس )
المولد : ٨٠هـ
الطبقة : ٦ : من الذين عاصروا صغار التابعين
الوفاة : ١٥٠هـ ببغداد
روى له : ت س ( الترمذي - النسائي )
رتبته عند ابن حجر : فقيه مشهور
رتبته عند الذهبي : الإمام ، فقيه العراق ، أفردت سيرته في مؤلف
١ :-
الاسم : إبراهيم بن طهمان بن شعبة الخراساني أبو سعيد الهروي ( ولد بهراة و سكن نيسابور و قدم بغداد و حدث بها ثم سكن مكة فمات بها )
المولد : بهراة
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٦٨هـ بمكة
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة يغرب و تكلم فيه للإرجاء و يقال : رجع عنه
رتبته عند الذهبي : من أئمة الإسلام و فيه إرجاء ، وثقه أحمد و أبو حاتم
د ابراهيم بن طهمان په هکله دومره یادونه پکار ده چي که چیري د ده د شاګرادانو په لیست کي وکتل سي نو په هغه کي د امام صاحب نوم هم تر ستر ګو کیږي، دا ځکه چي دوی دواړه سره همعصره دي او یو د بله یې اخذ سره کړی دی، خو د مؤلفینو په اتفاق په دوی دواړو کي امام صاحب لوی او مشر دی، او د امام صاحب په پيژندنه کي به تاسي ووینی چي د

امام دار الهجرة (امام مالک) په شان کي هم داسي يو مستند روايت موجود دى چي دوى دواړو يو د بل څخه اخذ کړى دى، ياني يو او بل ته د شاګرد او اوستاد نسبت سره لري.

٢:-

الاسم : أسباط بن محمد بن عبد الرحمن بن خالد بن ميسرة ، القرشى مولاهم ، أبو محمد بن أبى عمرو الكوفى قيل مولى السائب بن يزيد

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢٠٠هـ بالكوفة

روى له : خ م د ت س ق (البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه)

رتبته عند ابن حجر : ثقة ضعف فى الثورى

رتبته عند الذهبي : وثقه ابن معين

٣:-

الاسم : إسحاق بن يوسف بن مرداس القرشى المخزومى ، أبو محمد الواسطى ، المعروف بالأزرق

المولد : ٢١٧هـ

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢٩٥هـ

روى له : خ م د ت س ق (البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه)

رتبته عند ابن حجر : ثقة

رتبته عند الذهبي : ثقة عابد رفيع القدر إمام

٤:-

الاسم : جعفر بن عون بن جعفر بن عمرو بن حريث القرشى المخزومى ، أبو عون الكوفى
المولد : ١٢٠هـ و قيل ١٣٠هـ
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٦هـ و قيل ٢٠٧هـ بالكوفة
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و امام احمد بن حنبل.
رتبته عند ابن حجر : صدوق
رتبته عند الذهبي : ثقة

٥ :-

الاسم : الحارث بن نبهان الجرمى ، أبو محمد البصرى
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : بعد ١٦٠هـ
روى له : ت ق ( الترمذي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : متروك
رتبته عند الذهبي : ضعفوه

٦ :-

الاسم : حبان بن على العنزى ، أبو على الكوفى ( أخو مندل بن على )
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ٢٧١ أو ٢٧٢ هـ بالكوفة
روى له : ق ( ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ضعيف ، و كان له فقه و فضل
رتبته عند الذهبي : صالح الحديث

٧ :-
الاسم : الحسن بن الفرات بن أبى عبد الرحمن التميمى القزاز الكوفى ( والد زياد بن الحسن ، و يحيى بن الحسن )
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
روى له : م ت ق ( مسلم - الترمذي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يهم
رتبته عند الذهبي : ثقة
٨ :-
الاسم : حكام بن سلم الكنانى ، أبو عبد الرحمن الرازى
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٩٠ هـ بمكة
روى له : خت م د ت س ق ( البخاري تعليقا - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و يحيى بن معين
رتبته عند ابن حجر : ثقة له غرائب
رتبته عند الذهبي : ثقة
٩ :-
الاسم : حمزة بن حبيب بن عمارة الزيات القارىء ، أبو عمارة الكوفى التيمى مولاهم ، مولى بنى تيم الله من ربيعة (أخو حبيب بن حبيب )
المولد : ٨٠ هـ
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٥٦ أو ١٥٨ هـ بحلوان
روى له : م د ت س ق ( مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )

رتبته عند ابن حجر : صدوق زاهد ربما وهم
رتبته عند الذهبي : وثقه ابن معين
١٠ :-
الاسم : خارجة بن مصعب بن خارجة الضبعى ، أبو الحجاج الخراسانى السرخسى
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٦٨هـ
روى له : ت ق ( الترمذي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : متروك و كان يدلس عن الكذابين ، و يقال : إن ابن معين كذبه
رتبته عند الذهبي : واه
١١ :-
الاسم : داود بن نصير الطائى ، أبو سليمان الكوفى ، الفقيه الزاهد
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٦٠هـ و قيل ١٦٥هـ
روى له : س ( النسائي )
رتبته عند ابن حجر : ثقة فقيه زاهد
رتبته عند الذهبي : ثقة ، قاله ابن معين ، أحد الأولياء
١٢ :-
الاسم : زيد بن الحباب بن الريان ، و قيل : ابن رومان التميمى ، أبو الحسين العكلى ، الكوفى ( خراسانى الأصل ، سكن الكوفة )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٣٠هـ

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا پر ليکه کيږي:
www.taleemulislam-radio.com

روى له : ر م د ت س ق ( البخاري في جزء القراءة خلف الإمام - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطىء فى حديث الثورى
رتبته عند الذهبي : الحافظ ، لم يكن به بأس ، قد يهم

١٣ :-

الاسم : زيد بن الحباب بن الريان ، و قيل : ابن رومان التميمى ، أبو الحسين العكلى ، الكوفى ( خراسانى الأصل ، سكن الكوفة )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٣٠ هـ
روى له : ر م د ت س ق ( البخاري في جزء القراءة خلف الإمام - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطىء فى حديث الثورى
رتبته عند الذهبي : الحافظ ، لم يكن به بأس ، قد يهم

١٤ :-

الاسم : شعيب بن إسحاق بن عبد الرحمن بن عبد الله القرشى الأموى مولاهم أبو محمد البصرى ثم الدمشقى ، مولى رملة بنت عثمان بن عفان
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٩ هـ
روى له : خ م د س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة رمى بالإرجاء ، و سماعه من ابن أبى عروبة بأخرة
رتبته عند الذهبي : قال أبو داود : ثقة مرجىء

١٥: -
الاسم : الصباح بن محارب التيمى الكوفى ( سكن بعض قرى الرى )
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
روى له : ق ( ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق ربما خالف
رتبته عند الذهبي : قال أبو حاتم : صدوق
١٦: -
الاسم : الضحاك بن مخلد بن الضحاك بن مسلم بن الضحاك الشيبانى أبو عاصم النبيل البصرى ( يقال إنه مولى بنى شيبان و يقال من أنفسهم )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١٢ هـ أو بعدها
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت
رتبته عند الذهبي : الحافظ ، قال عمر بن شبة : و الله ما رأيت مثله
١٧: -
الاسم : عائذ بن حبيب بن الملاح العبسى ، و يقال القرشى مولاهم ، أبو أحمد الكوفى ، و يقال أبو هشام ، بياع الهروى
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : س ق ( النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق رمى بالتشيع
رتبته عند الذهبي : وثقه ابن معين ، و قال الجوزجانى : غال زائغ.
توجه:

او په تهذيب الكمال كى يې د ده د شاګردانو په جمله کي امام احمد بن حنبل او اسحاق بن راهويه هم ذكر کړيدي.

١٨ :-

الاسم : عباد بن العوام بن عمر بن عبد الله بن المنذر بن مصعب بن جندل الكلابى مولاهم ، أبو سهل الواسطى ، مولى أسلم بن زرعة الكلابى

الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين

الوفاة : ١٨٥ أو بعدها ببغداد

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و احمد بن حنبل.

رتبته عند ابن حجر : ثقة

رتبته عند الذهبي : وثقه أبو حاتم ، و قال أحمد : حديثه عن ابن أبى عروبة مضطرب

١٩ :-

الاسم : عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلى التميمى مولاهم ، أبو عبد الرحمن المروزى (أحد الأئمة الأعلام و حفاظ الإسلام )

المولد : ١١٨ هـ

الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين

الوفاة : ١٨١ هـ بـ هيت

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )

رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت فقيه عالم جواد مجاهد ، جمعت فيه خصال الخير

رتبته عند الذهبي : شيخ خراسان

٢٠:-
الاسم : عبد الله بن يزيد القرشى العدوى المكى ، أبو عبد الرحمن المقرىء القصير ، مولى آل عمر بن الخطاب ( سكن مكة )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١٣هـ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و احمد بن حنبل.
رتبته عند ابن حجر : ثقة فاضل
رتبته عند الذهبي : ثقة ، لقن سبعين عاما
٢١:-
الاسم : عبد الحميد بن عبد الرحمن الحمانى ، أبو يحيى الكوفى ، لقبه بشمين ( اصله خوارزمى ، والد يحيى بن عبد الحميد الحمانى )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٢هـ
روى له : خ م د ت ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطىء ، و رمى بالإرجاء
رتبته عند الذهبي : قال أبو داود : داعية إلى الإرجاء . و قال النسائى : ليس بالقوى
٢٢:-
الاسم : عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميرى مولاهم ، اليمانى ، أبو بكر الصنعانى
المولد : ١٢٦هـ

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١١ هـ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري – مسلم – أبو داود – الترمذي – النسائي – ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة حافظ مصنف شهير عمى فى آخر عمره فتغير ، و كان يتشيع
رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام ، صنف التصانيف
٢٣ :-
الاسم : عبد العزيز بن خالد بن زياد الترمذى
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : س ( النسائي )
رتبته عند ابن حجر : مقبول
رتبته عند الذهبي : صدوق
٢٤ :-
الاسم : عبد الكريم بن محمد الجرجانى ، أبو محمد و يقال : أبو سهل ، القاضى ( قاضى جرجان . انتقل إلى مكة فارا من القضاء و مات بها ) و محمد بن ادريس الشافعي و قتيبة بن سعيد
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٠ هـ تقريبا بمكة
روى له : ت ( الترمذي )
رتبته عند ابن حجر : مقبول
رتبته عند الذهبي : لم يذكرها
٢٥ :-

الاسم : عبد المجيد بن عبد العزيز بن أبى رواد الأزدى ، أبو عبد الحميد المكى ، مولى المهلب بن أبى صفرة ( مروزى الأصل )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٦هـ
روى له : م د ت س ق ( مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطىء و كان مرجئاً أفرط ابن حبان فقال : متروك
رتبته عند الذهبي : قال أحمد : ثقة يغلو فى الإرجاء ، و قال أبو حاتم : ليس بالقوى
٢٦ :-
الاسم : عبد الوارث بن سعيد بن ذكوان التميمى العنبرى مولاهم ، أبو عبيدة التنورى البصرى ( والد عبد الصمد بن عبد الوارث )
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٠هـ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و سفيان ثوري.
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت رمى بالقدر و لم يثبت عنه
رتبته عند الذهبي : الحافظ . . . ثبت صالح ، لكنه قدرى
٢٧ :-
الاسم : عبيد الله بن عمرو بن أبى الوليد الرقى ، أبو وهب الأسدى ، مولى بنى أسد
المولد : ١٠١هـ

الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٠هـ بالرقة
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة فقيه ربما وهم
رتبته عند الذهبي : الحافظ
٢٨ :-
الاسم : عبيد الله بن موسى بن أبى المختار : باذام ، العبسى مولاهم ، أبو محمد الكوفى
المولد : ١٢٨هـ
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١٣هـ على الصحيح
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و احمد بن حنبل.
رتبته عند ابن حجر : ثقة ، كان يتشيع
رتبته عند الذهبي : ثقة ، أحد الأعلام على تشيعه و بدعته
٢٩ :-
الاسم : على بن ظبيان بن هلال ، العبسى و قيل الجنبى ، أبو الحسن الكوفى القاضى ( ببغداد )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٩٢هـ
روى له : ق ( ابن ماجه ) و على ابن المديني.
رتبته عند ابن حجر : ضعيف

رتبته عند الذهبي : ضعفوه

٣٠ :-

الاسم : على بن عاصم بن صهيب الواسطى ، أبو الحسن القرشى التيمى مولاهم ؛ مولى قريبة بنت محمد بن أبى بكر

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢٠١هـ

روى له : د ت ق (أبو داود - الترمذي - ابن ماجه) و احمد بن حنبل.

رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطيء ويصر ، و رمى بالتشيع

رتبته عند الذهبي : ضعفوه

٣١ :-

الاسم : على بن مسهر القرشى ، أبو الحسن الكوفى ( قاضى الموصل ، أخو عبد الرحمن بن مسهر قاضى جبل )

الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين

الوفاة : ١٨٩هـ

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و علي ابن المديني و احمد بن محمد بن يحيى بن سعيد القطان.

رتبته عند ابن حجر : ثقة له غرائب بعد أن أضر

رتبته عند الذهبي : ثقة

٣٢ :-

الاسم : عمرو بن محمد العنقزى القرشى مولاهم ، أبو سعيد الكوفى

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ١٩٩هـ

روى له : خت م د ت س ق ( البخاري تعليقا - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - علي بن المديني - اسحاق بن راهويه و قتيبة بن سعيد.
رتبته عند ابن حجر : ثقة
رتبته عند الذهبي : ثقة
٣٣ :-
الاسم : عمرو بن الهيثم بن قطن بن كعب الزبيدى القطعى ، أبو قطن البصرى
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٠ هـ تقريبا بالبصرة
روى له : بخ م د ت س ق ( البخاري في الأدب المفرد - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - احمد بن حنبل و يحيى بن معين.
رتبته عند ابن حجر : ثقة
رتبته عند الذهبي : صدوق قدرى
٣٤ :-
الاسم : عيسى بن يونس بن أبى إسحاق السبيعى ، أبو عمرو و يقال أبو محمد ، الكوفى ( أخو إسرائيل بن يونس ، نزل الشام مرابطا )
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٧ هـ و قيل ١٩١ هـ بالشام
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - احمد بن محمد بن حنبل و يحيى بن معين.
رتبته عند ابن حجر : ثقة مأمون
رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام فى الحفظ و العبادة

-:٣٥

الاسم : الفضل بن دكين : عمرو بن حماد بن زهير القرشي التيمى الطلحى مولاهم ، الأحول أبو نعيم الملائى الكوفى (مشهور بكنيته)

المولد : ١٣٠هـ

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢١٨هـ و قيل ٢١٩هـ بالكوفة

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و احمد بن حنبل و اسحاق بن راهويه و يحيى بن معين.

رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت

رتبته عند الذهبي : الحافظ

-:٣٦

الاسم : الفضل بن موسى السينانى ، أبو عبد الله المروزى ، مولى بنى قطيعة من بنى زبيد من مذحج ( و سينان قرية من قرى مرو )

المولد : ١١٥هـ

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ١٩٢هـ

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) و اسحاق بن راهويه

رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت ، و ربما أغرب

رتبته عند الذهبي : ثبت

-:٣٧

الاسم : القاسم بن الحكم بن كثير العرنى ، أبو أحمد الكوفى ( قاضى همذان )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٨ هـ بـ همذان
روى له : بخ ت ( البخاري في الأدب المفرد - الترمذي )
رتبته عند ابن حجر : صدوق فيه لين
رتبته عند الذهبي : وثقوه ، و قال أبو حاتم : لا يحتج به
٣٨ :-
الاسم : القاسم بن معن بن عبد الرحمن بن عبد الله بن مسعود الهذلى المسعودى ، أبو عبد الله الكوفى القاضى ( أخو أبى عبيدة بن معن )
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٧٥ هـ بـ الكوفة
روى له : د س ( أبو داود - النسائي )
رتبته عند ابن حجر : ثقة
رتبته عند الذهبي : وثقه أحمد ، و قيل : كان كالشعبى فى زمانه
٣٩ :-
الاسم : قيس بن الربيع الأسدى ، أبو محمد الكوفى
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٠٠ و بضع و ستون هـ
روى له : د ت ق ( أبو داود - الترمذي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق تغير لما كبر ، و أدخل عليه ابنه ما ليس من حديثه فحدث به

رتبته عند الذهبي : كان شعبة يثني عليه و قال ابن معين : ليس بشيء و قال أبو حاتم ليس بقوى و محله الصدق ، و قال ابن عدى : عامة روايته مستقيمة

٤٠ :-

الاسم : محمد بن بشر بن الفرافصة بن المختار العبدى ، أبو عبد الله الكوفى

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢٠٣هـ

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )

رتبته عند ابن حجر : ثقة حافظ

رتبته عند الذهبي : الثبت ، قال أبو داود : هو أحفظ من كان بالكوفة

٤١ :-

الاسم : محمد بن الحسن بن أتش اليمانى ، أبو عبد الله الصنعانى الأبناوى ( أخو على بن الحسن بن أتش ، و قد ينسب إلى جده )

الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين

روى له : مد ( أبو داود في المراسيل )

رتبته عند ابن حجر : صدوق فيه لين ، رمى بالقدر

رتبته عند الذهبي : ....

٤٢ :-

الاسم : محمد بن أبى مخلد : خالد بن محمد و يقال ابن موسى ، الكندى الوهبى ، أبو يحيى الحمصى ( أخو أحمد بن خالد )

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : قبل ٢٩٠هـ
روى له : د س ق (أبو داود - النسائي - ابن ماجه)
رتبته عند ابن حجر : صدوق
رتبته عند الذهبي : قال أبو داود : لا بأس به
٤٣ :-
الاسم : محمد بن عبد الله بن المثنى بن عبد الله بن أنس بن مالك الأنصارى، أبو عبد الله البصرى القاضى (قضى بالبصرة و ببغداد)
المولد : ١١٨هـ
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١٥هـ بالبصرة
روى له : خ م د ت س ق (البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه)
رتبته عند ابن حجر : ثقة
رتبته عند الذهبي : قال ابن معين : ثقة، و قال أبو حاتم : صدوق، لم أر من الأئمة إلا هو و أحمد و سليمان بن داود الهاشمى
٤٤ :-
الاسم : محمد بن الفضل بن عطية بن عمر العبسى مولاهم، أبو عبد الله، الكوفى و يقال المروزى (نزيل بخارى)
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٠هـ ببخارى
روى له : ت ق (الترمذي - ابن ماجه)
رتبته عند ابن حجر : كذبوه
رتبته عند الذهبي : تركوه

٤٥:-
الاسم : محمد بن القاسم الأسدى ، أبو إبراهيم الكوفى ، لقبه كاو (شامى الأصل)
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٧هـ
روى له : ت (الترمذي)
رتبته عند ابن حجر : كذبوه
رتبته عند الذهبي : ضعفوه
٤٦:-
الاسم : محمد بن يزيد الكلاعى ، أبو سعيد و يقال أبو يزيد و يقال أبو إسحاق ، الواسطى ، مولى خولان (شامى الأصل)
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٩٠هـ أو قبلها أو بعدها بواسط
روى له : د ت س (أبو داود - الترمذي - النسائي)
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت
رتبته عند الذهبي : حجة
٤٧:-
الاسم : مروان بن سالم الغفارى أبو عبد الله الشامى ثم الجزرى القرقسانى ، مولى بنى أمية (قيل : إن أصله من دمشق)
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : ق (ابن ماجه)
رتبته عند ابن حجر : متروك و رماه الساجى و غيره بالوضع

رتبته عند الذهبي : قال البخارى و مسلم : منكر الحديث ، و قال النسائى : متروك

٤٨ :-

الاسم : مصعب بن المقدام الخثعمى مولاهم ، أبو عبد الله الكوفى ، مولى الخثعميين

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢٠٣هـ

روى له : م ت س ق ( مسلم - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )

رتبته عند ابن حجر : صدوق له أوهام

رتبته عند الذهبي : قال أبو دود : لا بأس به ، و عن ابن المدينى تضعيفه

٤٩ :-

الاسم : المعافى بن عمران الأزدى الفهمى ، أبو مسعود الموصلى ، و هو المعافى بن عمران بن نفيل بن جابر بن جبلة بن عبيد بن لبيد

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ١٨٥هـ و قيل ١٨٦هـ بالموصل

روى له : خ د س ( البخاري - أبو داود - النسائي )

رتبته عند ابن حجر : ثقة عابد فقيه

رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام ، قال شيخه الثورى : هو ياقوتة العلماء

٥٠ :-

الاسم : مكى بن إبراهيم بن بشير بن فرقد التميمى الحنظلى البرجمى ، أبو السكن البلخى و يقال مكى بن إبراهيم بن بن فرقد بن بشير

المولد : ١٢٦هـ

الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ٢١٥هـ ببلخ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - احمد بن حنبل و يحيى بن معين.
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت
رتبته عند الذهبي : الحافظ
٥١:-
الاسم : النضر بن عبد الله الأزدى ، أبو غالب الكوفى ( نزيل أصبهان )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : تمييز (لم يخرج له أحد من الستة)
رتبته عند ابن حجر : مجهول
رتبته عند الذهبي : ....
٥٢:-
الاسم : النضر بن عبد الله الأزدى ، أبو غالب الكوفى ( نزيل أصبهان )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : تمييز (لم يخرج له أحد من الستة)
رتبته عند ابن حجر : مجهول
رتبته عند الذهبي : ....
٥٣:-
الاسم : النعمان بن عبد السلام بن حبيب بن حطيط بن عقبة بن خثيم ، و قيل : جشم بن وائل التيمى ، أبو المنذر الأصبهانى
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٣هـ
روى له : د س (أبو داود - النسائي)

رتبته عند ابن حجر : ثقة عابد فقيه
رتبته عند الذهبي : قال أبو حاتم : محله الصدق . و كان يتفقه للثورى و يتعبد
٥٤:-
الاسم : نوح بن دراج النخعى مولاهم ، أبو محمد الكوفى ، القاضى
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٢هـ
روى له : فق ( ابن ماجه في التفسير )
رتبته عند ابن حجر : متروك ، و قد كذبه ابن معين
رتبته عند الذهبي : . . . .
٥٥:-
الاسم : نوح بن أبى مريم : مابنة و يقال : مافنة أبو عصمة المروزى ، القرشى مولاهم ، يعرف بنوح الجامع ( قاضى مرو ، مشهور بكنيته )
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٧٣هـ
روى له : ت فق ( الترمذي - ابن ماجه في التفسير )
رتبته عند ابن حجر : كذبوه فى الحديث ، و قال ابن المبارك : كان يضع
رتبته عند الذهبي : فقيه واسع العلم ، تركوه
٥٦:-
الاسم : هشيم بن بشير بن القاسم بن دينار السلمى أبو معاوية بن أبى خازم ، و قيل أبو معاوية بن بشير بن أبى خازم ، الواسطى
المولد : ١٠٤هـ
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين

الوفاة : ١٨٣هـ ببغداد
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري – مسلم – أبو داود – الترمذي – النسائي – ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت كثير التدليس و الإرسال الخفى
رتبته عند الذهبي : حافظ بغداد ، إمام ثقة ، مدلس
٥٧ :–
الاسم : هوذة بن خليفة بن عبد الله بن عبد الرحمن بن أبى بكرة الثقفى البكراوى ، أبو الأشهب البصرى الأصم (أخو عمرو بن خليفة )
المولد : ١٢٥ هـ تقريبا
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢١٦ هـ ببغداد
روى له : ق ( ابن ماجه ) و احمد بن حنبل.
رتبته عند ابن حجر : صدوق
رتبته عند الذهبي : صدوق
٥٨ :–
الاسم : هياج بن بسطام التميمى البرجمى الحنظلى ، أبو خالد الخراسانى الهروى ( والد خالد بن هياج )
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٧٧ هـ
روى له : ق ( ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ضعيف روى عنه ابنه خالد منكرات شديدة
رتبته عند الذهبي : ضعيف
٥٩ :–

الاسم : وكيع بن الجراح بن مليح الرؤاسى ، أبو سفيان الكوفى ( من قيس عيلان )
المولد : بأصبهان
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٩٦أو ١٩٧هـ بفيد ( فى طريق مكة )
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - احمد بن حنبل - يحيى بن معين.
رتبته عند ابن حجر : ثقة حافظ عابد
رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام ، قال أحمد ما رأيت أوعى للعلم منه ولا أحفظ كان أحفظ من ابن مهدى ، و قال حماد لو شئت لقلت إنه أرجح من سفيان

٦٠ :-

الاسم : يحيى بن أيوب الغافقى ، أبو العباس المصرى
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٦٨ هـ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق ربما أخطأ
رتبته عند الذهبي : أحد العلماء ، صالح الحديث ، قال أبو حاتم : لا يحتج به ، و قال النسائى : ليس بالقوى

٦١ :-

الاسم : يحيى بن يمان العجلى ، أبو زكريا الكوفى
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين

الوفاة : ١٨٩هـ
روى له : بخ م د ت س ق ( البخاري في الأدب المفرد - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق عابد يخطىء كثيرا و قد تغير
رتبته عند الذهبي : صدوق ، فلج فساء حفظه ، قال وكيع : ما كان أحد أحفظ منه ، يحفظ فى المجلس خمسمائة حديث
٦٢ :-
الاسم : يزيد بن زريع العيشى ، و قيل التيمى ، أبو معاوية البصرى
المولد : ١٠١هـ
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٢هـ بالبصرة
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة ثبت
رتبته عند الذهبي : الحافظ ، قال أحمد : إليه المنتهى فى التثبت بالبصرة
٦٣ :-
الاسم : يزيد بن هارون بن زاذى ، و قيل ابن زاذان بن ثابت ، السلمى مولاهم ، أبو خالد الواسطى ( قيل إن أصله من بخارى )
المولد : ١١٧هـ ، و قيل ١١٨هـ
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ٢٠٦هـ

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه ) - احمد بن حنبل - يحيى بن معين.
رتبته عند ابن حجر : ثقة متقن عابد
رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام ، قال أحمد : حافظ متقن ، و قال ابن المدينى : ما رأيت أحفظ منه ، و قال العجلى : ثبت متعبد
٦٤ :-
الاسم : يونس بن بكير بن واصل الشيبانى ، أبو بكر و يقال أبو بكير الجمال الكوفى ( والد بكر و عبد الله ابنا يونس بن بكير )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
الوفاة : ١٩٩ هـ
روى له : خت م د ت ق ( البخاري تعليقا - مسلم - أبو داود - الترمذي - ابن ماجه ) - احمد بن محمد بن يحيى بن سعيد القطان - يحيى بن معين
رتبته عند ابن حجر : صدوق يخطىء
رتبته عند الذهبي : الحافظ ، قال ابن معين : صدوق ، و قال أبو داود : ليس بحجة ، يوصل كلام ابن إسحاق بالأحاديث
٦٥ :-
الاسم : إبراهيم بن محمد بن الحارث بن أسماء بن خارجة بن حصن بن حذيفة الفزارى ، أبو إسحاق الكوفى ( ابن عم مروان ، نزل الشام )
المولد : بواسط
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
الوفاة : ١٨٥ هـ و قيل بعدها

روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : إمام ثقة حافظ
رتبته عند الذهبي : أحد الأعلام ، قال أبو حاتم : ثقة مأمون إمام
٦٦ :-
الاسم : محمد بن ميمون المروزى ، أبو حمزة السكرى
الطبقة : ٧ : من كبار أتباع التابعين
الوفاة : ١٦٧ هـ أو ١٦٨ هـ
روى له : خ م د ت س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - الترمذي - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : ثقة
رتبته عند الذهبي : محدث مرو
٦٧ :-
الاسم : محمد بن أبى زكريا : ميسر الجعفى ، أبو سعد الصاغانى البلخى الضرير ( نزيل بغداد )
الطبقة : ٩ : من صغار أتباع التابعين
روى له : ت ( الترمذي ) - احمد بن حنبل.
رتبته عند ابن حجر : ضعيف و رمى بالإرجاء
رتبته عند الذهبي : ضعفوه و رمى بالتجهم
٦٨ :-
الاسم : عبد ربه بن نافع الكنانى الحناط ، أبو شهاب الكوفى ( نزيل المدائن ، و هو الأصغر )
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين

الوفاة : ١٧١أو ١٧٢هـ بالموصل أو ببلد وهى بقرب الموصل
روى له : خ م د س ق ( البخاري - مسلم - أبو داود - النسائي - ابن ماجه )
رتبته عند ابن حجر : صدوق يهم
رتبته عند الذهبي : صدوق

٦٩- 
الاسم : أبو مقاتل السمرقندى
الطبقة : ٨ : من الوسطى من أتباع التابعين
روى له : ت ( الترمذي )
رتبته عند ابن حجر : مقبول
رتبته عند الذهبي : ....

## دامام اعظم لنډ پېژندنه

تألیف: حافظ مولانا محمد زکریا کاندهلوي رحمة الله علیه

داوجزالمسالک مؤلف په خپل کتاب کي دحضرت امام اعظم رحمه الله په هکله خپله ویناداسی پیل کوي:
څلرم باب دامام اعظم ابو حنیفة رضي الله عنه په یادونه کي دی
کوم څوک چي د مؤلف لپاره، په فقهه او د احادیثو په پوهنه کي، داسنادو د مرجع په حیث منل سوی دی
دغه بحث پر فوائدو مشتمل دی:

### لومړی فائده، د ده رحمه الله په پېژندګلوي کي ده

دامام په نسب کي د اقوالو پر بناء اختلاف سوی دی، څوک وایی عربي دی او څوک وایی عجمي دی، خو دوهم قول حقیقت ته نژدې دی.
هغه څوک چي دی عربی بولي هغه د ده نسب داسي بیانوي: نعمان زوی د ثابت زوی د زوطی زوی دیحیی زوی د اسد زوي د راشد انصاری دی.
احمد بن حجر مکی وایي: د ده په نسب کي مؤرخینو اختلاف کړیدی، او زیاتوویلي دي – چي محققینو هغه صحیح بللی هم دی – هغه داچی دی مبارک دعجمو څخه دی ، زوی د ثابت زوي د زوطی - پروزن د موسی، په ضمه سره او یا پروزن دسلمی په فتحه سره۔ زوي د ماه د کابل د اهالیو څخه دی. همدا رنګه عمر بن حماد د امام صاحب لمسي دده نسب همداسي ښودلی دی، او اسماعیل بن حماد دعمر ورور داسي ویلی دي: «دی زوی د ثابت ، زوی د نعمان ، زوی د مرزبان دی. (مرزبان په فتحه، سکون، د زا ضمه او کله د زا په فتحه سره ویل سوی دی چي په

عربي کي ورته رئيس وايي) د فارس د ساهو (ازادو) اولادو څخه دی، په الله(ج) دې زما قسم وې چي هيڅکله پر موږ مريي توب ندی راغلی.[١]».

او دلته د نومانو په هکله دوه قوله سره يوځای سويدي، په داسی ډول چي زوطی جاهلی نوم دی او نعمان اسلامي. او همدا ډول ماه او مرزبان سره يوځای سوي دي چي دواړه د رئيس او شريف په معنی دي. په ((جواهر المضيئة)) کي دامام د نسب په هکله زيات تفصيل راغلی دی[٢] او دده نسب ئې ترآدم (علی نبينا وعليه الصلاة والسلام) پوري رسولی دی د زياتو معلوماتو لپاره هلته مراجعه وکړئ.

دامام (رضی الله عنه) پلار (ثابت) په کوفه کي پيدا سوی دی، او هغه خپل پلار و حضرت علی. کرم الله وجهه. ته په کوچنيوالي کي وروستلی وو، او هغه مبارک و ده ته او دده و اولادې ته دبرکت دعا کړې وه. او خپله امام. رضی الله عنه. د هجرت په اتيايم کال د عبد الملک بن مروان د خلافت په زمانه کی په کوفه کي و دنياته سترګي غړولي دي. خو چاپيا د ده د پيدا ايښت زمان د هجرت يوشپيتم کال ښولی دی، لکه په «الخيرات» کي چي راغلي دي. او همداډول په «الخيرات» کي وايي:

---

١: امام ذهبي په سير اعلام النبلاء کي همدغه قول په لږ تفاوت سره راوړی دی، لکه چي په جلد ۶ صفحه ۳۹۴ وايي: قال عمر بن حماد بن أبي حنيفة أما زوطي فإنه من أهل كابل وولد ثابت عن الإسلام وكان زوطي مملوكا لبني تيم الله بن ثعلبه فأعتق فولاؤه لهم ثم لبني قفل او په ((مكانة الامام ابي حنيفة فی الحديث)) کي بيادا عبارت داسی راغلی دی: ((انا اسماعيل بن حماد بن النعمان بن ثابت بن النعمان بن المرزبان . . .)) ص: ۹۰. مترجم عفی عنه.

٢: ۲: وګورئ: جواهر المضيئة، ص: ۲۶-۳۲، ج: ۱ او البدايه والنهايه ص: ۱۰۷، ج: ۱۰ او عبر الذهبی ص: ۲۱۴، ج: ۱. او وفيات الاعيان ص: ۴۰۵، ج: ۵. او شذرات الذهب ص: ۲۲۷، ج: ۱. او تاريخ بغداد ص: ۳۲۳، ج: ۱۳.

پردې اتفاق وسو چي د ده نوم به نعمان وي ، اوپه دې کي يو لطيف سر سته، هغه داچي په اصل کي نعمان وهغه ويني ته وايي چي دبدن ځواک اوقوام په هغه سره وی ياني داچي بعضي وايي: نعمان د روح په معنی سره دی، بناءاً په ابو حنيفة ﷺ سره قوام دفقهی دی ، اويا نعمان د رېدي (لاله) سورخوشبويه ګل دی، شعر: «فابو حنيفة ﷺ طابت خلاله – وبلغ الغاية كماله (ابو حنيفة رحمه الله نيک اوصفا کړباطن خپل – او ده کمال وه آخري پوړی ته ورسېد)»، او يا داچي نعمان پروزن د فعلان د نعمت څخه اخستل سويدی. بناءاً ابو حنيفة رحمه الله د الله نعمت دی پر مخلوق باندي.

او مؤرخينو په اتفاق سره د ده كنية (لقب) ابو حنيفة رحمه الله د حنيف مؤنث ښود لی دی، حنيف ناسک، زاهد او مسلم ته ويل کيږي. ځکه خود ده په تکنيه (لقب) کي وجوهات راغلي دي؛ يوه وجه داچي دی په سپين حنفي ملت کي د شرعی فروعاتو سر بلل سوی دی، او چا بيا داسي ويلي دي: سبب د ده د تکنيې (لقب) دادی چي د ده سر و کار د قلم او مشوانۍ سره وؤ، په عراقی ژبه حنيفة و مشوانۍ ته وايي[1]، خو چا بيا ويلي دي چي د ده د حنيفة په نامه يوه لور درلوده ، داخبره ځکه نده منل سوې چي د حماد نه بغير د ده د بل کوم نرينه يا ښځينه اولا د پته نده لګېد لې . په مختصر ډول سره پای ته ورسېد.

د ده ځاني صفت : ابويوسف ـ رحمه الله ـ ويلی دی : ميان قده وو اوپه صورت د ښائسته خلکو څخه وو، رسا كلام ئې درلود ، كامل اوپوره بيان

[1]: په همدې ارتباط سيد العفيفي په «معجم الفقهاء» کي داسي ليکلي دي: «و قيل سبب تكنية الامام بذالک أنه كان ملازماً لصحبة الدواة، و حنيفة بلغة العراقية الدواة، فكنى بها». مترجم عفى عنه.

ئې ورکاوه ، خوږه لهجه ئې وه، واضح او روښانه حجت او استدلال ئې کاوه. او د هغه زوی حماد ويلي دي: په قامت جګ وو په څهره کې ئې سرخي غالبه وه، ښائسته مخ ئې وو، ستاره ناکه وو، چي به پوښته ورڅخه ونه سوه خبري ئې نه کولې، او په بيهوده او بې فايدې شيانو کي فکر نه کاوه. د لته د جګ او ميانه قد په ميان کي تناقض نسته هغه په دې لحاظ چي کله، کله ميانه قد و جګوالي ته نژ دې وي لکه څنګه چي د ((شمائل الترمذی)) شارحينو زيات تفصيل او تشريح ورکړېده. او عبد الله ابن المبارک ويلي دي : ښايسته څهره ئې وه او ښائسته جامې ئې اغوستلې.

او د امام. رضی الله عنه. ښايسته شکل او صورت وو، زيات عطر ئې استعمالول، او مخکي له دې چي وليد ل شي پر خوشبويي پېژندل کېدی، هميشه به ئې د چمپل بند و نه تړل او هيڅکله داسي ندی ليدل سوی چي د چمپل بند و نه دې پرې وي، او توره اوږده رخچينه ئې پر سر کول، او ده لره د سمور د چوخې لباس وو، او بل ده لره د سنجابي ګېدړي (د پوست) چوخه وه، چي په هغه کی ئې لمونځ کاوه، او څادر به تل له ده سره وؤ، او اووه خولی ئې درلودې چي په هغو کي يوه توره وه، او شريک ويلي دي: امام. رضی الله عنه – د اوږده سکوت خاوند وو، عقل ئې ډير وو، د خلکو سره ئې لږ مباحثه او لږ خبري کولې . او ضميرة ويلی دي : چي ټولو خلکو بې اختلافه دا منلې وه چي د امام رضی الله عنه سمه سيده ژبه وه ، هيڅ څوک ئې په بدو نه يادول. او بکير بن معروف ويلی دي چي ما هيڅکله د محمد عليه الصلواة والسلام په امت کي ترابی حنيفة خوش خُلقه سړی نه دی ليدلی.

او سیوطي د جعفربن ربیع څخه حکایت کوي ، وایې: ماد هغه سره پنځه کاله اقامت (هستوګنه ) وکړه ، هیڅ کله مي ترده د اوږده سکوت خاوند ندی لیدلی، خوکله چي به د فقهی په باب پوښتنه ورڅخه وسول نوبه سره راوسپړېدی اود شېلې په شاني به راوبهېدی، ما د ده لوړ اواز اوپه زوره خبري اورېدلي دي. اوامام ـ رضی الله عنه ـ دیوازي والي، انزوا او د خلکو څخه د انقطاع اراده کړېوه مګرحضرت رسالت مآب صلی الله علیه وسلم له پلوه په خوب کي له د غه کاره څخه منع کړل سو او د شرائعو په تبلیغ سره امرورته وسو په همدغه هکله د ده –رضی الله عنه– خوب ډیرمشهوردی، اوموفق د نضربن محمد څخه حکایت کوي چي هغه وایي: ماله ده نه ټینګ پرهیزګار ندی لیدلی، اوهیڅکله ئې تړوکي ښه نه ګڼلې، اونه ئې په هغه سره خبري کولې، اوهیڅ کله مادی ندی لید لی چي په کټ، کټ دې خندلي وي همښ به ئې مسل (تبسم به یې کاوه)

د امام –رضی الله عنه –وفات : سبب دوفات د ده: ابن حجرویلي دي : منصور د امام –رضی الله عنه څخه– د قضاء غوښتنه وکړه ، په داسي ډول چي دی – رضی الله عنه – به قاضی القضات وي ، ده منع وکړه ، نومنصورپه ټینګارسره قسم وکړ چي که کارونه کړي خامخا به یې بندي کړي او سختي به پر راولي، بیاهم امام صاحب منع وکړه ، پس له هغه ئې بندي کړ، اوسړی ئې ورواستاواه ، که خلاصول خوښوي نودي امرقبول کړي ، خوبیایې هم منع وکړه ، کله چي (امام) په منع کي شدت وکړ نو(منصور) امر وکړچي هره روځ دي لس دورې ووهل سي ، اوپه بازارکي دي نارې ورباندي ووهل سي، پس له هغه راویستل سو اوپه دردناکه وهلوسره ووهل سو ترداسی حده چي پړسېد او به ئې ویني بهېدلې ، بیابه ئې بیرته محبس ته وروګرځاوه ، اوپه تنګي سره ئې سخته تنګي

ورباندراوستل حتی په خوراک ، څښاک کي هم ، په مکررتوګه ئې دغه کار په دوهمه اودریمه روځ هم وکړ، همدا ډول یې ترلسو روځو پوري د دوام امر ورته وکړ، ځکه خو امام صاحب د رب و دربارته په ټینګه دعا وکړه او پس له پنځه روځي وفات سو.

اویو ډله یز روایت وایي چي وده مبارک ته ئې د زهرو ډک کټوری ورپورته کړ ترڅو وه ئې څکي نوده منع وکړه، اوویل ئې : زه پوهیږم چي په دې کي څه شی دي اوزه به د خپل ځان پرمرګ دچاسره کومک ونه کړم، نوئې غوځار کړ بیا ئې په خوله کي په زورسره ور توی کړه اووفات سو، اوچا بیاداسي ویلي دي : چي دا ټول دمنصورپه حضورکي وسول، او داخبره بالکل په صحت رسېدلې ده چي ده مبارک کله د مرګ احساس وکړ نوپرسجده سو، په داسي حال کي چي پرسجده پروت وو ساه ئې ورکړه. چا بیا داسي ویلي دي : په سبب د امتناع د قضاء څخه منصورته دانه ښایېدل چي په داسي ناوړه مرګ سره یې ووژني، په حقیقت کي ده دغه پېښي سبب داوو چي د امام ابوحنیفةﷺ ځیني دښمنانو ومنصورته رپورټ ورکړ چي امام ابوحنیفةﷺ هغه څوک دی چي په حکومتي ضد پاڅون کي د ابراهیم بن عبدالله بن الحسین بن علی -رضی الله عنهم- کي حمایت کوي، هغه چي خارج تربصرې تحریک چلوي ، (د دې واقعاتووروسته مؤرخینو) په اتفاق سره ویلي چي امام- رض- عنه په سنه - ۱۵۰ -کي د اویاوو کالو په عمر د رجب په میاشت کي د مشهورقول مطابق یا د برات یا د کوچني اختر د میاشتي په نیمایي کي وفات کړیدی ، له امام صاحب څخه بېله حماده بل کوم اولاد ندی پاته سوی.

## دوهمه فايده، د امام اعظم فضيلت او د ده هغه صفتونه چي خلكوبيان كړيدي

ته بنه پوهيږې چي فضائل د امامانو – رضى الله عنهم – ډېر ترډغه دي چي په دفترونو كي دي وشمېرل سي، دغه څوورقي خولاپرېږده، خاص بيا په عبادت كي د امام اعظم – رضى الله عنه – د سخت زيار په هكله[1]، د الله سبحانه و تعالى څخه د ده د وېري اوترس په هكله، د بې فايدې شيانو څخه دده د خپلي ژبي د ساتني په هكله، د ده د سخا اوزهد په هكله، د ده د پرهېزګاري اوامانت داري په هكله، د ده د زيات عقل اوزيركتيا په هكله، د ده د ستر ذكاوت په هكله، د ده د حيرانونكو جوابونو په هكله دهاغه سوالونو چي هغه مبهم اوبې جوابه پاته وه، د ده په حلم كي، اوپه مثال سره د دغه د ده په خوراك اوكسب كي، او د ده له پلوه د سوغاتونو په نه منلو كي، د ده په حكمتونو او آدابو كي، د ده په تكليفونو او محنتونو كي چي كله هغوى (چارواكو) و ده ته د لويو منصبونو د ورسپارلو اراده وكول. يقيناً د دغه ټولو په هكله مشايخو اوږده، اوږده بابونه اويا مستقل جلدونه تأليف او تصنيف كړيدي چي په دغه لنډ ليكنه كي ئې ګنجايش نسته[2]، اوموږ د اختصار په خاطر ورڅخه تېرېږو، او د دې په

---

[1] : د ده د بنه عبادت په هكله يو كوچني مثال له تفسير كبير څخه: «يحكي عن ابيحنيفة أن حية سقطت من السقف و تفرق الناس و كان ابوحنيفة في الصلاة و لم يشعر بها» ترجمه: «له ابيحنيفة څخه حكايت دى چي په مسجد كي له چت څخه مار را ولوېد خلك سره متفرق او په ځغاسته شول مګر ابوحنيفة په لمانځه كي وؤ له سره په خبر شوى ندى». تفسير كبير، ج: ۱، ص: ۲۴۹، د «اياك نعبد» په تفسير كي. محترم استاد حقاني صاحب مد ظله.

[2] : وګوره «مناقب الامام الاعظم» د مكي. او «مناقب أبي حنيفة» د ذهبي، او «الانتقاء» د ابن عبدالبر او داسي نور.

خاطرچي د ده – رضی الله عنه – په مناقبو موتبرک کړی وي د ده دهغه صفتونه څخه چي نورو خلکو بیان کړيدي لږ څه لیکو.

ابن المبارک –رحمه الله– ویلي دي : ابوحنیفة رحمه الله د مالک رحمه الله ومجلس ته ور داخل سو نو (مالک رحمه الله) هغه لوړ کښېناوه ، د هغه تروتلو وروسته ئې وویل: آیا تاسو ته معلومه ده چي داڅوک وو؟ هغوی ورته وویل، یا! (مالک) وویل : دا ابوحنیفة النعمان رحمه الله ؤ، که ووایي چي دغه ستون د سرو زرو دی نولکه څنګه چي وایي هغه به ثابته هم کړي، یقیناً ده ته د فقهي پوهي توفیق ورکول سوی دی ترداسي حده چي ده ته د دغه علم د مشکلو مسائلو حل کول سخت او مشکل ندي، بیا ثوري ومجلس ته راغی، نوهغه ئې د ابوحنیفة رحمه الله ترځای ناستي کښته کښېناوه، کله چي ووتی د هغه د فقهي اوپرهېزګاری، څخه ئې یوڅه یادونه وکول.

شافعی –رضی الله عنه– ویلي دي: که څوک وغواړي چي په فقهه کي د لویي برخي خاوند سي نوهغه د ابيحنیفة د اولاد په درجه کي دی ، څکه چي دی د هغه چاد جملې څخه دی چي د فقهي پوهي توفیق ورکول سوی دی، اودغه رنګه له ده – رضی الله عنه – څخه نقل دی: که څوک د ده په کتابو کي ونه ګوري په علم کي به د لویې برخي څښتن نسي او هم به فقیه نه سي، اوعیینة ویلي دي: زماسترګو دده مثل ندی لیدلی، اودده څخه بل نقل قول دی: که څوک د غزا د علم اراده ولري نومدینې ته دي ولاړسي ، که څوک د مناسکو د علم نیت ولري نومکې ته دي ولاړسي اوکه څوک د فقهي د علم اراده ولري نوکوفې ته دي ولاړسي او د ابي حنیفة د اصحابو (ملګرو) سره دي لازماً یوځای سي.

اوابن المبارک ویلي دي: که رأيي ته احتياج وليدل سي نو د مالک ، سفيان او ابی حنيفة رأيه په کارده. اودی (ابی حنيفة) افقه د دوی دی ، اواحسن د دوی دی ، اودقيق الفهم (تېز فهمه) د دوی دي . بياهم د ابن المبارک څخه نقل قول دی: کله چې موږ اثرپيدا نکړو نود ده قول زموږ په تيز لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم اثرداسی دی[1]. اوبياهم له ده څخه نقل قول دی : هيڅوک نسبت و ده ته وړاو لايق ندی چې مقتدا او امام و ګرځي ياني دی دېر د امام والي وړ دی، ځکه چې دی امام وو ، متقي وو ، پرهېزګاره وو، عالم وو ، فقيه وو ، علم ئې په ديد ، پوهه، ذکاوة او تقوی سره داسي راوسپاړه چې هيچا د ده په شاني ندی راسپړلی، اوثوري د هغه چا په جواب کي چې ده ته ئې ويل ته د ابو حنيفة رحمه الله څخه راغلې؟ وويل: زه د ځمکي د سرد افقه څخه راغلم[2]. اوکله چې دواړو يو ځای حج سره کاوه نوهمېشه به ثوري امام دمخه کاوه او دی به وروسته ور پسي روان وؤ، که به کوم چا ددواړو څخه پوښتنه وکړه نو ثوري به جواب نه ورکاوه ترداسي حده چې همېش به ابو حنيفة رحمه الله هغه څوک ووچي جواب به ئې ورکاوه .

او اوزاعي و ابن المبارک ته وويل: څوک دی دغه مبتدع چې د کوفې څخه راپورته سويدی او اباحنيفة لقب کوي؟ ابن المبارک وايي : چې مايو څوسختي اومشکلي مسئلې وربنکاره کړې ، کله چې ئې وکتلې هغه ونعمان بن ثابت ته منسوب وې نو پوښتنه ئې وکړه : څوک دی دغه

---

[1]: من «حياة الامام» ص: ۴۹ ، قال (ابن مبارک): قول ابی حنيفة عندنا کاثر الرسول. شيخ الحديث استاد حقاني مدظلّه.

[2]: من «حياة الامام» ص: ۵۰ ، عن محمد بن بشر ملخصاً: فاتی سفيان، فيقول من اين جئت؟ فاقول: من عند ابي حنيفة! فيقول: لقد جئت من افقه الارض. شيخ الحديث استاد حقاني مدظلّه.

؟ ما ورته وويل: هغه شيخ دى چي زه په عراق كي ورسره ملاقي سوى يم، وئې ويل: دغه هوښيارد مشائخودى ، ورسه ډير څه له ده څخه حاصل كړه ، ماورته وويل: داهغه ابو حنيفة رحمه الله دى چي تا زه ورڅخه منع كولم . پس له هغه چي كله په مكه كي سره يوځاى سول اودواړو په دغه مسايلو كي بحث سره وكړ نومعلومه سول چي له ابو حنيفة رحمه الله سره ډير څه ترهغه موجود وه چي ابن المبارک ورڅخه ليكلي وه ، كله چي سره جلاسول نو اوزاعي و ابن المبارک ته وويل : ددغه سړي په ډيرعلم اوزيات عقل مي غبطه (كسد) وسو، او استغفرالله يقيناً زه ډېر خطا وتلى وم، د دغه شخص سره لازم اوسه، ماته چي څه د ده په هكله را رسېدلي وه هغه د حقيقت پر خلاف وه.

او احمدبن حنبل رحمه الله دده په شان كي ويلي دي : يقيناً دى داهل تقوى اواهل زهد څخه وو، اود آخرة و عالي مداراجو ته د رسېدو لپاره د ده خودګذري په داسي مقام كي وه چي هيڅ څوک ورته رسېداى نسي.

اونضربن شُميل ويلي دي : خلک دفقهي څخه ويده وه ترهغه چي ابو حنيفة رحمه الله راويښ كړل؛ (د فقهي په هغه احكامو سره) چي ده رابرسېره كړل، واضح ئې كړل اورا لنډ ئې كړل. اوخطيب بغدادي دزهد دځينو امامانو څخه حكايت كوي او وايي: كه څوک غواړي چي د ناپوهى اوجهل له ذلت څخه راووزي اودفقه خوږوالى وڅكي نو د ده (ابو حنيفة رحمه الله) په كتابو كي دي وګوري، او حافظ عبدالعزيز بن ابى روّاد ويلي دي : چي څوک اباحنيفة خوښه وي هغه د اهل السنة څخه دى، او چي څوک د اباحنيفة سره بغض كوي هغه مبتدع دى. په يوبل روايت كي داسي راغلي دي: زموږ اودخلكوترمنځ ابو حنيفة رحمه الله دى څوک چي هغه خوښه وى او دوستي ورسره كوي نوموږپوهېږو چي داهل

السنة څخه دی او څوک چې ورسره بغض کوي نوموړی‌پوهېږو چې دی د اهل البدعت څخه دی.

او ابراهيم بن معاوية الضرير ويلي دي : د سنتو د پوره کولو څخه د ابی حنيفة حب دی. د ابن حجر څخه حکايت سوی دی او وايي: ده (امام صاحب) و خپل مذهب ته د خلکو په دعوة ندی مشغول سوی مگر په نبوی اشاره سره په خوب کي، او و خپل مذهب ته ئې پس له هغه خلک راوبلل چي ده د نفس د ماتولو او تواضع له مخي د انزوا او د هغوی څخه د پټېدلو قصد کړی و، کله چي د هغه چا له پلوه ، کوم چي پرمستحقينو باندي د الله د خزانو د تقسيم تفويض ورته سويدی ، اذ ن وسو نو دا معلومه سوه چي دغه امر حتمي دی او چاره ور څخه نسته، نو ده خلک خپل پلو ته دعوت کړل تر څو چي د ده مذهب ښکاره او نشر سو، اتباع ئې ډېر سول او دښمنان ئې خوارسول، شرق او غرب ، عرب او عجم په ده سره گټمن سول .

د ده د لويو خصوصياتو او پرهېزگاری څخه اووه کاله د پسه د غوښو پر ښودل دي، کله چي په کوفه کي پسه ورک سو، او بل دا چي ده د هغه معيوب کالي ټول قيمت خيرات کړ کوم چي د ده وکيل پلورلی وو او رانيونکي ته ئې عيب نه وو ورپه گوته کړی. او دا چي ځني مؤرخينو ورباندی ايراد کړی دی چي دی مستبعد[1] وو، دا (ايراد) دتقوی په سرچينو سره د لږ معرفت په سبب صادرسويدی، چاچي د متقيانو سره

---

[1]: مستبعد: بعيد الاحتمال. معجم اللغة العربية المعاصرة. ممکن د مستبعد څخه مراد دا وي چي د ده عبادت د انساني طاقت په لحاظ ناشونی او افسانوي شکل ته ورته وؤ. و الله اعلم.

ناسته پاسته کړې وي نو دا د هغوی لپاره دتعجب خبره نده، ځکه چي تقوی ترفتوی سخته ده .

او د ده – رضي الله عنه – د مشهورو خصوصياتو (مناقبو) څخه داده چي ده – رضي الله عنه – څلويښت کاله د شپې په اوداسه دسهارلمونځ ادا کړيدی، چا ورته وويل: هغه څه سبب وؤ چي تاته پردغه (عبادت) قوت او توفيق حاصل سو؟ ده ورته وويل : زه پرحروفو معجم باندي دالله په اسماؤ سره دعاکوم ، هغه په دوه آيتوکي جمع دي ، اول: (محمد رسول الله ... ) دسورة الفتح ترآخرپوري ، دوهم: (ثم أنزل عليكم من بعد الغم . . . ) الآية ، سورة آل عمران . او يقيني ده چي ده په رمضان کي شپيته ختمه کول: يوختم دشپې اوبل ختم د روځي . دا قول غزالي په (احياء) کي راوړی دي .

ابن حجر ويلي دي: کله چي اعمش حج کاوه ده ته ئې سړی ورواستاوه چي مناسک ورته وليکي. اواعمش ويل: د ده څخه مناسک نوشته کئ، ځکه چي زه بل هيڅ څوک داسي نه پېژنم چي د حج په فرائضو او نوافلودې د ده په نسبت ښه خبروي، وګوره د ده په هکله د اعمش غوندی شخص داسي شهادت ورکول. يوسړي ووکيع ته وويل: ابوحنفية رحمه الله خطاوتلی دی ، وکيع هغه وترات‍ه او ورته وه ئې ويل : څوک چي داخبره کوي هغه د څارويو په شان دی بلکه تر هغه لا هم ګمراه دی ( من يقول هذا کالانعام ، بل هم أضل سبيلا ) ، څنګه به خطاوزي ځکه چي د ده سره د فقهي امامان دي، لکه ابی يوسف او محمد ، او د حديثوامامان ورسره دي ورته وه ئې شمېرل ، او د عربي د لغت امامان ورسره دي ورته وه ئې شمېرل ، د طاعت اوپرهېزګاري امامان ور سره دي لکه فضيل اوداود

طائي، ( ورپسي زيات ئې کړل ) د چا سره چي دا کسان ملګري وي هيڅ کله نه خطاوزي ځکه که خطاوزي هغوی به ئې بيرته سمي ته راوګرځوي.

عبدالبر په (کتاب العلم) کي په خپل سند سره د محمدبن بکربن داسة څخه روايت کړی دی ، چي هغه ويل: ما د ابوداودسجستانی څخه اورېدلي دي چي ويل ئې: رحم دي وکړي الله پر مالک رحمه الله باندي امام وو ، رحم دي وکړي الله پرشافعي رحمه الله باندي امام وو، رحم دي وکړي الله پراباحنيفة رحمه الله باندي امام وو. موفق د ابی يحيی الحِمّاني څخه حکايت کوي چي ويل ئې: ماهيڅ کله تر اباحنيفة ښه سړی ندی ليد لی. دابن عيينة څخه روايت دی چي ويل ئې: زماسترګو د اباحنيفةپه شان بل ځوک ندی ليدلی. خلف بن ايوب ويلي دي : علم د الله تعالی له طرفه ومحمد عليه الصلواة والسلام ته ورسېد، بيا له هغه څخه د هغه واصحابوته ورسېد، بيا له هغوی څخه وتابعينوته ورسېد، ترهغه وروسته و اباحنيفة او د هغه و اصحابو ته ورسېد، که د چا خوښه وي او که يې نه وي خوښه همداسي ثابته سوېده.

اوابن المبارک وثوري ته وويل: اباحنيفة دغيبت څخه څومره ډېر ګوښه وؤ، ماهيڅکله د ده څخه د ده د هيڅ دښمن غيبت هم ندی اورېدلی . ويل ئې: قسم په الله چي دی په دغه هکله ډېر هوښيار وؤ چي د ده پر ښېګڼو دي داسي څه مسلط سي چي هغه دي ورڅخه يوسي. د ابن عيينة څخه روايت دی ويل ئې ما د شقيق بن عتيبة څخه اورېدلي دي چي ويل ئې: زما سترګو د ابی حنيفة په شان سړی ندی ليدلی. موفق دزرنجري څخه روايت کوي چي ويل يي : په تحقيق سره امام – رضی الله عنه – کوښښ کاوه چي د حضرت صديق (رضی الله عنه ) د اقوالو او افعالو څخه اخستنه وکړي ، ځکه چي صِديق – رضی الله عنه – افضل د اصحابو

ؤ ، اعلم ، افقه ، پرهيزګار ، تقوی دار ، زيات عبادت کونکی ، ډېر رياضت کش ، زيات سخي او ډېر مهربانه د دوی ؤ ، همدارنګه امام ابوحنيفة رحمه الله په تابعينوکي اعلم ، افقه ، اتقی ، ډېر پرهېزګار ، زيات عبادت کونکی ، ډېرزحمتکش ، زيات مهربانه ؤ ، تردا سي حده چي په يقين سره په مکه کي حضرت صديق – رضی الله عنه – دبزازۍ دوکان درلود ، همدا ډول امام ابوحنيفة هم دهغه په متابعت په کوفه کي دوکان ونيوی او بزازي ئې ورکي کول.

موږ دغه فايده په هغه تبشير (زيری) سره ختم کول غواړوچي درسول کريم صلی الله وسلم څخه د امامانو په خصوص کي راغلی دی ، په تحقيق سره بخاري اومسلم د ابی هريرة څخه او ابو نعيم هم دده څخه ، شيرازي اوطبراني دقيس بن سعد بن عبادة څخه اوطبراني دابن مسعود څخه روايت کوي چي نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

«لوكان العلم عندالثريا لتناوله رجال من ابناء فارس[1].» ترجمه : «که چيري علم د ثريا (د ستورو) سره هم وي د فارس د اولادو څخه به يو څوک ورته حتماً رسېدګي وکړي.» سيوطي ويلي دي : دا اصل صحيح دی اوپردې باور کېدای سي چي دا به د ابی حنيفة – رحمه الله – په هکله زيری وي. او د دغه حديث مثل هغه دی چي د مالک په خصوص کی راغلی دی ، هغه دا قول د عليه السلام دی :

«يوشك أن يضرب الناس أكبادالابل يطلبون العلم . فلا يجدون اعلم من عالم المدينة[2]»

---

[1]: وګوره «فيض القدير» (۶/۳۲۳) او «مجمع الزوائد» د هيثمي (۱۰/۶۴)

[2]: ترمذي په کتاب العلم کي راوړی دی.

ترجمه: «نژدې دی چې خلک به د اوښانو سېنې وهي د علم طلب به کوي، دوی به د مدينې تر عالم ښه عالم پيدا نکړي». اوهغه حديث چې د شافعي رحمه الله په خصوص کې راغلی دی: «لاتسبوا قريشاً فان عالمها يملأ الأرض علماً[1]» ترجمه: «تاسو و قريش ته بد مه واياست ځکه د هغوی عالم به ځمکه علم په ډکه کړي.» دا حديث حسن دی ده لره څو طريقې د روايت ستة.

**دريمه فايده، د امام په تابعي کېدو کې ده**

دا ده مشهورو اختلافي مسائلو څخه يوه مسئله ده. ثابتوونکي هم لري او منفي کوونکي هم. او تفصيل يې پراخ بحث غواړي، چې دغه يې ځای ندی، او سمه خبره هغه ده چې د اصولو، تواريخ او علل الرجال کتابونه و هغه ته لار ښونه کوي، هغه دا چې تابعي په نزد د اهل فن پر دوه قسمه دی : يو (تابعي) په اعتبار د رويت دی، او بل (تابعي) په اعتبار د روايت دی ، د (امام صاحب په خصوص کې ) دوهم قسم مختلف فيه دی اوداول قسم په خصوص کې د علم الرجال جمهور علمأ پرثبوتيت باندی تللي دي.

ابن حجر مکي شافعي رحمه الله فرمايي لکه څنګه چې ذهبي رحمه الله هم فرمايلي دي: ده رحمه الله انس بن مالک رحمه الله په وړکتوب کې ليدلی دی اوپه يوه روايت کې (چې دامام صاحب څخه سويدی وايي) : ماڅو ځلي (انس بن مالک رحمه الله) ليدلی دی ، هغه به ږيره په نيکريځو سره کوله. او د شيخ الاسلام ابن حجر په فتاوی کې راغلي دي: دی (رحمه الله) د اصحابو کرامو ديوې ټولی سره ملاقي سوی دی، چې هغوی په کوفه

[1] بيهقي په «معرفة السنن و الآثار» کې راوړی دی.

کي هستوګنه کوله، په همدغه لحاظ دی (رحمه الله) د تابعينو د طبقې شخه دی. او د ده (رحمه الله) د همعصر امامانو له جملې څخه يوه ته هم دغه مقام ندی ثابت سوی، لکه اوزاعي په شام کي، حمادين په بصره کي، ثوري په کوفه کي، مالک رحمه الله په مدينه کي او ليث بن سعد رحمه الله په مصر کي، ځکه خو دی (رحمه الله) دهغه لوړ پوړ د تابعينو څخه دی چي د الله تعالی په دغه قول کي شامل دي: ﴿وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ التوبة. ١٠٠، الآية). او د مصنفينو، هغه ډله چي د ده (رحمه الله) د مناقبو په هکله تصنيفات لري او همدا رنګه نورو ويلي دي: چي ده (رحمه الله) دانس بن مالک رحمه الله نه بغير د نورو اصحابو کرامو څخه هم سمع کړېده، چي دهغوی له جملې څخه ابو طفيل عامر بن واثلة - رضی الله عنه - متوفی سنة ١٠٢ هـ[1]. دی، او يقيناً کله چي امام (رحمه الله) په کال ٩٦ هـ. کي د خپل پلار سره و حج ته تللی وود ده ملاقات ورسره انکارناپذيره دی.

د هغو صحابه کرامو له جملې څخه چي امام ورسره ملاقي سوی دی يو هم سهل بن سعد متوفی سنة ٨٨ هـ. او چاپه مابعد کي (د هغه وفات) ښودلی دی. او بل هم سائب بن خلاد متوفی سنة ٩١ دی، او بل هم سائب بن يزيد متوفی سنة ٩١ دی، او بل هم له دغه جملې څخه عبدالله بن بُسرة متوفی سنة ٩٦ دی، او بل هم محمود بن ربيع متوفی سنة ٩٦ دی، بغير له دغو نورهم يو شمېر مؤرخينو ياد کړيدي.

او داغه رنګه ابن حجر د بعضی وروستنيو محدثينو څخه حکايت کړی دی چي (لنډ) حاصل ئې دادی: څو کسانو د حديثو د امامانو څخه

---

[1]: او په «تقريب» (٤٦٤/١) کي د صحيح قول پر اساس ١١٠هـ. ښودل شوی دی.

په تېنګار سره ويلي دي چي ده (رحمه الله) د هيڅ يوه صحابي څخه هم شی نه دی اورېدلی، او د انس بن مالک رضي الله عنه سره د ده ليدنه او د سن له مخي د اصحابو د زمانې نېول دا دوه صحيح خبري دي چي هيڅ شک پکي نسته، دغه ډول په (خيرات کي) هم راغلي دي ، او قاري د قفّال په رد کي ويلي دي: په اتفاق سره ده معتبرو علماؤ د مجتهدينو امامانو په جمله کي دی هغه څوک دی چي مختص په تابعيت سره دی، او قسطلاني د بخاري په شرح کي د مذاهبو په بيان کي دی (امام) ډېر د تا بعينو له جملې څخه شمېرلی دی، او يافعي ويلي دي : چي ده د څلورو صحابهؤ سره ملاقات کړيدی چي هغوی يو هم انس په بصره کي دی ، عبدالله بن ابی اوفی په کوفه کي ، سهل په مدينة کي او ابو طفيل په مکة کي ، رضی الله عنهم.

او قاری (ملا علي قاري) په طبقات حنفية کي ويلي دي : يقيناً د ځينو اصحابو سره د ده ليدنه ثابته سوېده، او په روايت کي د ده د اصحابو څخه اختلاف دی خو معتمده خبره ئې ثبوت دی ، لکه څنګه چي د امام د مسند په شرح کي په اتمه پانه کي بيان سويدي، (د اوجزالمسالک مؤلف وايي) : زه وايم: همدا ډول د بخاري شارح عينی هم د ده روايت ثابت کړيدی، او ابن حجر ويلی دي : هر څه چي د ده ليدنه ده د انس رضي الله عنه سره او د ده ملاقات د يوې ډلي اصحابو سره په کوچنيوالي کي دا دواړه صحيح دي هيڅ شک پکي نسته، او عيني د ده سماع د اصحابو څخه هم ثابته کړېده خو دغه خبره شيخ قاسم حنفي ردکړېده، (په داسي رواياتو کي ) قاعده د محدثينو داده چي راوي د اتصال مقدم دی پر راوی دارسال او انقطاع، دا ځکه چي د اتصال د راوي علم زيات دی نسبت وراوي ته د ارسال او انقطاع. نو د دغې قاعدې په اساس د عينی قول د

تائید ور دی. دا د ځانه سره یادولره ځکه چي دامهم دی . په لند ډول پای ته ورسېد.

اوعراقي ویلي دي : امام اعظم د تابعینو په کتارکي راغلی دی ، په یقین سره ده انس اونور اصحاب ﷺ لیدلي دي، لکه څنګه چي جزري په (رجال القراء) ، توربشتي په (تحفة المسترشد) کي ، صاحب د کشف الکشاف په سورة المؤمنین کي ، اوصاحب د مرآة الجنان په خپل کتاب کي. او بغیرله د غوڅخه نورومتبحروعلماؤهم ویلي دي، پس هرهغه څوک چي وايي چي دی تابعی ندی نود غه خویا د ده پر کمه څېړنه دلالت کوي او یا د ده پر زیات تعصب.

د الغرائب مؤلف ویلي دي: د امام تابعیت معتمد و ثقاتو ثابت کړی دی، لکه دارقطني، ابن سعد، خطیب، ذهبی، حافظ ابن حجر، ولی العراقي، سیوطي، قاري، أکرم سندهي، ابومشعر، حمزة، یافعي، جزري، توربشتي، ابن الجوزي، سراج صاحب د کشف الکشاف او نور.

امام الشیخ عبدالرشید النعماني په خپله (ابن ماجه وعلم الحدیث) نومي هندي رساله کي هم د امام (رحمه الله) تابعیت ثابت کړیدی[1].

### څلرمه فایده، په علم الحدیث کي دده لوړه مرتبه

و د غه فایدې ته خو د سره حاجت نه وو ځکه چي امام –رضی الله عنه– خو په اتفاق مجتهد دی بلکه د لویو مجتهدینو څخه دی چي په سلفو او خلفو کي له دغه څخه هیڅا انکار ندی کړی. او څوک تر هغه مجتهد جوړېدلای نسي ترڅو چي په قرآن کریم کي، په احادیثو شریفو کي، په

---

[1]: (ص: ۱۱۶ – ۱۱۷) او وګوره د علامه لکنوي «کتاب اقامة الحجة علی ان الاکثار فی التعبد لیس ببدعة»، ص: ۸۳ – ۸۸ ، او د «اعلاء السنن» مقدمة ، ج: ۲ ، ص: ۴

آثاروکي، په تاریخ کي، په لغة کي او په قیاس کي پوره مهارت او پوهه ونه لري، لکه څنګه چي د اصولو پخوانیو او وسنیو امامانو تصریح ور باندي کړېده. پس په حدیثو کي د امام صاحب د مخکښي (امامت) څخه انکار بېله پرتو (سفسطې) څخه بل څه ندي.

سره د دغه موږ دا ښه وګڼله چي په دې هکله د احادیثو د اهل فن د تصریحاتو څخه یو لږڅه ولیکو: نوپه همدغه اړوند ابن المبارک ویلي دي: په الله قسم چي امام – رضی الله عنه – د علم په اخستلو کي ډېر شدید (تېنګ) وؤ، د حرامو څخه ډېر ګوښه وؤ، د خپل ښار د حق د ود او دستور پیرو وؤ، چي د – رسول – صلی الله علیه وسلم – څخه ئې صحت نه وای مونډلی د هغه (قول) اخیستنه یې جایز نه ګڼل، ډېر تېنګ د حدیث په ناسخ او منسوخ پوهېدی، او همېشه به ئې د ثقاتو احادیث لټول، او د رسول الله صلی الله تعالی علیه و سلم وروستنی کړنه به یې معلومول، او پرکوم څه چي ئې د کوفې علماء د حق په اتباع کي لیدلي وه د هغه څخه ئې اخستنه کړېوه او هغه ئې د ځان دین ګرځولی وؤ، یوې ډلي په ناحقه پر ده باندي بد رد ویلي دي خو موږ د دغه بدګویانو له ویناؤ څخه چُپ پاته سوي یو او موږ د دوی د دغه کار له کبله د الله تعالی څخه بخښنه غواړو.

او مکي بن ابراهیم ویلي دي: ابوحنیفة – رضی الله عنه – اعلم د خپل زمان وو[۱]، زه وایم: د عالم اصلي معنی دمخه تېره سوه هغه دا چي داهل حدیثو په نزد عالم هغه څوک دی چي متون ئې سره د اسنادو پیاد وي. او خلیفه منصور و امام صاحب ته وویل: د چا څخه دي علم تر لاسه کړ؟ ده

[۱]: وګوره د «تهذیب التهذیب» هامش، ج: ۱۰ ، ص: ۴۵۱

ورته وويل: عن اصحاب عمر عن عمر – رضی الله عنهم – و عن اصحاب علي و عن علي – رضی الله عنهم – و عن اصحاب ابن مسعود عن ابن مسعود – رضی الله عنهم – نو منصور ورته وویل: په تحقيق سره تا خپل ځان ته اعتبار پیداکړ[1]. دغه روایت سیوطي هم نقل کړی دی، خو دغه قول: «عن اصحاب عبدالله عن عبدالله» يې هم وروسره اضافه کړی دی: او بیا وړیسې وایي: «د ابن عباس په وخت کې ترده اعلم د ځمکي پرمخ نه وو»، او په آخر کي ورسره وایې: «تا د خپل ځان لپاره اعتبار وګاټه».

حافظ ابن حجر عسقلاني ویلي دي: احتیاط! له داسي توهم نه ځان وساته چي ګویا اباحنیفة بغیر له فقهي پر نورو علومو کامل تسلط نه درلود، هیڅکله داسي نه ده، بلکه په علوم شرعیة کي دتفسیر او حدیثو له جملې څخه، په وسیلوي علوموکي، ادب او نورو فنونو او د ځمګي په مقیاسونو کي داسي دریاب دی چي څوک یې مقابله نسي کولای او داسي امام دی چي څوک یې سیالي نسي کولای. اود ده د بعضي دښمنانو قول د ده په خصوص کي خلاف د واقعیت دی، چي د هغه اصلي منشاء حسد دی، او د دغه مدعا ښه ثبوت په خپل پیر کي پر نورو د ده مخکښي او لوړوالی دی، او د ده دښمنانو و ده ته د دروغو نسبتونه کړیدي.

او ابویوسف ویلی دي: د احادیثو په تفسیر کي ما ترده اعلم ندی لیدلی، او په صحیح حدیث کي ئې ترمازیات بصیرت درلود، په جامع ترمذي کي له ده رحمه الله څخه روایت دی چي وایي: ما تر جابرجعفي دروغجن او ترعطاء بن ابي رباح افضل ندی لیدلی. او بیهقي له ده څخه

[1]: تاریخ بغداد، (۳۳۴/۱۴)

روایت کوي وایي چي له ده څخه چا پوښتنه وکړه چي د سفیان ثوري څخه د احادیثو اخستل څنګه دي، ده رحمه الله ورته وویل: ورڅخه نوشته ئې کړه ځکه چي دی ثقه دی. بغیر له احادیثو څخه د ابي اسحاق چي د جابر جعفي څخه یې روایت کوي.

او خطیب د سفیان بن عیینة څخه روایت کوی چي ده به ویل: اول هغه څوک چي زه ئې په کوفه کي و احادیثو ته کښېنولم هغه ابو حنیفة رحمه الله دی، (ابو حنیفة رحمه الله) به ویل: دغه د عمر بن دینار په احادیثو سره اعلم د خلکو دی. نو په همدغه سره د ده رحمه الله د مرتبې لوړوالی په احادیثو کي له ورایه جوتیږي، څرنګه به د ده مرتبه په احادیثو کي نه وي لوړه حال دا چي له ده څخه د ثوري په هکله مشوره غوښتل کیږي او دی رحمه الله ابن عیینة و احادیثو ته کښېنوي، د حسن بن صالح څخه روایت دی چي وایي: په تحقیق سره ابا حنیفة رحمه الله د ناسخ او منسوخ په پوښتنه کي ډېر ټینګ او شدید ؤ، د اهل کوفه په احادیثو سره خبرؤ، د خلکو د حق دود او دستور ډېر ټینګ تابع وؤ، حافظ د هغه (احادیثو) ؤ چي ده ته د ده د ښار د اوسېدونکو څخه رسېدلي وه.

او یحی بن آدم ویلي دي: نعمان د خپل ښار احادیث ټول را جمع کړل، او هغه آخر ته یې په دقت سره وکتل کوم چي پر هغه باندي رسول الله صلی الله تعالی و سلم رحلت کړی دی، او ذهد د بعض امامانو څخه خطیب داسي روایت کوي او وایي: پر اهل اسلام باندي واجبه ده چي ابي حنیفة په لمانځه کي په دوعا سره یاد کړي په دې خاطر چي ده د هغوی لپاره فقه او سنت وساتل، او ویل یي: خلک په دغه کي حاسد او ناپوه وه، او ناپوه زما نزد په دوی کي نسبتاً ښه دی.

اومعمر ويلي دي : تر ابو حنيفة رحمه الله زياد ما هيڅوک ندی ليدلی چي نسبت و ده ته ي په فقه خبر وي ، او د قياس کولو دومره توان دي ولري، اوهم دي د ده ځړندي د احاديثو بيان او تشريح په علمي ډول وکړي، او نه مي تر ده زيــ پر خپل ځان بېرېدونکی ليدلی دی چي د الله جلّ جلاله په دين کي يو شـــمنه خبره داخله کړي؛ ياني د هري خبري په هکله يې ښه تحقيق کاوه شک او تردد يې ليري کاوه بيا يې په ديني امورو کي فيصله کوله بېرېدی سي نګانه يو داسي فيصله و نکړم چي هغه ښه ثابته نه وي[1].

او مور ته عبدالله بن احمد بن ابراهيم الدورقي ويلي دي: ديحی بن معين څخه پوښتنه وسول او ما هم اورېدل چي يحيى بن معين ورته وويل: اباحنيفة ثقه وؤ، په فقهه او حديثو کي ډېر ريشتونی وؤ، د الله د دين په هکله د پوره امانت څښتن وؤ، د هيڅا څخه ما نه دي اورېدلي چي دی دي ضعيف و ګڼي، دغه شعبة به ده ته ليکل چي حديث ووايي او د احاديثو په ليکلو به يې امر ورته کاوه، او شعبة خو شعبة دی مطلب داچي په احاديثو کي د ډېر لوړ مقام او مرتبې خاوند دی[2]. او حمادبن زيد ويلي دي : مور عمربن دينارته راغلو ، دغه وخت ابو حنيفة رحمه الله هم راغی مور يې پرېښو دلو او پرده ئې مخ راواړاوه تر څو مور د ابو حنفة رحمه الله څخه غوښتنه وکړه چي هغه زمور سره هم خبري وکړي، ده ورته وويل چي له دوی سره خبري وکړه بيا هغه زمور سره خبري وکولې[3]. داسرائيل بن يونس څخه روايت وايي : نعمان ښه عالم وؤ، د هر هغه حديث ډېر ښه حافظ وؤ چي په هغه کي به فقه وه، او د دا شاني حديثو به يې ډېره ښه

---

[1]: تصحيح و تشريح : شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

[2]: طبقات الحنفية ، ج : ١ ، ص : ٢٩ ، تصحيح او مقابله د شيخ الحديث الحاج حقاني مدّظله.

[3]: اخبار حنفية ، ج : ١ ، ص : ٨٠ ، تصحيح او مقابله د شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

پلټنه کوله، او په هغه کې به د موجودو فقهي مسائلو څخه ښه پو او خبر وؤ.

د ابي يوسف څخه روايت دی چې وايي: ماچي هرکله د ده سره په کوم شي کې اختلاف کېدی او بيا مې په هغه کې فکر کېدی نو دا راته جوته سوېده چې د ده مذهب د آخرة لپاره سودمند او ساتونکی دی، او هر کله چې ما و هر حديث ته ميلان او فکر کړی دی، د صحيح حديث په اړوند دی تر ماپوه او خبير وؤ، اوويل ئې: کله چې به ئې د يوه قول (حکم) په هکله تصميم ونيوی نو مابه د کوفې ده مشايخو څخه پلټنه وکړل چې که کوم حديث يا اثرد ده د قول د تقويت لپاره پيدا کړم ډېر ځلي به ما دوه يا درې حديثه پيدا کړل او چې ده ته به مې راوړل نوده به د هغه په هکله ويل: داغير صحيح دی، يادا غير معروف دی نومابه ورته وويل: څنګه ته له دغه نه خبرسوې سره دهغه چې ستا د قول موافق هم دی، نوده به راته وويل: زه د کوفې د اوسېدنکو په علم سره عالم يم.

اوداعمش څخه د څومسائلو پوښتني وسوې نوده وه ابي حنيفة ته وويل: ته په دغه کې څه وايې ؟ هغه جواب ورته ورکړ، اعمش ورته وويل: له کوم ځايه تاته دا معلومه سول؟ امام صاحب ورته وويل: ستاله هغه احاديثو څخه چې مائې له تاڅخه روايت کړېدی. اوهغه ته ئې يوشمېر احاديث داسنادو سره وړاندې کړل، نواعمش ده لره وويل: ستا (د لوړ کمال د ښودلو لپاره) بس همدا کافي ده چې زما د سلو روځو احاديث ته په يو ساعت کې راته بيانوې، ما ته نه وه معلومه چې ته په دغو احاديثو سره عمل کوې يعني دغه احاديث تا د خپل ځان لپاره دستورالعمل ګرځولي دي، اې دفقهاؤ ډلې ! تاسو طبيبان ياست اوموږ پنساران، او اې سړيه! تا د دواړو څخه برخه وړېده.

اوپه يقين سره د ده د احاديثو څخه حفاظو ډېر مسانيد را ايستلي دي چي له هغو څخه موږ ته ډېر رار سېدلي دي لکه څنګه چي زموږ د مشايخو په مسندونو کي ذکرسويدي . پای . اوابوالحسن دمشقي شافعي ، چي د نامتو حفاظو د ډلي څخه دی ، د امام صاحب ډېر احاديث ثابت کړي دي اوپرهغه باندي ئې په ((عقود الجمان)) کي ځانګړی باب تړلی دی . او سيوطي د حسن بن سليما ن څخه حکايت کړی دی چي دی د ( لاتقوم الساعة حتى يظهر العلم ) حديث په تفسيرکي وايي چي: داعلم دابي حنيفة . اود ده تفسيردی دآثاروپه هکله ، او د ده په هکله د ابن المبارک څخه د لاندي ابياتو حکايت سوی دی:

لقد زان البلاد ومن عليها	امام المسلمين ابوحنيفة

ښکلي کړل ښارونه او څوک چي وريکې دي	امام د مسلمينو چي دی ابو حنيفة

بآثار وفقه في حديث	كآثار رموز على الصحيفة

په آثارو او په فقهه سره په اړوند د حديثو	لکه نښانې وي د رازونو پاس پر صحيفه

فما في المشرقين له نظير	ولا بالمغربين ولا بالكوفه

او نشته په ختيځ کي د ده سارى	اونه هم په لوېديځ کي اونه هم پر کوفه

رأيت القائمين له سفاهاً	خلاف الحق مع حجج ضعيفه

د ده بدګويان مي وليدل له عقله ليري	د حق په مقابل يې دلايل دي ډېرضعيفه

سیوطي هم د همدغه بیتونو یادونه کړېده، او دا د هغه اوږدې قصیدې یوڅو بیته دي چې مؤرخینو د ابن المبارک څخه ذکر کړېدي ، موږ د لنډوني په خاطر نور پرېښودل.

او شعراني شافعي ویلي دي: په تحقیق سره پرما الله تعالی فضل او احسان وکی د ابی حنیفه د مسانیدو په مطالعه کولو سره ، چې د هغه له جملې نه درې نسخې دصحیحو نسخوڅخه دي چې دحفاظو خطوط وربانديي ستنه . له همدغه څخه ماته جوته سول چې دی حدیث نه روایت کوي مگر دمختارو ، عادلو او ثقه تابعینو څخه ، هغه کسان چې د خیرالقرون څخه دي، لکه اسود، علقمة، عطاء، عکرمة، مجاهد، مکحول، حسن بصري او د هغوی ډله، ټول رواة هغه څوک دي چې د دوی اود رسول صلی الله علیه وسلم په مابین کي عادل ثقه اومختاره اشخاص موجود دي. اوپه هغوي کي هیڅ یو دروغجن اوپه دروغو متهم څوک نسته. او ژر ده چې دابن خلدون کلام به درته راسي چې ویلي دي: دی (امام صاحب) په علم حدیث کي دلویو مجتهدینو څخه دی ځکه خو د دوی (مجتهدینو) ترمابین د ده مذهب د پوره باور، اعتبار او اهمیت وړدي. پای .

او محمد بن حسین الموصلی په آخرکي د کتاب ضعفاء ذکر کړيدي چې یحیی بن معین ویلي دي: ما هیڅ څوک داسي ندی لیدلی چې پروکیع دې دمخه وګڼم ، اوهغه د ابوحنیفة رحمه الله په رایه سره فتوی ورکوله، د هغه حدیث ټې ټوله پیادوله، اوپه یقین سره هغه د ابیحنیفة څخه ډېر حدیث اورېدلي دي، د هغه – رضی الله عنه – دا عادة ؤ هر کله چې به وکوفې ته یو محدث داخل سو نو چې د هغه سره به کوم حدیث وه د هغه پلټنه ئې کول. په تحقیق سره موفق په خپل سند سره د عبدالعزیز بن

ابی زرمة څخه د ابی حنیفة د حدیثو د علم ذکر را ایستلی دی چي په هغه کي یې ویلي دي : هر کله چي به وکوفې ته یو محدث راغی نو ابوحنیفة رحمه الله به و خپلو اصحابو ته وویل : تاسو وګورئ! آیا د ده سره د احادیثو داسي څه سته چي هغه دي زموږ سره نه وي، او بیا به بل محدث و دوی ته راغی نو ده به بیا هم دغه ډول و خپلو اصحابو ته وویل.

او په «جامع اصول الأولیاء» کي د امام صاحب په وصایاؤ کي، د ده وخپل زوی حماد ته، راغلي دي: چي په تحقیق سره ده د پنځوزرو داحادیثو له جملې څخه پنځه احادیث منتخب کړل، د هغه له جملې نه څلور هغه مشهوراحادیث دي چي له ده نه وروسته ابوداود منتخب کړیدي اوپنځم حدیث «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده» دی، اوموفق ویلي دي : ده – رضی الله عنه – د څلوېښت زرو احادیث څخه آثارمنتخب کړیدي، اویحیی بن نصر ور څخه روایت کوي او وایي چي ما د ابو حنیفة څخه اورېدلي دي چي ویل ئې: زماسره د احادیثو صندوقونه دي ماله هغه څخه څه ندي راویستلي مګر هغه لږ څه چي نفع ورڅخه اخیستل کېږي، اوحسن بن زیاد ویلي دي : ابوحنیفة رحمه الله د څلورزرو احادیثو روایت کوي، له هغه جملې نه دوه زره د حماد څخه دي اودوه زره دده د نورو مشایخو څخه دي.

له ابویوسف څخه روایت دی: چي کله به یوه مسئله وارده سول نو امام به ویل: په دغه هکله ستاسو سره کوم اثر سته؟ که به له ده سره یا زموږ سره کوم اثر وؤ نو په هغه سره به یې اخیستنه کوله، او که به څو مخالف آثار په یوه مورد کي سره واقع سول نو په ډېرکي (اکثریت) سره به یې اخیستنه کوله (که به د ډېرکي د اصل رعایت متعذر سو) نو د هغوی

ترمنځ به يې مقايسه (قياس) کاوه[۱]. خو که به په کوم مورد کې قياس ورته خوند ورنسو ښکاره نو هلته به يې مسئله و استحسان ته پرېښودل[۲].

وکيع ويلي دي: دا يو حقيقت دی چې په احاديثوکې د ابو حنيفه رحمه الله په شاني پرهېزګاري له بل چا څخه په وجود نه ده راغلې، اوموفق د امام بخاري د شيخ مکي بن ابراهيم البلخي څخه حکايت کړی دی چې دی و کوفې ته داخل سو او د اباحنيفة سره يوځای سو، نو د هغه څخه ئې حديث اوفقه ولوستل، ډېر روايت له ده څخه کوي، او زيات مينه او محبت ورسره لري. ترداسي حده چې اسماعيل بن بشرويلي دي: موږ د مکي په مجلس کې ناست وو چې مکي وويل: حدثنا ابو حنيفة رحمه الله، يوه نابلده سړي ناري کړل : حدِّثنا عن ابن جريج و لاتُحدِّثنا عن ابى حنيفة (موږ ته د ابن جريج څخه حديث ووايه موږ ته د ابی حنيفة څخه حديث مه وايه) نومکي ورته وويل : موږ وبې عقلانوته حديث نه وايو، حرامه ده پرتاباندي چې ته به زما څخه ليکل کوې، ولاړسه زما د مجلس څخه، ترهغه ئې حديث ونه وايه ترڅو چې دغه سړی ئې د مجلس څخه ولاړکړل سو، پس له هغه ئې وويل: حدثنا ابو حنيفة رحمه الله اوپردغه (حديث باندي) تېرسو، او په يو روايت کې داسي راغلي دي چې دغه سړي خپله خطاء ومنل اوتوبه ئې وکښل خوبيائې هم ورته د حديث ويلو څخه انکار وکړ. او ابن المبارک ويلي دي: غالب سو ابو حنيفة رحمه الله په حفظ سره، په فقه سره، په ساتنه سره او په ټينګه پرهېزګاري سره. د

[۱]: مقدمه اعلاء السنن، ج: ۳، ص: ۴۸، من مناقب قاری. تصحيح و مقابله: شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب.

[۲]: استحسان چې قياس خفي هم ورته وايي: د يوه داسي حکم څخه تېرېدل دي چې ظاهراً د قياس له مخې کوم شرعي دليل د همدغه حکم غوښتونکی وي، په همدغه مورد کې و بل حکم ته البته د يو داسي قوي دليل په اساس کوم (چې د مجتهد په نزد) دغه دليل د همدغه حکم څخه د تېرېدولو غوښتونکی وي.

خلف بن ايوب څخه روايت دی چي وايي : زه د مختلفو علماؤ ومجالسو ته ورتلم او ډېرځله به مي داسي څه اورېدل چي ماته به ئې معنی نه وه معلومه نو زه به دغهِ غمجن او فکرجن کرم، خو کله چي به د اباحنيفة ومجلس ته راوګرځېدم اوهغه څه به مي ځينی وپوښتل چي ماته به نه وه معلوم، نو داسي تفسير به ئې ماته راکړ چي د ده د تفسير اوبيان څخه به مي په زړه کي نور پيداسو.

او د حفص بن غياث څخه روايت دی چي وايي : مادابی حنيفة څخه د ده ليکني اوآثار اورېدلي دي ماترده د پاک زړه خاوند ندی ليدلی او نه مي د احکامو په باب کي ، چي صحيځ اوفاسد بيانوي ، ترده اعلم ليد لی دی . او د محمد بن سعدان څخه روايت دی چي وايي ما د يزيد بن هارون څخه واورېدل، چي په دغه وخت کي د ده سره يحيی بن معين، علي بن المديني، احمد بن حنبل، زهيربن حرب اويوه ډله ورسره وه چي يو فتوی غوښتونکي ورته راغی او د يو مسئلې پوښتنه ئې ورڅخه وکړه، يزيد وهغه ته وويل: د علم و خاوندانو ته ولاړشه، نو وده ته علی بن المديني وويل : آيا له تاسره د علم او د حديث خاوندان ندي موجود؟ ده په جواب کي ورته وويل: د علم خاوندان د ابی حنيفة اصحاب دي ، او تاسو پنساران ياست.

## پنځمه فايده، د اهل فن د معلوم اسلوب سره سم د ده رحمه الله په لږروايت کي د احاديثو ده

ابن حجرويلي دي: دا خبره مخکي تېره سول چي ده رحمه الله د څلورزره تابعی اوغيرتابعی شيوخو څخه اخستنه کړېده، له دغه جهته څخه ذهبی اونورو په ((طبقات الحفاظ)) کي ذکرکړيدی چي وايي: د محدثينو له ډلي څخه چي کوم چا داګمان کړی دی چي ګويا ده رحمه الله وحديثوته لږ

توجه کړېده دا خبره یادهغوی پرتساهل دلالت کوي اویاد هغوی پرحسد . ځکه چې ځنګه به دغه رنګه استدلال پرهغه چا صدق وموميي چې دومره مسائل يې را ايستلي دي چې دکثرة په لحاظ د شمېرولو ندي ، پداسي حال کې چې دی اول هغه څوک دی چې پرمخصوص او معروفه طريقه ئې استخراج د دلائلو کړی دی. په دغه مهم امر سره د ده د زيات شغل په اساس ده په خارج کې (پر هغه مروجه طريقه) د احاديثو زيات اظهار و نکړ.

لکه همداسي چې ابابکر او عمر – رضی الله عنهما – د مسلمانانو په عامه مصالحو مشغول ول له دوی څخه دومره روايات د احاديثو رابرسېره او ښکاره نسول لکه څومره چې له دوی نه د ټيټې طبقې څخه ظاهر سويدي حتی د صغاروصحابه ؤ څخه – رضی الله عنهم – اوداغه رنګه امام مالک رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله هم وکنه. د دوی څخه دومره روايات نسول ظاهر لکه څومره چې د هغه چا څخه ظاهر سول کوم چې دروايت لپاره فارغ وه لکه ابي زرعة او ابن معين، دا ځکه چې دوی د مسائلو په استخراج سره مشغول ول. بل خبره داده چې په کثرة کې د روايت بې له درايته لوی صفت نسته، بلکه د هغه په ذم کې ابن عبدالبر ځانګړی باب تړلی دی، او ابن شبرمة ويلي دي : لږروايت وکړه خو فقهه يعني پوهه حاصله کړه.

او دغه رنګه ده ابی حنيفة – رضی الله عنه – د اعذارو څخه (داحاديثو په لږروايت کې) يو هغه لامل دی چې د ده د قول څخه يې افاده کيږي، لکه چې وايي: سړي لره نه ښايي چې روايت په حديث وکوي مګرنه هغه

حدیث چي ده اوریدولو دروځي څخه ئې په یادکي ساتلی وي ترهغه روځي چي روایت ورڅخه کوي[1].
او امام صاحب دچاڅخه روایت نه کاه مګر دهغه چاڅخه چي حدیث ئې په یادکي ساتلی وای او ابن صلاح په خپله مقدمه نومي کتاب کي ویلی دي: په روایة کي دشدت دمذاهبوڅخه یو هغه مذهب دی چي وایي: اعتبارنسته (ورروایت ته) مګروهغه (روایت ته بیااعتبارسته) چي راوي ئې دخپل حفظ اویاد څخه روایت وکوي، دغه روایت د مالک رحمه الله او ابي حنیفة رحمه الله څخه راغلی دی. مولف وایي: زه وایم: له دغه قبیله هغه سړی هم دی چي خپله یې د شیخ الحدیث څخه د روایت بعضي الفاظ نه وي اورېدلي او هغه یې د هغه د مستملي[2] څخه اورېدلي وي امام

---

[1]: په همدغه اړوند شیخ محمد عبدالرشید نعماني په «مكانة الامام فى الحديث» کي دامام الطحاوي څخه روایت لري اولیکي:

«قال الطحاوي: حدثنا سليمان بن شعيب، حدثنا ابي، قال: أملى علينا أبويوسف. قال: قال أبوحنيفة: لاينبغي للرجل أن يُحدِّثَ من الحديث الا بماحفظه من يوم سمعه الى يوم يُحدِّثُ به. قلت: ولكن اكثرالناس على خلاف ذالك، ولهذاقلّت رواية ابى حنيفة لهذه العلة لا لعلة أخرى كما زعمها المتحاملون عليه». «مكانة الامام فى الحديث» ص: ۷۳. ترجمه: «امام طحاوي وایي: موږ ته روایت کړی دی سلیمان بن شعیب، هغه له پلار څخه روایت کوي او وایي: موږ ته ابویوسف د احادیثو د تدریس په وخت وویل: ابوحنیفة ویلي دي: یو چا لره دا نه ښایي چي د حدیث روایت دي وکوي مګر هغه وخت (بیا ښایي) چي د اورېدلو له روځي څخه یې په یاد وي تر هغه روځي پوري چي روایت ورڅخه کوي. (امام طحاوي وایي) زه وایم: د ډېرو خلکو رأیه او عمل د دغه پر خلاف دي، دا وجهه ده چي د ابیحنیفة څخه روایت لږ راغلی دی همدغه یې لامل دی بل علت نلري لکه بهتان ویونکو چي ګمان کړی دی». مترجم عفی عنه.

[2]: مستملی: د سابقه محدثینو په اصطلاح کي مملی هغه چاته ویل کیږي چي و طلابو ته د حدیثو املاء وایي په بل عبارت شیخ (الحدیث) هم ورته ویل کیږي، او مستملي هغه څوک دی چي د مملي الفاظ ټول حاضر مجلس ته په لوړ اواز رسوي، دا په هغه صورت کي چي د شیخ اواز ضعیف وي یا د احادیثو د درس مجلس دومره لوی وي

صاحب د دغه سړي د روایت دمنلو څخه هم انکارکوي لکه په «فتح المغیث» کي چي ورباندي پراخ بحث سوی دی او محدثینو پدغه هکله زیاته پراخي او اساني کړېده.

او ابن خلدون ویلي دي[١]: په تحقیق سره بعضي متعصبینوژبي اوږدي کړیدي وه دې ته چي له دوی څخه هغه څوک چي په علم حدیث کي لږ پوهه ولري ځکه خو به ئې روایت هم کم وي، خو د لویو امامانو په شان کي ودغه اعتقاد ته هیڅ لیاره نسته، او د دوی د خبري تر رد وروسته ئې ویلي دي : هرڅه چي امام ابو حنیفةرحمه الله ؤ د هغه روایت لږؤ دائځکه چي ده د روایت په شروطو او د هغه په انتقال کي تشدد (سختي) کوله، او کله چي به د یو یقیني روایت سره کوم شخصي فعل معارض سو هغه به ئې ضعیفه ګاڼه[٢]، په همدغه اساس د ده روایت لږ ؤ ځکه خو ئې احادیث هم لږوه، دا په دې خاطر نه وؤ چي ګویا ده عمداً او قصداً د معتمد حدیث روایت پرېښودي، له دغه نه دی بري او بېزاره وؤ.

چي د شیخ اواز و ټول مجلس ته نه رسیږي نو مستملی پر لوړ ځای قرار لري یا په داسي حال کي چي ولاړ وي د شیخ الفاظ و ټول مجلس ته رسوي. مترجم عفی عنه.

[١]: مقدمه د ابن خلدون.

[٢]: د پوره وضاحت لپاره بایدوویل سي چي دامام صاحب داصولوڅخه یو دا اصل ؤ چي راوي باید د خپل خبر په خلاف عمل نه وي کړی، لکه په «الامام ابوحنیفة وعلم الحدیث» نومي کتاب کي چي وایي : «ومن أصوله أن لا یعمل الراوي بخلاف خبره کحدیث أبي هریرة في غسل الإناء من ولوغ الکلب سبعا فإنه مخالف لفتیا أبي هریرة فترک أبو حنیفة رحمه الله العمل به لتلک العلة» ترجمه: «او د ده د اصولو څخه دادی چي راوي به د خپل روایت په خلاف عمل نه وي کړی لکه د ابوهریر. هغه روایت چي د سپي د څټلو څخه لوښی اووه ځلي پرېولل کیږي: مګر د ابوهریرة خپله فتوی له دغه څخه مخالفه ده (ابوهریرة پر درې واره پرېولو فتوی ورکړېده)، د دغه لامل له مخي ابوحنیفة په دغه روایت سره (د حکم د استنباط لپاره) عمل پرېښود. مترجم عفی عنه

د محدثینو په منځ کي د ده د مذهب اعتبار لوی دلیل پر دغه مطلب دی چي په علم الحدیث کي دی دلویو مجتهدینو څخه دی، د ده مذهب ته دوی (محدثین) ډېر لوی اعتبار ورکوي، حطماً په هره مسئله کي دوی د ده مذهب د رد او قبول لپاره بیانوي. زه وایم: صحي خبره، چي له هغه اوښتل او وتل نسته، داده: چي د مشایخو یوه ډله د مبارک علیه الصلاة والسلام د احادیثو په روایت کي پر هغه مشهور طرز او طریقه باندي ډېر زیات احتیاط کاره وه، یعنی د حدیث نسبت یې ورسول علیه السلام ته له دې وېري نه کاوه چي نه ګانه په هغه حدیث کي به یو وهم وی، په دغه صورت کي به و رسول علیه السلام ته د هغه قول په نسبت سره چي له علیه الصلاة و السلام څخه پوره ثابت نه وي د هغه صلی الله تعالی علیه وسلم د قول په وعید کي راسي[1]، څکه خو حضرت عمر – رضی الله عنه – هم په خپل عصر کي د ډېر روایت څخه په شدت منع کول[2].

ابوهریرةﷺ فرمایي: کله چي عمرﷺ خلیفه سو وئې فرمایل: درسول اللهﷺ څخه لږ روایت کوئ مګر په هغه ځای کي (روایت کوي) چي عمل په کیږي. اوابراهیم ویلی دي: عمرﷺ درونفروته د حبس سزا ورکړل؛ ابن مسعود، ابالدرداء او ابامسعود انصاري ته، ورته وئې ویل: په یقین سره تاسو درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د احادیثو ډېر روایت کوئ، ابوسلمة وایي: ما ابی هریرة ته وویل: آیاتا د عمرﷺ په زمانه کي داسي احادیث بیانول؟ په جواب کي ئې راته وویل: که ما د اسي احادیث د عمر –رضي الله عنه– په زمانه کي بیان کړیوای لکه اوس

---

[1]: د وعید څخه مراد هغه متواتر حدیث دی چي وایي: «من کذب علیّ متعمداً فلیتبوأ مقعده من النار». مترجم عفی عنه.

[2]: تصحیح: شیخ الحدیث الحاج حقاني صاحب مدّ ظله

چې ټې تاسو ته بیانوم نوزه به ټې په خپله دُره وهلی وای. او صدیق اکبر – رضی الله عنه – په خطبه کې وفرمایل: په تحقیق سره تاسو یود بله احادیث سره بیانوئ او بیا په هغه کې یو له بله اختلاف هم سره کوئ، تر تاسو وروسته خلک به شدید اختلاف سره وکې، ځکه نو تاسو احادیث مه وایاست. اه. ملخصاً

او عمر – رضی الله عنه – وقرظة بن کعب ته، کله چې یې وعراق ته استوی، داسې وصیت وکړ: د رسو الله صلی الله علیه وسلم څخه لږ روایت کوئ. عائشة – رضی الله عنها – فرمایي: زما پلار د رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځه سوه احادیث جمع کړیوه، نویوه شپه ډېر لټ پرلټ سره اوونښتی، دا مبارکه وایي: زما فکر په خراب سو، نو ورته ومې ویل: آیا داته سره اوړې را اوړې د کوم درد څخه دی او که کوم خبر درته رسېدلی دی؟ نو کله چې سهار سو (راته) وئې ویل: ای زما لورې! راوړه هغه احادیث چې ستا سره دي! نو ما هغه ورکړه، بیائې داورغوښتنه وکړه اوهغه ئې وسوځول، ما ورته وویل: ولې دې وسوځول؟ (راته) وه ئې ویل: زه وېرېدلم پردې چې زه به مړشم او دا به زما سره وی، نو په دې کې به داسې احادیث موجودوي چې ما د یو باوري سړي څخه نقل کړي وي او ما پر هغه اعتماد کړی وي، ممکن دغه احادیث به داسې نه وي لکه ما ته چې یې روایت کړی وي په دغه صورت کې به زه د دغه احادیثو ناقل جوړ سم، دا ناسمه او غیر صحیح خبره ده.

او ته په دې ښه پوهېږې چې د حضرت صدیق – رضی الله عنه – راویان له اصحابو کرامو څخه بغیر بل څوک نه وه، نو څنګه به وی له هغوی نه وروسته دور. او دارمي د صالح الدهان څخه روایت کوي چې وایي: ما د جابر بن زید څخه هیڅکله ندي اورېدلي چې وه وایي «قال رسول الله

صلى الله عليه وسلم» يو خو د تعظيم په اساس او بل د دې وېرې له مخې چې د عليه الصلاة و السلام په هکله خلاف ور څخه ونه ويل سي، او ذهبي د ابی عمر الشيباني څخه حکايت کوي چې ويل ئې: زه ده ابن مسعود ﷺ سره يو کال کښېنستلم، (په دغه يوه کال کې ئې) ندي ويلي چې «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم» کله چې به ئې وويل: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم» رېږدې دل به ورته پيښ سول، نو ويل به ئې: دې ته ورته، په مثال د دغه او يا نژدې و دغه ته.

او په «الطبقات» د ابن سعد کي د عمربن ميمون څخه روايت دی چي ويلي يې: د ابن مسعود سره يو کال کښېنستلم ماله ده څخه ندي اورېدلي چي د حديث په روايت کي دي ووايي: «عن رسول الله صلى الله عليه وسلم» او نه ئې داسي ويل چي: «قال رسوال الله صلى الله عليه وسلم» مګرپه يوه روځ کي چي د يوه حديث څخه ئې خبري کولي نوپرژبه ئې داسي جاري سول: «قال رسوال الله صلى الله عليه وسلم» نو پرېشاني دومره ورباندي غالبه سول ماورته کتل چي پرتندي ئې خولې کښته راماتي سولي، وريسي وئې ويل: انشاءالله يا به زيات تر دغه، يا به قريب و دغه ته او يا به کم تر دغه وه، سره دهغه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د ده د روايت د صدق په هکله خبرورکړی دی او فرمايلي ئې دي: «هغه څه چي ابن مسعود تاسو ته وايي ريشتيا ئې وګڼئ[1]».

او دارمي د انس ﷺ څخه روايت کوي چي ويلی دي: که چيري زه پردې نه وېرېدلای چي زه خطاوزم نوما به تاسو ته په هغه شيانو سره حديث ويلی وای چي ما د رسوال لله صلى عليه وسلم څخه اورېدلي دي،

[1]: ما حدثكم ابن مسعود فصدّقوا. مسند احمد (٢٣٢٦٨) (٥/٣٨٥ و ٤٠٢)، ترمذي (٣٨٠٧).

يا رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، او زما وړه له دې وجهې ده چې ما د ده مبارک څخه واورېدل چې فرمايل يې: «من كذب علي متعمداً فليتبوأ مقعده من النار» ترجمه: «څوک چې زما په هکله په قصد سره دروغ و وايي نو خپل ځاى ناستى دي په اور کي اماده کړي».
په «الطبقات» د ابن سعد کي صهيب بن سنان ويلي دي: راسئ چې زموږ د غزاګانو حديث درته ووايم او دا چې زه به ووايم: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم» نو داسي به نه ووايم.

او په دارمي کي د عاصم څخ روايت دى چې وايي: ما د شعبي څخه د حديث پوښتنه وکړه، نو حديث ئې راته ووايه، خوماورته وويل: دا حديث لوړ وه نبي صلى الله عليه وسلم ته رسيږي؟ په جواب کي ئې راته وويل: يا، ترنبي صلى الله عليه وسلم کښته زموږ لپاره ښه دى، که چيري زيادت يا نقصان پکي موجود وي نو هغه به پر هغه چاوي چي کښته ترنبي صلى الله عليه وسلم دى. او د ابراهيم څخه روايت دى چي وايي: رسول الله صلى عليه وسلم د «محاقلې[1]» او «مزابنې[2]» څخه منع کړېده. نو يو

---

[1]: الف: والمحاقلة مُختَلف فيها. . . . قيل: هي بَيع الطعام في سُنْبله بالبُرّ. النهاية فى غريب الاثر. ترجمه: د محاقلې په تعريف کي اختلاف راغلى دى. (په دغه هکله) يو قول داسي وايي: محاقلة هغه سودا ته ويل کيږي چي پاک غنم په هغه غنمو خرڅ کړي چي لا په وږو کي وي. ب: وَالمُحَاقَلَةُ وَهُوَ بَيْعُ الحِنطَةِ فِي سُنْبلِهَا بِحِنطَةٍ مِثْلِ كَيلِهَا خَرصًا. الفتاوى الهندية، الفصل التاسع فى بيع الاشياء المتصلة. ترجمه: محاقله هغه سودا ته ويل کيږي چي پاک سوي غنم په هغه غنمو سره خرڅ کړي چي لا په وږو کي وي د اټکل له مخې په برابره پيمانه سره. مترجم عفى عنه.

[2]: الف: قد تكرر ذكر المُزَابنة في الحديث وهي بيعُ الرُّطَب في رُؤُس النَّخل بالتمر. النهاية لابن اثير. ترجمه: په يقين سره د مزابنه ذکر په احاديثو کي مکرراً راغلى دى، مزابنه هغه سودا ته وايي چي په درختو پوري لنده خرما د شکېدلي وچي خرما په مقابل کي سره خرڅه کړي. ب: المُزَابَنَةُ وَهُوَ بَيْعُ التَمرِ عَلَى النَّخلِ بِتَمرٍ مَجذُودٍ مِثلَ كَيلِ مَا عَلَى النَّخلِ مِنَ التَمرِ حَزرًا وَظَنًّا. الفتاوى الهندية. الفصل التاسع فى بيع الاشياء المتصلة. ترجمه:

چاورته وويل : آيا تا د رسول الله صلی علیه وسلم څخه بغیرله دغه بل حدیث هم پیاد کړی دی ، ده ورته وویل : هو ! ولیکن زما خوښه داده چي وایم: قال عبدالله، قال علقمة. د دغه بیان په هکله، له دي نه ماسوی نورهم ډیر آثار سته، د «تذکرة الامام الأعظم» نومي کتاب مؤلف يې ذکر کړی دی خو موږ ئې د اختصار په خاطرپرېږدو .

څرنګه چي امام اعظم د نخعي په شاني د لويو تابعينو شاګردؤ او د حضرت عمر او ابن مسعود ﷺ د پیروانو څخه وؤ او هغوی دواړه د ده د اسنادو مرجع وه نو دا د امکانه لري خبره وه چي د هغوی پراثارو دې په دغه مورد کي پل نه وای ایښی، ځکه خوئې مرفوع صریح روایت ډېر نه کاوه. او د امام شافعي رحمه الله څخه د حدیث په هکله پوښتنه وسوه ، د جواب ورکي چي حاصل ئې په داسي ډول دی: په تحقیق سره د اهل فن په نزد هغه روایات چي صحیح دي بلکل لږ دي ترداسي حده چي د حضرت ابوبکرصدیق څخه تراوولس حدیثه زیات ندي روایت سوي او د حضرت عمر ﷺ څخه په ټول عمرکي سره د هغه چي زمانه يې اوږده هم وه ترپنځوس حدیثه زیات ندي روایت سوي . لدې ټولو څخه معلومه سوه چي امام صاحب عادتاً د پرهېزګاری له مخي په روایت کي زیات والی نه کاوه ، نه دا چي په احادیثو سره يې معرفت نه وؤ حاصل. لکه بعضي جاهل مخادعينو (فریب کارانو) چي ژبي غزولي دي اووایي څنګه اوڅنګه دی. امام ﷺ د کوفې په احادیثو سره ښه تراعالمؤ لکه څنګه چي فحول په هغه سره اقرار کړیدی ، اوپه هغه وخت کي کوفه دعلم

---

مزابنه هغه سودا ته وایي چي د درختو پر سرو باندي لنده خرما په وچه شکبدلي خرما سره خرڅه کړي په برابره پیمانه سره د اټکل او ګمان په اساس. مترجم عفی عنه.

مرکزؤ، اوهرکله چي به وکوفې ته يومحدث راغی نو ده ﷺ به خپل اصحاب وروليږل چي د هغه څخه د هغه د احاديثو خبرواخلي.

**شپږمه فايده. په اجمال سره پر ده باندي د اعتراضونو په ردکي ده**

پرامام صاحب باندي د واردسوو انتقاداتو د جوابو تفصيل دلته ممکن نه دی، صرف دومره ته بايد وپوهيږه چي ډيرو خلکو، که پخواني دي که اوسني، د امام الأئمة په بدګويي کي ئې ډيرزياتی کړيدی، اوپه دغه کي ترحد تېر سويدي، اوپر ده رحمه الله ئې په هغه امورو کي چي دی ورڅخه پاک اوبري دی ډېر بد ويلي. يعنی افتراءات ئې ورباندي کړيدي، اودا د ده رحمه الله د زياتو دښمنانو له وجهي څه دی چي ئې د ده په زمانه کي اويا ئې د ده ترعصروروسته ژوند کاوه، او ژرده چي تاته به دا خبره بلکل جوته سي، د ده هغه دښمنان چي د ده رحمه الله په هکله ئې و ډېرو خلکوته غلط احوالونه وررسولي دي، بناءاً هغوی بيا د ده په بدګويي کي نسبتاً معذوروه، خو کله چي هغوی ته بيا صحيح احوال رسېدلی دی نو د خپله قوله بيرته ګرځېدلي دي، لکه څنګه چي د مخه د اوزاعي په هکله پوره بيان وسو، کله چي ده وويل: «زه په ښکاره پرغلطه وم، د دغه سړي سره لازم او سه په يقين سره دی پر خلاف د هغه دی کوم چي د ده په هکله ماته رسېدلي وه.».

(د امام صلحب دپاکی او برئت په هکله) ابن عبدالبر مالکي ويلی دي: ابوحنيفة رحمه الله هغه څوک وو چي حسدورسره کېده او ده ته هغه څه منسوبېدل چي په ده کي نه وه او د ده په شان کي داسي دروغ جوړ سول چي د ده سره هيڅ لايق نه وه، يو ځلي وکيع ورسره مخامخ سو، ده ورته وويل: له کومه ځايه راغلې؟ هغه ورته وويل: د شريک څخه، نو ده داسي انشاء د شعر وکړه او ويې ويل:

ان يحسدوني فاني غير لائمهم + قبلي من الناس أهل الفضل قد حُسِدُوا
ولو که دوی زما سره حاسد دي زه دوی ګرم نه ګڼمه – له ما نه وړاندي هم خاوندان د فضیلت په محسودو کي حساب سول.

فدام لي ولهم مابي ومابهم + ومات أكثرنا غيظاً بما يجدوا
نو دي تلپاته وی ما ته او و دوی ته، کوم چي زما دي او د دوی دي. او ډېر زموږ له جملې نه د خپل حسد په اور کباب سول.

(په همدې ارتباط) وکیع ویلي دي: زه ګمان کوم چي ده ته د شریک څخه څه شی رسېدلی وو.

او داغه رنګه بیا هم ابن عبدالبر ویلي دي[1]: هغه کسانو چي د ابي حنیفة څخه ئې روایت کړیدی او دی ئې ثقه بللی. او د ده صفت ئې کړی دی ډېر دي نسبت وهغو ته چي په ده کي ئې خبري کړي دي. او د اهل حدیث د ډلي څخه چي چاپرده عیب ویلی دی هغوی د ده اغراق او زیات شغل په قیاس او رأیه کي عیب بللی دی، او دا مخکي تېره سوه چي په رأیه او په قیاس کي اغراق عیب ندی. داسي ویل سویدي: په پخوا کي به د یو چا پر هوښیاري باندي استدلال په دې سره وؤ چي د هغه په اړوند به د خلکو متضاد رأیي او فکرونه ول، آیا ته نه ګورې چي د علي – کرم الله وجهه – په خصوص کي دوه ډلي په هلاکت ورې سېدلي: یوه ډله هغه زیات خوښوونکي د ده، او بله ډله هغه د ده سرسخته معاندین دي.

عیسی بن یونس ویلي دي: د هیڅ چا قول چي د ده په شان کي ئې بد ویلي دي هغه رشتیا مه بولئ، په یقین سره قسم په الله ما ترده ښه سړی ندی لیدلی او نه مي ترده فقیه لیدلی دی. او د اعمش څخه د یو مسئلې

---

[1]: جامع بيان العلم. ج: ٢. ص: ١٤٩

پوښتنه وسول ده ورته وویل: د دې جواب نعمان ښه ویلای سي. یحي بن آدم ویل: تاسو په دغو کسانو کې څه وایاست چې په ابوحنیفة رحمه الله کې لوېږي ؟ (اوبیائې) وویل: په تحقیق سره ده په داسې علم سره ودوی ته راتګ وکړ چې په (یوڅه ئې) پوهیږي او په (یوڅه ئې) نه پوهېږي، ځکه خو دوی حسد ورسره وکړ.

اوابن المبارک ویلي دي : ما حسن بن عمارة ولیدي په داسې حال کې چې د ده (د آس) ملونه ئې نیولي وه ویل ئې : قسم په الله جلّ جلاله که ما هیڅ څوک داسې لېدلی ندی چې تاغوندي په فقهه کې دومره رسا خبرې وکوي اونه مې ترتا صابرلیدلی دي اونه مې ترتا حاضرجوابه لیدلی دی، اوپه یقین سره ته بادارد هغه چا یې چې په فقهه کې خبرې کوي په خپل وقت کې مقابل نلرې، اوپه تا کې هیڅ څوک خبرې نه کوي مګرد حسد له مخې. اوشعبة ویلي دي : قسم په الله چې ښه پوهې یې وه اوښه حفظ ئې وُ، تر داسې حده چې په هغه ځای کې ئې لا بد ورباندې وویل چې دی تر هغوی ښه ترا په عالم او پوه وُ، اوقسم په خدای چې ژربه د الله حضورته ورسي، اوأسد بن حکیم ویلي دي : په ده کې څوک نه لوېږي مګرجاهل اومبتدع، اوابوسلیمان ویلي دي : ترعجبو عجبه دا ده چې د ده د کلامه څخه هغه څوک ګرځي چې په علم کې پرده غښتلې ندی.

او حافظ أبوعمربن عبدالبرویلي دي : اهل فقه وهغه چا ته نظر نکوي چې پر ده یې عیب ویلی دی، اونه هغه بد چې وده ته منسوب سوی دي رشتیابولي. او یحیی بن معین ویلي دي : زموږ ملګري د ابي حنیفة او د هغه د ملګرو په باب ډېرافراط کوي، نو د ته یوچا وویل: آیا هغه خلاف د حقیقت وایه؟ ده ورته وویل: دی تردغه ډېرهوښیار وُ.

او د عبد الوهاب بن علی بن عبد الكافی السبكی أبو نصر الشافعی متوفی سنة:٧٧١ هجری قمري قاضي القضاه، مؤرخ او څېړونکی په «طبقات التاج السبكي» كي راغلي دي: احتياط! له هغه تهولونه احتياط! چي د دوی (د اصول الحديث) له قاعدې نه ته وفهموي چي وايي: «جرح مقدمه ده پرتعديل باندي په مطلق ډول سره» بلكه حق دادی چي د چا چي عدالت او امامت تثبيت سوی وي ثناګويان او تزكيه كونكي ئې ډيروي او جارحين (بدګويان) ئې كم وي او هلته بياهم د مذهبي تعصب او داسي نورلاملونو له مخي د ده د جرحي لپاره قرائن موجود وي، و دغه جرحي ته نه کتل کيږي.

(د لږ څه نور وضاحت لپاره بايد وويل سي چي د اصول الحديث د پوهانو په نظر يو قاعده داده لكه څنګ چي پورته وويل سوه چي د هغه چاپه شان كي چي امامت او عدالت ئې تثبيت سوی وي جرحه نه قبليږي او بله قاعده داده څوک چي عادل نه وي او يا د جرحي په اسبابو پوه نه وي د هغه څخه هم جرحه نه قبليږي، لكه امام نووي چي د مسلم په شرح كي داسي وضاحت وركړی دی:

«ثُمَّ عَلَى الْجَارِح تَقْوَى اللهِ تَعَالَى فِي ذَلِكَ . وَالتَّثَبُّت فِيهِ . وَالْحَذَر مِنْ التَّسَاهُل بِجَرْحِ سَلِيمٍ مِنْ الْجَرْحِ . أَوْ بِنَقْصِ مَنْ لَمْ يَظْهَر نَقْصُهُ ؛ فَإِنَّ مَفْسَدَة الْجَرْح عَظِيمَة ؛ فَإِنَّهَا غِيبَة مُؤَبَّدَة مُبْطِلَة لِأَحَادِيثِهِ . مُسْقِطَة لِسُنَّةٍ عَنْ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَادَّة لِحُكْمٍ مِنْ أَحْكَام الدِّين . ثُمَّ إِنَّمَا يَجُوز الْجَرْح لِعَارِفٍ بِهِ . مَقْبُول الْقَوْل فِيهِ . أَمَّا إِذَا لَمْ يَكُنْ الْجَارِح مِنْ أَهْل الْمَعْرِفَة . أَوْ لَمْ يَكُنْ مِمَّنْ يُقْبَل قَوْله فِيهِ ؛ فَلَا يَجُوز لَهُ الْكَلَام فِي أَحَد ؛ فَإِنْ تَكَلَّمَ كَانَ كَلَامه غِيبَة مُحَرَّمَة . كَذَا ذَكَرَهُ الْقَاضِي عِيَاض رَحِمَهُ اللَّه وَهُوَ ظَاهِرٌ . ج: ١ . ص: ٦٢»

ترجمه: «پر جارح لازمه ده چي په جرحه کی به د الله جلّ شانه څخه په ویره کي وي او په جرحه کي به ثابت قدمه وي یعني د کامل معلومات وروسته به جرحه واردوي، پرهیز به کوي د آسان ګڼلو څخه د جرحي د هغه چا چي هغه د جرحي څخه سالم وي او د ناقص بوللو څخه د هغه چا چي د هغه نقصان نه وي ښکاره، د جرحي مفسده لویه ده دا تل پاته کېدونکی غیبت دی او د مجروح د حدیثو باطلول دي د نبي علیه الصلوة و السلام د سنتو ساقطول دي او د دین د احکامو څخه د یو حکم ردول دي. او بیا جرحه هغه چا ته روا ده چه هغه په جرحه پوهیږي او د ده قول په جرحه کي قبول وي. که د جارح علم کم وؤ او قول یې په جرحه کي نه قبلېدی نو هغه ته د هیڅا په باره کي خبري کول روانه دي. که دی خبري وکړي د ده خبري حرام غیبة دی. په پورته ډول قاضی عیاض رحمه الله تعالی بیان کړی دی»[1].

او د عدالت مثال داسي دی لکه مخکي چي د حضرت علي – کرم الله وجهه. په شان کي وویل سوه چي دده په خصوص کي د مبغضینو افراط د حسد او عناد له مخي دی، نه د ده عدالت له مخي.

او د جرحي په اسبابو د نه پوهېدولو مثال داسي دی لکه چي د امام بخاري په قول ده نه پوهی. له مخي پرده دا اعتراض وارد سو چي ګویا دی وایي چي، العیاذبالله، قرآن مخلوق دي لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه – رحمه الله . چي په مجموعة الفتاوی کي ویلي دي : «فخفي تفریق البخاري وتمییزه علی جماعة من أهل السنة والحدیث. ولم یفهم بعضهم مراده» ترجمه: «د بخاري د (قول) جلا والی او تمیز پر یوه ډله د

[1] ژباړه: شیخ الحدیث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

اهل سنت او اهل حدیث پټ سو، او بعضي د هغوی د ده په مراد وه نه پوهېدل.» څرنګه چي د امام بخاري – رح – په قول د نه پوهېدو له امله دغه جرحه وارده سوېده ځکه خو قابل د منلو نه ده ولو که د اهل حدیث د لویو امامانو له پلوه هم وارده سوېده). مترجم عفی عنه.

د «طبقات التاج السبکي» مؤلف د اوږده بحث نه پس وايي: په تحقيق سره موږ تاته دروښوول چي د جارح جرحه، که څه هم ئې تشريح ورکړې وي، د هغه چا په حق کي نه قبليږي چي طاعات ئې پرمعصيت غالب وي، ثناګويان ئې پربدګويانو او تزکيه کوونکي ئې پرجارحينو ډېروي، هغه چي هلته داسي قرينه هم موجوده وي چي د هغه پرمثل عقل شاهدي ورکوي چي ياخومذهبي تعصب واقع دی، اويا کوم دنيوي رقابت موجوددی، لکه د همزولانو او سيالانو او ترمنځ چي هم داسي وي، نو په دغه وخت کي ده چي د ابی حنيفة ﷺ په شان کي د ثوري اونورو خبروته نه کتل کيږي، د مالک رحمه الله په شان کي د ابن ابي ذئب اونورو وخبروته نه کتل کيږي، د شافعي رحمه الله په شان کي د ابن معين وخبروته نه کتل کيږي او(د امام بخاري د شيخ) احمد بن صالح په شان کي د نسائي وخبروته نه کتل کيږي اوهم داسي نور. وروسي وايي: که چيري موږ په مطلق ډول جرحه مقدمه وبولو نوزموږ لپاره به يوهم د امامانو څخه سالم نسي پاته، ځکه چي هيڅ داسي يو امام نسته چي په هغه کي دي بدګويانو بد نه وي ويلي او هلاکېدونکي پکي هلاک سوي نه وي.

ابن عبدالبر ويلي دي: دايو داسي فصل دی چي ډېرپکي غلط سوي دي، اوډيري جاهلي فرقې پکي ګمراه سوي دي او نه پوهيږي چي په دغه کار کي د دوی لپاره څومره (ګناه) سته، بيا ئې وروسي ويلي دي: پردې خبره دليل، دهغه چا په خصوص کي چي خلکو د امام په صفت منلی وي د

بدويونکو بدويل نه منل کيږي، دادي: په يقين سره د سلفو د ډلي نه ډېرځلي دغضب په حال کی د ځينو خبري دځينوپه شان کي وړاندي سويدي، له هغه جملې نه هغه هم دي چي پرحسد حمل سويدي ، اود اصحابه کرامو، تابعينو اوتبع تابعينو - رضوان الله تعالى عليهم اجمعين - کوم چي سره سيالان او همعصره وه د بعضو اقوال د بعضو نورو په باره په ډېره غټه پيمانه ذکر کړيدي، پر دغه اقوالو نه علماؤ اعتماد او باور کړی دی او نه يې هم ورته توجه کړېده ولي چي دوی هم بشر دی کله په غضب او کله بيا خوښ وي.

هرڅوک که وغوړاي چي د علماؤ قول، چي بعض د بعضو په شان کي ويلی دي، قبول کړي، بياخوبه د اصحابوکرامو اقوال، د تابعينو اقوال او ده اسلام د امامانو اقوال چي د بعض څخه د بعضو په خصوص کي ويل سويدي هم قبلوي، که (هرڅوک) داسي وکړي نويقين چي په لويه ګمراهي کي به ولويږي. اوکه داسي نکوي، هيڅکله به داسي ونکړي که الله جلّ و علی شانه هدايت ورته کړی وؤ، بيا دي نو تر ذکر سوي شرطونو نه تيريږي کوم چي موږ يې يادونه وکړه، ځکه چي دا هغه حق دی چي له دي څخه ما سوا بل څه صحت نلري، ان شاء الله.

له هغه نه بعد ئې د مالک رحمه الله د ډېرو همعصرو کلام د ده په شان کي ذکرکړيدی اود ابن معين قول ئې د امام شافعي رحمه الله په شان کي ذکرکړی دی، او وروسته ويلي ئې دي چي عبدالله بن المبارک ته وويل سوه چي فلانی په ابي حنيفه کي خبري کوي ده (په جواب کي) دا شعر ورته ووايه : «حسدوک اذاما فضّلک الله + بمافضلت به النجباء» ترجمه: «دوی ستاسره حسد وکړ کله چي ته الله بهتر وګرځولې + په هغه څه سره کوم چي په هغه سره اصيلان بهتر ګرځول سوی دی».

او أبوعمر د ابن عباس څخه روايت کړی او وائي: تاسو علم واخلئ هرچرته چي موپيدا کړ، اوتاسو د بعضو فقهاؤ اقوال د بعضو په شان کي مه منئ ځکه چي دوی د رخې او کينې له مخي يو او بل ته د پيغور په شکل ناسم القاب استعمالوي[1]، او د عمروبن دينار څخه هم دغه ډول روايت سوی دی.

اوله همدغه ځايه ده چي په مبسوط کي ئې د امام مالک صاحب د مذهب په حواله ذکر کړيدي: د قاري شاهدي پرقاري يعني دعالم شاهدي پرعالم نه صحيح کيږي ځکه چي دوی يو له بله په حسد او بغض کي هغه شديد خلک دي . ابن حجرويلي دي : پوه شه په هغه چي خطيب بغدادي په خپل تاريخ کي (د امام صاحب) په هکله د بدګويانو څخه څه ذکر کړيدي په هغه کي د هغه بل مقصد نه ؤ بې له دې څخه چي يو مؤرخ ئې دعادت په ډول د يو شخص په شان کي ټول اقوال راجمع کوي، د ده په دغه کي د ده ټيټوالی اويا د ده دمرتبې د کمولو مطلب نه ؤ ، په دې دليل سره چي اول ځلي ده د ثناګويانو خبري رانقل کړيدي اوهغه هم خوراډيري . ترهغه وروسته ئې د بدګويانو خبري راوړي دي په دې خاطر چي معلومه سي چي د اکابرينو (لويانو) له جملې څخه امام صاحب هم دی چي د ناپوهانو او حاسدينو د بد رد ويلو څخه سالم ندی پاته سوی.

اوبل ثبوت يې دادی چي هغه اسناد چي د امام صاحب د عيب ويلو په اړوند خطيب ذکر کړيدي په دغه اسنادو کي ياخو اکثره داسي کسان دي چي په هغو کي خبري سويدي يعني د دوی روايات ضعيف او موضوعي

---

[1] اصلاً د متن عبارت دا ډول دی: «فانهم يتعايرون تعاير التيوس في الزريبة.» خو د اصلي مطلب ده ښه افاده کولو لپاره همدغه ژباړه غوره شول. او د «تأنيب الخطيب» په ۱۰۳ صفحه کي هم دې ورته عبارت ليکل شوی دی، لکه چي وايي: «تعايروا بالالقاب و تنابذوا؛ اختلفوا و تفرقوا عن عداوة». مترجم، عفی عنه.

بلل سويدي، ياخو داسي راويان دي چي د هغوی هويت مجهول اونامعلوم وي، پداسي کسانو خو مسلماً د يو مسلمان عزت او آبرو کنډوول ناروا خبره ده، نو د يو لوی امام د آبرو ماتول به څنګه په رواسي[1]، اوکه فرضاً د يواونيم سند هم صحيح سي نو په هغه سره اعتبارنسته، ځکه چي که د امام صاحب د زمانې نه وي نوهغه خود هغه څه چي د امام صاحب دښمنانو ويلی دي يائې نوشته کړيدي دهغه تقليد کوي، اوکه د امام صاحب د زمانې وي نولکه څنګه چي وويل سوه چي د يوې زمانې د (فقهاؤ) قول يود بل په شان کي قابل د قبول ندی.

اوپه تحقيق سره په دغه سره تصريح کړېده دواړو حافظانو لکه ابن حجر اوذهبي (رحمة الله عليهما) اودوی ويلي دي : خاص بياهغه وخت چي دا ښکاره سي چي دغه د کينې يا مذهب له وجهي دی، تاج سبکي ويلي دي : ځان وساته ! بياهم ځان وساته له اورېدولو څخه د هغه چي د ابيحنيفة اوثوري په منځ کي واقع سويدي، د مالک اوابن ابی ذئب په منځ کي واقع سويدي، د احمد او نسائي په ميان کي واقع سويدي او د احمد او حارث بن اسد المحاسبي په منځ کي واقع سويدي، اوڅه نو داسي ترالعزبن عبدالسلام اوالتقي بن صلاح ترزمانې پوري، په يقين سره که ته په دغه شيانوسره اخته سوې نوپرتا باندی د هلاک وېره ده، ځکه چي د اتول تېر د غرونو په شان د لويو امامانو تېرد ی، او ده دوی اقوالو ته تأويلونه سته، او ډېر ځلي به ته په ځينو (اقوالو) پوه نه شې ، پرموږ باندي نورڅه نسته بېله دې چي له دوی ټولوڅخه راضي و اوسو، اوسکوت غوره کړو له هغه څه نه چي ده دوي په ميان کي ئې جريان

---

[1]: تصحيح: شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب مدٌ ظله.

موندلی دی ، لکه څنګه چي ته (سکوت) غوره بولې له هغه څه نه چي د اصحابو کرامو په میان کي ئې جریان موندلی دی رضوان الله تعالی علیهم اجمعین.

اوسیوطي د ابن ابي داود څخه نقل کړیدی وایي: خلک د ابوحنیفة رحمه الله سره حاسد دي اویا ورڅخه ناخبره دي ، او اوس زما په وړاندي په دوی کي ناخبره نیشته دی ، اوداغه رنګه له ده څخه روایت دی چي ویل ئې: په ابوحنیفة رحمه الله کي څوک خبري نه کوي مګر دوه خلک : یا به د ده د علمه سره حسد اوبغض لري، یا به د ده د زیاد علم څخه ناخبره وي او د ده د ډېري پوهي قدر به نه پېژني.

او خطیب د احمدبن عبد د «ری» د قاضي څخه حکایت کړی دی: وایي: موږ د ابن ابي عائشة سره ناست ؤ چي د ابیحنیفة د یوحدیث یادونه وسوه ، په مجلس کي یو څونفرو وویل: موږ دانه غواړو، هغه ودوی ته وویل: تاسو هغه نه ؤ لیدلی که تاسو هغه لیدلی وای نوبیا تاسو داغوښتل، اوستاسو او د هغه لپاره زه بل مثال نه وینم مګر دا یو مثال چي شاعر وایي: «أقلّوا علیهم ویلکم لاابالکم من اللوم اوسُدّوا المکان الذي سَدّوا.» ترجمه: «لږ کړئ د دوی په هکله، تاسو لره افسوس دی او تاسوته پلرنی عزت نسته، - له بهتان څخه، یا خو ډکه کړئ هغه تشه چي دوی ده ډکه کړې».

او دغه رنګه له دې څخه داهم معلومه سوه چي دوی بې له لیدولو اوبې له د حالاتو د معلومولو یوازي په اورېدولو کینه ورسره کول، اوهمدا ډول د دغه تائید د ابي مطیع څخه د شعراني هغه حکایت دی چي وایي: زه یوه روځ د کوفی په مسجد کي د ابیحنیفة سره ناست وم چي و ده ته ثوري، مقاتل بن حیان، حمادبن سلمة، جعفر الصادق اونور فقهاء

راغلل. خبري يې ورسره وکړې او ورته ويې ويل: موږ ته را ره سپړدلې ده چې ته په دين کې د بر قياس کوې، ځکه خو موږ پر تا بېرېږو، ځکه چې اول قياس ابليس کړی دی، نو ابو حنيفة رحمه الله د جمعې د سهار څخه بيا تر زواله بحث ورسره وکړ او خپل مذهب ئې ودی ته وروړاندي کړ، نو دوی ټول په داسې حال کې ورڅخه ولاړ سول چې لاسونه او ځنګنونه ئې ورمچ کړل او ورته وه ئې ويل: ته ده علماؤ بادار يې، موږ ته عفوه د هغه څخه وکړه چې موږ په ناکې بې له علمه خبري کړيدي، ده ورته وويل: الله دي موږ او تاسو ټولو ته ببښنه وکړي.

او شعراني شافعي په خپل «ميزان» نومي کتاب کې وهغه (بحث) ته د پره پراخې ورکړيده کوم چې د څلورو امامانو څخه د رأيې په ذم کې نقل سوېده، او قاري په «مرقاة» کې د هغه چاپه رد کې، چې وايي: «حنفيه پر احاديثو رايه دمخه کښي»، ويلي دي: په تحقيق سره دوی د رايي د تېزوالي او د عقل د ډېروالي په وجه په اصحاب الرای سره ياديږي او شامي د امام ابيحنيفة څخه حکايت کوي چې ده ويلي دي: هرکله چې حديث صحيح سو هغه زما مذهب دی، او شعراني دغه (حديث) د څلورو واړو امامانو څخه را نقل کړيدي.

مؤلف وايي: زه وايم: د دغه حديث د تطبيق ځای هغه دی چې امام ته په حديث سره اطلاع نه وي رسېدلې، که معلومه شي چې امام ته په حديث سره اطلاع رسېدلې ده او ده رد کړی دی او په يوه وجه د وجوه ئې تأويل ورکي کړی دی نو هغه بيا د دغه حديث د تطبيق ځای ندی. همدا ډول حافظ په «فتح» کې ويلي دي، او موفق د يحی بن آدم څخه حکايت کړی دی چې وايي: د ابيحنيفة کلام په فقه کې د الله لپاره ؤ، که د دنيايي امورو څخه د يوې ذرې بوی هم ورسره وای نو د ده کلام به په داسي پراخه

پیمانه نه وای خپور سوی، د ده د ډېرو کینه ګرانو او بدګویانو سره ،سره د ده ټول کلام په عالمونو کي خپور سو. او د عبید بن اسحاق څخه روایت دی چي وایي: ابو حنیفة رحمه الله بادارد فقهاؤ وؤ په دین کي د ده څخه هیڅ څوک ستر ګي نه پټوي مګر حاسد یا غوښتونکی د شر. او عبدالرحمن بن مهدي څخه روایت دی چي ویل ئې: زه د احادیثو نقل کوونکی وم، نو ما ولیدل چي ثوري په علماؤ کي امیر المؤمنین دی، سفیان بن عیینیة د علماؤ امیر دي، عبدالله بن المبارک د حدیثو صراف دی، یحی بن سعید قاضي د علماؤ دی اوابا حنیفة قاضی القضاة د علماؤ دی، او که تا ته څوک بغیر له دغه بل څه ووایي هغه د بني سلیم په په انبارو کي وغورځوه

اوابن حجرمکي الشافعي ویلي دي: و امام غزالي ته منسوب همداډول شیان ویل سویدي (یعني چي د ده د شان سره منافاة لري) په یقین سره موږ وویل: هغه کلام چه منسوب دی امام غزالي ته وجه یې داده چي په هغه کتاب کي دي چي ده ته یې نسبت سوی دی، د ټولو خبرو نسبت و امام غزالي ته ندی صحیح[1]، احتمال لري چي دغه الفاظ دي پرده باندي جوړ سوي وي پدې دلیل چي ده په خپل کتاب (احیاء علوم الدین) کي چي له ده څخه په تواتر را نقل سوی دی، لکه څنګه چي ده ابیحنیفة د کمال سره لایقه ده ، صفت یې کړی دی، خو ځیني حنفی محققینو بیاداسي جواب ورکړی دی، چي د غزالي څخه پرتقدیر د صدور د دغه کلام ممکن دا په ابتدایي حال کي دده وه ، اوبیاوروسته چي یې کله ترقي وکړه اوله دغه څخه د ده اخلاق پاک سول او د کمالاتو وهغه درجې ته

[1]: تصحیح: شیخ الحدیث الحاج حقاني صاحب مدّ ظله.

ورسېدی چې ورته رسېدلی ؤ د هغه شخه ئې رجوع وکړل او په خپل کتاب (احیاء) کې ئې حق ووایه.
اوهمدا ډول ابن حجر المکي د خپل تألیف «خیرات الحسان» د «مقاصد» په ذکر کې ویلې دي: دریم: د متعصبینو د لاندې وینا خطا او غلطي ښکاره ده هغه دا چې دوی وایې: موږ په امام او نورو کې خبري نه کوو مګر په دې وجهه یې پر موږ علم حطمي دی ولې چې د خلکو حالات یو د بله تفاوت او تضاد سره لري، او د دې لپاره چې د خلګو حالات او اوصاف یو د بله سره جلا سي، هغه حالات او اوصاف چې پر هغو اوصافو روایت موقوف دی او کره والی او کمال په دغو اوصافو اړه لري[1]. د دوی دغه خبره د خوارجو وهغه خبري ته ورته ده کوم چې د هغه په باب حضرت علی – علیه السلام – فرمایلي دي : «د حق په کلمه سره باطل لټول کیږي»، نو همدا رنګه د دغو کسانو دغه خبره په خپل ځان کې حقه ده مګر خو دوی باطل په لټولی دی، او تر دغه به لوی باطل له کومه وي چې دوی په دغه کې پر کوم مستند او د باور وړ څیز باندې تکیه او عتماد نلري مګر پر هغه خبرو باندې چې د ده په شان کې او د ده په زمانه کې د ځینو کسانو له خولې د رخې او حسد له مخې و تلې دي، د هغه څه په سبب چې ده ته الله تعالی د خپل فضل شخه ورکړیدي، او همدا ډول هغه کلمات چې د هغه چا څه ویل سوي دي کوم چې ترده وروسته ئې ژوند کاوه، وده ته منسوب کړیدي هغه کلمات دي چې څوک لږ دین اوپوه ولري نه ئې وایي، له دغه شخه د دوی بل قصد او غرض نوؤ مګر د

[1]: تصحیح او مقابله: شیخ الحدیث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

ده د شان د را کمولو او د ده د نوم او نښان د ورکولو ، خو الله به پرې نږدې تر څو چې خپل نور يې پوره کړی نوي که څه هم حاسدان نه وي خوښ.

او د اوزاعي وينا مخکې درته تېره سول چې ويلي دي : «په يقين سره زه په ښکاره پر غلطه وم، (او بن مبارک ته وايي) له دغه سړي لازم اوسه، کومې خبرې چې ماته د ده په هکله رسېدلي وې دی (امام صاحب) خلاف د هغه دی. او د امام ﷺ څه روايت دی ، وايي: ځان وساتئ د هغه څه د انتقال څخه چې خلک ئې د خلکو څخه نه خوښوي . عفو دې وکړي الله و هغه چاته چې په موړکي بد وايي، او رحم دې وکړي الله پر هغه چا چې په موړ کې ښه وايي ، او ده ته چا وويل : خلک په تا کې خبرې کوي او ته په هيڅ چا کې خبرې نکوې! ده وويل: دا د الله فضل دی چې د الله تعالی خوښه وي پر هغه چا ئې کوي.

او ابن حجرشافعي رحمه الله ويلي دي: په تحقيق سره شافعي رحمه الله د سهار لمونځ د ده قبره سره نژدې وګذاری په هغه کې ئې قنوت ونه ويل، نوچا ورته يادآوري وکول، ده ورته وويل : دا د دغه قبر د څښتن سره د ادب په خاطر ، او ځينو بيا ورسره اضافه کړيدي چې ده بسم الله هم پزوره ونه ويل، او په دې کې هيڅ اشکال نسته خلاف د هغه چا چې څه بد ګمانه غوندي دي، ځکه چې کله کله د سنتو په وړاندې داسې يو شی واقع کيږي چې هغه شی د سنتو و پرېښودلو ته ترجيح او قوة ورکوي له دې امله چې هغه شی يا کار د سنتو تر کولو ډېر مهم وي[1]، او په دې کې شک

[1]: الف: تصحيح: شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

ب: بل دليل دا هم کېدای سي چې دلته صرف د روايت د غوراوي خبره ده. ياني امام شافعي رضي الله عنه دلته په هغه روايت عمل وکړ چې امام ابوحنيفة د حکم د استدلال لپاره غوره کړی دی او په خپل غوره سوي روايت يې د لته

اوتردد نسته چي د علماؤ د مقام د لوړوالي اعلان یو تینګ مطلوب امردی ، اوپه یقین سره اوس وهغه ته احتیاج موجود وؤ، دحاسد دپزي دسپیره کېدلو لپاره او د دې لپاره چي وجاهل ته وښودل سي چي دغه (د عالم د مقام د لوړوالي د اعلان) امر د قنوتو تر خالي ویلو او د «بسم الله» تر جهر (پزوره ویلو) مهم او ضروردی، ځکه چي د روایت د قبول په لحاظ په دغه دواړ کي اختلاف سته او په دغه بل کي اختلاف نسته، او بل دا چي د متفق علیه ګڼه او نفع متعدي ده او د هاغه نورو دوؤ ګڼه په شخص پوري منحصر ده.

او همدارنګه بې له شک څخه یقیناً د امام صاحب دښمنان ډېروه، هم ده په ژوند کي او هم ده د مرګ نه وروسته، تر داسي حده چي دوی و ده ته د لویو بدو خبرو نسبت هم وکړ، او د ده په مرګ کي ئې کو ښښ وکی هغه هم داسي بد مرګ لکه مخ کي چي وویل سوه. او همداغه رنګه پدې کي شک نسته چه بیان په فعل سره ډېر واضح وي نسبت وقول ته، نودا معلومه ده چي د شافعي رحمه الله فعل (ترک د قنوتو اود جهر) بهتردی نسبت وکولو ته ئې، د زیات ادب د ښکاره کولو لپاره د دغسي یو امام سره، د ده د شرف اوعزة د زیاتوالي په خاطر، ځکه چي دی د مسلمانانو د امامانود جملې څخه دی، د هغو کسانو له جملې څخه دی چي اقتداء پسي کول کیږي، او د هغو کسانو له جملې څخه دی چي د هغو سره ادب کول کیږي، او د هغو څخه حیاء کول کیږي چي حتی د ده تر مرګ وروسته دي د ده د (قبر) په حضور کي د ده د وینا مطابق د هغه د مذهب خلاف

---

وخت لپاره عمل ونکړ، دا په حقیقت کي د سنتو پرېښودل ندي بلکه د یوځلي لپاره په هغه روایت سره هم عمل کول دي چي مخکي عمل نه وؤ وربانديشوی. مترجم عفي عنه.

عمل وکول سي، چي دايي د مرګ وروسته حالت وي نو په ژوند کي به يې ځرنګه حالت وؤ، اوپه يقين سره به هغه کسان چي د ده سره حسد کوي تاوان وکی په ښکاره تاوان کولو سره، اوپه يقين سره دوی د هغه چا څخه دي چي الله تعالی ده علم سره سره ګمراه کړيدي.

د بخاري په شرح «فيض الباري»، په «حامديه» او په «ناقديه» کي د ذه د ثناء ويونکو او ناقدينو په باره کي ډېر ښه بحث سويدی.

**اوومه فايده، د ده د مشايخو په بيان کي ده**

ابن حجر مکي ويلي دي : دوی (د ده مشايخ) ډېر دي ، په دغه مختصر بيان کي د هغو د ذکر ګنجايش نسته، د هغو له جملې څخه امام ابو حفص کبير څلورزره مشايخ ذکر کړيدي . اونورو هم ويلي دي: ده لره څلورزره مشايخ د تابعينو له جملې څخه وه، د هغو نه ماسوا ته څه فکر کوي؟ (چي نور به څونده وه) او له هغه جملې نه ليث بن سعد دی، او داغه ډول مالک بن انس رحمه الله د دارلهجرة امام دی، دغه دواړه امامان له ده نه د آخذينو له جملې څخه هم دي، سيوطې د درآوردي څخه حکايت کوي وايي : ما مالک رحمه الله او اباحنيفة رحمه الله د رسول الله ﷺ په مسجد کي د ماسختن تر لمانځه وروسته وليدل چي دواړو يو له بله مذاکره او علمي بحث سره کاوه چي کله به يوه ته د ده د وينا يا عمل عيب وويل سو هغه به مقابل لوري ته به بې ځایه خبره نکوله او نه به يې په زور زياتي سره خپله خبره ثابتول، او هم دواړو يو او بل ته د خطاء نسبت نه کاوه، تر هغه چي دواړو په دغه ځای کي د سهار لمونځ وګذاره[1].

---

[1]: تصحيح: شيخ الحديث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

مؤلف وايي : زه وايم : په يقين سره د مخه تېره سول هغه څه چي امام د منصور په جواب کي ويلي ؤ، کله چي منصور پوښتنه ورڅخه وکړه : د چا څخه دي علم ترلاسه کړ؟ نو ده ورته وويل: د اصحابو څخه د عمر، د عمر څخه، د اصحابو څخه د علي، د علي څخه او د اصحابو څخه د عبدالله، د عبدالله څخه.

مسروق ويلي دي: ما د محمد پېژندل ، زه پوه سوم چي ده دوی علم وشپږو (نفرو) ته پای وموند (چي هغه ) علي، ابن مسعود، عمربن الخطاب، زيد بن ثابت، ابي درداء او ابی بن کعب (رضی الله عنهم) دي، بيا مي دا شپږ نفره ښه پېژندل ، زه پوه سوم چي د دغو شپږ نفرو علم وعلي او ابن مسعود ته پای وموند ياني دوی ته ورسېد. پداسي حال کي چي امام د دوی د اصحابو څخه اخيستنه کړېده، لکه څنګه چي د مخه تېر سول.

او شعراني شافعی ويلي دي: ټول هغه چي امام د خپل مذهب لپاره استدلال په کوي هغه ئې د هغه مختاره تابعينو څخه اخيستي دي، چي په سند کي ئې په دروغو سره د يو متهم شخص تصور هم و نسي کېدای، او که يو څوک د ده د مذهب د دلائلو څخه د يو سي په ضعف سره ووايي، نو دا هغه ضعف دی چي نظر په کښتو راوايانو سره د ده د سند څخه د ده تر وفات وروسته منځ ته راغلی دی، او په دغه سره هيڅ بدي نسته وهغه ته چي امام اخستنه ورڅخه کړېده، هر څوک چي و رواتو ته نظر واچوي هغه و نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته پورته سوي دي. او همدغه رنګه موږ د ده د مذهب د اصحابو په دلائلو کي وايو : چي هيڅ کله يوه هم ده دوی څخه په ضعيف فرد حديث استدلال ندی کړی چي هغه دي ده يوه طريقه راغلی وي ، لکه څنګه چي موږ په دغه هکله څېړنه کړېده، په تحقيق سره

دوی په صحیح، حسن یا داسي ضعیف حدیث سره چي د هغه طریقې ډېري وي او دغه ضعیف یې د حسن و درجې ته رسولی وي استدلال کړی دی. او دغه امر یوازي د امام ابیحنیفة په اصحابو پوري ندی ځانګړی بلکه د دوی سره په دغه (امر) کي ټول مذاهب شریک دي.

او د امام صاحب د شیوخو څخه سیوطي په «تبیض الصحیفة» نومي کتاب کي څلوراویا نفره په نومونو شمېرلي دي چي موږ ئې د لنډوني په خاطر پرېږدو ، او شک په دې نسته چي د امام د فقهې په سلسله کي عمده سلسله د حماد بن ابي سلیمان عن النخعي عن علقمة عن ابن مسعود ، سلسله ده ، چي په اول باب کي د دوی په پېژندنه کي یو څه وویل سوه.

## اتمه فایده، د ده د شاګردانو په پېژندګلوی کي ده

ابن حجر ویلي دي: دهغو ټولو درجول سخت دي او ثبتول ئې ممکن نه دي. له دې جهة ځینو امامانو ویلي دي: د اسلام د لویو امامانو څخه وه یوه ته هم دومره شاګردان نه دي ثابت سوي لکه د ابیحنیفة څخه چي اصحاب او شاګردان ښکاره سول، او د دوی د یوه څخه هم علماؤ بلکه ټولو خلکو دومره ګټه نه ده پورته کړې لکه څومره چي هغوی له ده او د ده له اصحابو څخه ګټمن سویدي؛ د مشتبهه، مستنبطه او ورځني پېښو د احادیثو په تفسیر کي، د هغوی له جملې څخه ځینو متأخرینو محدیثینو تقریباً اته سوه نفره د نومونو او نسب د ثبت سره ویلي دي.

زه وایم : شاید دا وه محمد بن محمد بن شهاب چي په ابن البزار الکردري سره مشهور دی هغه ته هم یو اشاره وي، ځکه چی ده د امام د

مناقبو په آخر کي د هغه شاګردان درې سوه نفر د فقهی او احادیثو مشایخ یاد کړیدي .

احمد بن حجر المکي الشافعي ویلي دي : لویو مشایخو، مجتهدینو امامانو او راسخو علماؤ د ده شاګردي کړیده لکه د ټولو په نزد منل سوی جلیل القدر امام عبدالله بن المبارک، لیث بن سعد ، امام مالک بن انس، آیا کفایت نه کوي د غه مشهور أئمة؟ او همداډول مسعر بن کدام.

زه وایم: دامام صاحب د شاګردانو شمېرل ډېره سخته خبره ده، له هغه جملې نه سیوطي په «تبیض الصحیفة» کي اته اتیا نفره شمېرلي دي او موږ ئې ولنډوني ته د رغبت په خاطرنومونه پرېږدو. موفق د ابن سمّاک څخه حکایت کوي وایي: د کوفې (د علم) ستني څلور دي : ثوري، مالک بن مغول، داود الطائي د ابوحنیفة رحمه الله ملګری او ابوبکر النهشلي، دغه ټول د اباحنیفة سره کېنا ستل او د هغه څخه ئې د حدیث روایت کاوه.

او ده –رضی الله عنه– په حضور کي د علماؤ یو شورایي مجلس دائر کېدی، او ده به یوه یوه مسئله بیانول، او خپل دلائل به یې دوی ته اوره ول، تر میاشتي یا زیاد تر میاشتي به یې بحثونه او مناظرې سره کولې تر څو چه یو قول به قرار پیدا کوی او هغه قول به د تأیید وړ وګرځېد[1]، پس له هغه به قاضي ابویوسف په اصولو کي ثبت کړ. اهل النقل د ډېروالي او لږوالي له مخې پدغه شورایي مجلس کي اختلاف کړی دی او د حقیقت له مخي اختلاف پکي نسته، ځکه چي تناوب په دغه شاني مجالسو کي معلوم ؤ، موفق دهغوی نومونه داسي ذکر کړیدي: قاضي ابویوسف،

[1]: تصحیح : شیخ الحدیث الحاج حقاني صاحب مدّظله.

محمد بن حسن، زفر بن هذيل، حسن بن زياد لؤلؤى، وكيع بن جراح، عبدالله بن المبارک، بشر بن غياث، عافية بن زيد، داود الطائي، يوسف بن خالد السمتي، مالک بن مغول البجلي او بن ابي مريم.

## نهمه فايده، په هغه څه کي ده چي د ده مذهب وربانديي ولاړ دى

ابن حجر ويلي دي: پرتا لازمه ده چي ته به د علماؤ د دغه قول څخه چي وايي دوى «اصحاب الرأى» دي، دانه مراده وي چي ګواکي د دغه څخه د دوى مطلب د هغوى سپکاوى دى او يا دا چي دوى خپله رأيه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم پر سنتو اويا د اصحابو كرامو پر اقوالو مقدمه بولي، بلكه دوى پاک او بري دي له دغه څخه. په يقين سره د ابيحنيفة رحمه الله څخه په ډيرو ليارو راغلي دي چي خلاصه ئې داسي ده: په تحقيق سره دى اول په قرآن سره اخستنه كوي، كه ئې پيدا نکړ په سنت نبوي سره. او كه ئې هلته يې هم نه وميندل په قول د صحابي سره. كه د دوى په اقوالو كي اختلاف ؤ نو په هغه قول سره چي و قرآن او سنت ته نژدې وي او د هغه څخه نه وزي او كه ئې د صحابي قول هم نه كى پيدا نو د تابعي په قول سره اخستنه نه كوي بلكه اجتهاد كوي لكه دوى چي اجتهاد کړی دی.

الفضيل بن عياض ويلي دي: كه په مسئلة كي حديث وي د هغه متابعت كوي، او كه د صحابه ؤ او تابعينو قول وي هم دغه ډول ده، او كه دا هم نه وي نو قياس يې كاوه او ښه قياس يې وكړ. او ابن المبارک د ده څخه په يو روايت كي ويلي دي : كه ده رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه حديث راسي پر سر او سترګو مو قبول دى او كه د اصحابو څخه خبر راسي له هغه څخه به يو مختاره کړو، او موږ د هغوى د اقولو څخه نه

وزو، او کله چي د تابعي څخه راسي موږ د هغوی سره مزاحمت (سيالي) کوو.

او همدا ډول د ده (امام صاحب) څخه روايت د ی: «تعجب د ی خلکو ته، هغه چي دوی وايي: زه په رأيه سره فتوای ورکوم، ما فتوی نده ورکړې مگر په اثر سره».

او بيا هم د ده څخه روايت دي: وايي: هيڅ چا لره دا نسته چي د «کتاب الله» په مقابل کي په رأيه سره څه ووايي، او نه هم د رسول صلی الله عليه وسلم د سنت په مقابل کي. او نه هم د ه اصحابو ده اجماع په مقابل کي، او هر څه چي په هغه کي دوی اختلاف کړيدی د هغو اقوالو څخه موږ يو نژدې و کتاب الله او يا نژدې سنت نبوي ته مختاره کوؤ. يو سړي د ده څخه واورېدل چي ده د بل يوه سره په يوه مسئله کي قياس کاوه، ورباندي ناري ئې کړل: دغه قياس پرېږدی، ځکه: اول هغه څوک چي قياس ئې کړی دی هغه ابليس دی، ابو حنيفة و هغه ته مخ راوګرځاوه او ورته وې ويل: اې هغه څوکه چي بې ځايه خبره دي وکړه! ابليس په خپل قياس سره د الله تبارک وتعالی امر پر الله تبارک وتعالی ور رد کړی او په هغه سره کافر سو، او زموږ قياس دپاره د اتباع د امر د الله تعالی دی، نه ده دې لپاره چي رد پر کتاب الله او د هغه د رسول پر سنتو وکړو، او يا د اصحابو او تابعينو د امامانو پر قول رد وکړو، موږ د اتباع پر شاوخوا راګرځو، نو څنګه ته موږ د ابليس -لعنه الله- سره يوشی کوې، نو ده ته هغه سړي وويل: غلط شوم او زما توبه ده، الله تعالی دي ستا زړه در منوره کړي لکه تا چي زما زړه رامنور کړ.

او ابن حزم اندلسي مالکی ويلي دي: د ابيحنيفة ټولو اصحابو پر دې اجماع کړېده چي دده په نزد ضعيف حديث اولی دی تر قياس. ابن حجر

ويلې دي: څلويښتم فصل په رد کې د هغه چا دی چې وايي ده مخالفت کړی دی په صريحو صحيح احاديثو کې بغير له حجة (دليل) څخه، او دا باب خورا ډېر پراخ دی دققه د ټولو بابونو په منظم ډول پلټلو ته احتياج لري، نو موږ به و هغه اجمالي قواعدو ته اشاره وکړو چې د چا ياد وي هغه ته به د تفصيلي دلائلو د وړاندې کولو په وخت مفيد وي.

او پوه سه چې د متقدمينو څخه چې چا دغه ګمان کړی دی يو هم ثوري دی او آخرين ده دوی څخه ابوبکر بن ابي شيبة د بخاري شيخ دی او له دوی نه سبب د دغه د صدور د دوی سهل انګاري ده، او دوی د ده په اصولو او قواعدو کې فکر او سوچ ندی کړی[1]. وروسته بيا ابن حجر دغه اصول په تفصيل ذکر کړه، موږ د هغه خبره په لنډ توګه بيانوو.

هغه ويلي دي: له دغو اصولو څخه: يو هم دادی چې خبر واحد (په حجتيت) نه قبليږي کله چې د متفق عليه اصولو څخه مخالف سي[2].

---

[1]: يو خو دغه دليل دی او بل کېدای سي چې ثوري او د ده همعصره متقدمينو مخکې له هغه نه دغه اظهارات کړي وي چې لا ئې د حسادو خبري په غوږو کې وې او له ده سره يې لا تر اوسه مفاهمه او مباحثه نه وه کړې. لکه مخکې چې ده اوزاعي او يا خپله ده ثوري په هکله روايات تېر شول. خو وروسته بيا دغه منسوخ روايات ده دې باعث ګرځېدلی وي چې په وروسته کې دي هم ځيني کسان ژبه وغځوي. مترجم عفی عنه.

[2]: ده دغه اصل ده لږ څه نور وضاحت لپاره بايد ووېل سي چې د ده له اصولو څخه يو اصل دا ؤ چې خبر واحد به ئې په شرعي مواردو کې تر پلټنې (استقراء) وروسته و منل شوو اصولو ته وړاندې کاوه، که به ورسره مخالف شو نو خبر واحد د استدلال په اړوند شاذ ګڼل کېده او د حکم د استنباط لپاره د حجت په حيث په ډېر احتياط کارول کېده، البته دا قاعده د صحيح خبر په شان کې نه وه مطرح لکه په «شرح مسند ابي حنيفة» کې چې دغه اصل داسې بيان شويدی: «ومن أصوله عرض أخبار الآحاد على الأصول المجتمعة عنده بعد استقرائه موارد الشرع، فإذا خالف خبر الآحاد تلك الأصول يأخذ بالأصل عملا بأقوى الدليلين، ويعد الخبر المخالف له شاذا. وليس في ذلك مخالفة للخبر الصحيح، وإنما فيه مخالفة لخبر بدت علة فيه للمجتهد. وصحة الخبر فرع خلوه من العلل القادحة عند المجتهد». دلته نور هم دومره ويل په کار دي چې د شاذ په هکله د ټولو امامانو رأيه همدغه رأيه ده؛ امام نووي د

بل له هغو څخه: عمل د راوی پرخلاف د خپل روایت دی، ځکه چي دغه د روایت پر نسخ او یا داسي نور څه باندي دلالت کوي لکه د حضرت ابوهریره ﷺ روایت چي وايي : دسپي له څټلو څخه لوښی باید اووه واره پرېولل سي (خو په دغه هکله دده خپله شخصي فتوی پر درې واره پرېوللو ده).

بل له هغو څخه: یوازیوالی د (خبر واحد) دی په هغه مواردو کي چي ټوله ټولنه په اخته وي، پداسي حال کي چي هر یو د هغه و پېژندګلوي ته اړتیا لري، ځکه چي د عادة له مخي په داسي مواردو کي دغه ته ورته د ډیرو راویاتو غوښتنه سته ، بناءً په داسي مواردو کی د یوه نفر یوازیوالی سمه خبره نده، په همدغه اساس، د عام معرفت د اړتیا له مخي، دوی د اودس په ماتولو کي، د ذکر په مسه کولو سره، په هغه حدیث سره اخستنه ونه کړه کوم چي «بُسرةُ» روایت کړیدی.

د اوجزالمسالک مؤلف وايي: زه وایم: دا هغه اصل دی چي د هغه څخه ځان ژغورنه د هیڅ چا لپاره ممکنه نده، ځکه خو شیخ ابن عربي د هغه و منلو ته لاچاره سو، لکه څنګه چي به د هغه د خبرو تفصیل، د باران په وخت کي د دوؤ لمونځو د یو ځای کولو، په بیان کي په تفصیل سره راسي.

---

مسلم په شرح کي د ابن عبدالبر څخه د جنازې د تکبیراتو د حکم په بیان کي نقل قول کوي او وايي: «وَقَالَ ابْن عَبْد الْبَرّ: وَانْعَقَدَ الْإِجْمَاع بَعْد ذَلِكَ عَلَى أَرْبَع. وَأَجْمَعَ الْفُقَهَاء وَأَهْل الْفَتْوَى بِالْأَمْصَارِ عَلَى أَرْبَع. عَلَى مَا جَاءَ فِي الْأَحَادِيث الصِّحَاح. وَمَا سِوَى ذَلِكَ عِنْدهمْ شُذُوذ لَا يُلْتَفَت إِلَيْهِ» او یا دا چي پخپله د «اوجز المسالک» مؤلف د خپل همدغه تألیف په ۹۲ صفحه کي و امام مالک ته د «موطأ» د لیکلو په اړوند د منصور قول داسي رانقل کړی دی: «ضع هذ العلم ، و دوّن کتاباً ، وجنّب فیه شدائد ابن عمر ، ورخص ابن عباس ، و شواذ ابن مسعود – رضی الله عنهم – واقصد اوسط الامور ، وما اجمع علیه الصحابة والأئمة». مترجم عفی عنه.

او بل د هغه څخه: وارد يدل (د خبرواحد) په حدد واو كفاراتو كي دي دا ځكه چي دوی په شبه سره ساقطيږي، او د خبرواحد د راوی د خطاء احتمال د هغوی لپاره شبه ده. او بل د هغه څخه: هغه خبر واحد دی چي په هغه كي سلفو ملاحظات كړي وي. او بل د هغه څخه: هغه خبر واحد دی چي په هغه كي صحابهؤ د هغه په اړوند مسئله كي اختلاف سره كړی وي، او يكي يوه هم په هغه سره دليل نه وي ويلی، سره د هغه چي دوی وه احاديثوته زيات متوجه ول، خو بيا هم د هغه د حجتيت څخه دوی مخ كرځولی دی، دا پخپله د هغه پر نسخ او يا داسي نور څه باندي ښوونه كوي. اوبل د هغه څخه: هغه خبرواحد دی چي د قرآن د عموم سره مخالف وي، ځكه چي اباحنيفة د قرآن وه عموم ته په خبرواحد سره تخصيص نه وركوي، او نه ئې په خبر واحد سره نسخ وايي، دا ځكه چي د خبرواحد ثبوت ظني دي او د قرآن كريم ثبوت قطعي دی، او په دلائلو كي د قوي د مخه كول واجب دي، په همدغه اساس د ((لاصلاة الا بفاتحة الكتاب)) حديث د الله تعالی د كلام چي فرمايي: ((فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ. الآية.)) د عموميت سره مخالف دی[1].

---

[1]: د لته يوه يادونه ضروري بولم هغه دا چي د (لاصلاة الا بفاتحة الكتاب) څخه امام صاحب ندی تېر شوی بلكه په هغه سره ئې اخستنه او استدلال كړی دی، خو صرف دلته فرق دادی چي دی په لمانځه كي په مطلق ډول قرأة د قرآن د يو، دوه يا درې آياته په اندازه فرض بولی اما په معين ډول د فاتحة الكتاب ويل واجب بولي، په دې اړوند مولانا محمدذكريا كاندهلوي په «اوجزالمسالک دوهم جلد ١٦٣ صفحه كی» وايي چي دا فقط لفظي اختلاف دی هغه په داسي ډول چي د فرض او واجب په منځ كي فرق يوازي د احنافو د بارک بيني او دقائقو څخه دی هغه په دې لحاظ چي يوازي امام صاحب هغه چی ثبوت ئې په قرآن او متواترحديث سره شوی وي هغه فرض بولي ځكه چي ثبوت ئې يقيني اوقطعي دی او له دې نه ماسوا څرنګه چي د آحا دو مرتبه له دي نه ښكته ده نو په هغه سره چي د كم سي ثبوت شوی وي هغه به هم د مرتبې په لحاظ نسبت وقطعي الثبوت ته ټيټ وي. همدا

اوبل د هغه (اصولو) څخه: هغه خبرواحد دی چي مخالف د سنت مشهور سره وي، ځکه چي سنت مشهور اقوی دی نسبت خبر واحد ته، لکه هغه حدیث چي حکم په شاهد او په یمین سره وايي مخالف د هغه خبر مشهور دی چي فرمايي: شاهدان پر مدعي دي او قسم وهغه چا ته دی چي منکر وي (البينة على المدعي واليمين على من انكر)[1].

کله چي دغه (اصول) واضح سول د هغو له بیان څخه د ابیحنیفة – رحمه الله – برأت او عفت ثابت سو د هغه څه څخه چي د ده دښمنانو، یا د ده په قواعدو ناپوه کسانو ورته منسوب کړي دي، بلکه اصلاً هغه ټوله کسان چي د اجتهاد په ځایونو ناخبره دي، په کومو ځایونو کي چي ده هلته د آحادو اخبارله استدلال نه پاته کړي دي، په حقیقت کي دی په خبرواحد سره تمسک نه پاته کوي مګر د یو روښانه او قوي دلیل له مخي. ابن حزم ویلي دي: ټول احناف پردې متفق دي چی د ابیحنیفة په نزد یو ضعیف حدیث هم د ده په مذهب کي تر رأيي بهتر دی[2]. نور نو ته فکر وکه و احادیثو ته د ده د دغه توجه په هکله، او د احادیثو لوړوالی، بزرګي او د هغوی مقام د ده په وړاندي.

---

وجه ده چي امام صاحب د فرض او واجب په میان کي په فرق قایل دی او نور أئمة د فرض او واجب په فرق نه دي قایل . مترجم عفی عنه.

[1]: د همدغه اصل په اساس ځینو علماؤ استدلال کړی دی چي «مشهور» د «خبرواحد» څخه مستقل دی. مترجم عفی عنه.

[2]: شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیة هم وايي چي د ابیحنیفة په ګډون ټول امامان یو ضعیف حدیث پر قیاس او رأیه مقدم بولي لکه چي وايي: « بَل الأَئِمَّةُ يَتْرُكُونَ الْقِيَاسَ لِمَا هُوَ دُونَ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ كَمَا تَرَكَ أَبُو حَنِيفَةَ الْقِيَاسَ فِي مَسْأَلَةِ "الْقَهْقَهَةِ" بِحَدِيثٍ مُرْسَلٍ... » مجموعة الفتاوی ، ج: ۱ ، ص: ۴۰۴. مترجم عفی عنه.

له دغه جهته په مرسل حديث سره لا هم عمل پر قياس باندي وړاندي وګڼل سو، لکه په قهقه خندا سره چي اودس واجب دی، سره د هغه چي دا د قياس په اساس بې اودسي نده، خو په دغه مورد کي د «مرسل» خبر د موجوديت پر اساس دغه حکم وسو. او دغه (بې اودسي) بيا د جنازې په لمانځه او سجده تلاوة کي نده راغلې، د همدغه حديث پر ظاهري نص باندي د اقتصار له مخي، ځکه چي دا حديث يوازی د هغه لمانځه په مورد کي وارد سوی دی چي رکوع او سجده دواړه ولري[1].

په يقين سره محققينو ويلي دي: پر حديث باندی بې له رايي (فکروهلو) عمل نه برابرېږي؛ ځکه چي دا د هغه معانيو پيدا کونکي دي چي په خبره پوري تړلې ده، او له همدغه ځايه ده چي بعضي محدثينو لره دا فکر نه وو چي په رضاع سره حرمت له کومه ځايه راپيدا کيږي، ځکه خو ئې حرمت د پسه په شيدو سره هم ووايه. او خالص په رأيه سره هم عمل نسته، له دغه ځايه ده چي په هېره سره روژه نه ماتيږي خو په قصدي عمل سره ماتيږي، سره له هغه چي قياس په اول کي ماتول وايي او په دوهم کي نه[2].

---

[1]: په همدغه اړوند محمد بن احمد ابوزهرة په خپل «ابوحنيفة حياته وعصره وآراؤه وفقهه» نومي تصنيف په صفحه ۵۲ کي وايي چي داسي مثالونه تر شمېر وتلي دېردي چي ابوحنيفة هلته و خبرواحد ته پر قياس ترجيح ورکړېده، او د دغه لپاره دوی يوه قاعده مقرره کړېده چه هغه ته استحسان وايي. مترجم عفی عنه.

[2]: په هغه ځايو کي چي قوي دليل موجود نه وي د رأيي او قياس دضرورة لپاره محمد بن احمد ابوزهرة په خپل «ابوحنيفة حياته وعصره وآراؤه وفقهه» نومي تصنيف په صفحه ۵۱ کي د «کشف الاسرار» د ۲ جلد، صفحه ۷۰۰ په حواله وايي: چيرته چي قوي دليل موجود نه وي هلته د دې لپاره چي خبرواحد ناسخ د قرآن چي قطعی الثبوته دی يا مقابل د خبر مشهور چي اقوی دی او يا معارض د اصحابو د اجماع واقع نسي نو د رأيي او قياس ضرورت سته. يعني په کوم ځای کی چی ثابته سي چي خبر واحد د قرآن ناسخ يا د خبرمشهور مقابل او يا د اجماع معارض واقع شو نو په همدغسي مواردو کي نظر په تمسک د حضرت معاد (رض) په حديث او د الله تعالی

په تحقیق سره روښانه او ښکاره سول چي یقیناً امام (استدلال) په ځینو ځایو کي په خبرواحد سره ده هغه قواعدو د عذر له مخي پرېښي دی کوم چي مونږ اشاره ورته وکړه، او په هغه سره مونږ ته خبر کړې چي احتیاط! له هغه څخه چي پښه دي وه نه ښکیږي ده هغه چا سره چي ښکیدلي دي او ذهن دي ګمراه نسي دهغه چا سره چي ګمراه سویدي ، که نه نو په دغه وخت کي به ستا اعمال ټول ده تاوان سره وي.

اوشعراني دشقيق بلخي څخه حکايت کوي او وايي: ابو حنيفة رحمه الله د هغه ډېرو پرهېزګاره خلکو څخه ؤ، ډېرلوی عالم د خلکو ؤ ، زيات عبادت کوونکی د خلکو ؤ، زيات سخي د خلکو ؤ، ډېر زيات احتياط ئې په دين کي کاوه، هيڅ کله ئې د الله په دين کي په رأيه سره څه نه ويل، او هيڅکله به ئې يو مسئلة په علم کي نه ايښودل تر څو چي به ئې پر هغه مجلس ونه تاړه او پرهغه به ئې د اصحابو اتفاق و نسو، اوهرکله چي به د هغه اصحابو ټولو اتفاق سره وکړ چي دا ده شريعت سره برابره ده نو به ئې ابو يوسف يا وه بل داسي چاته وويل: دا په فلاني باب کي کښېږده، او د مخه د ده مقام، په احاديثو کي بيان سو چي کله به يو مسئلة ورباندي راغله نو وه به ئې ويل: آيا د حديثو له جملې څخه څه شی درسره سته؟ خو کله چي به هغوی ورته روايت کړل، او هغه به ئې د ده په وړاندي وويل نو ډېره کی (اکثريت) به ئې غوره کړ.

---

په مبارک ارشاد سره چي فرمايي: ((فاعتبروا يا اولی الابصار)) قياس او رأيه کارول کيږي، او ور پسي د کشف الاسرار په حواله راغلي دي چي د امت په اجماع سره د قوي دليل د نه موجوديت په صورت کي په قياس سره عمل کيږي . مترجم عفی عنه .

# د اشرفيې مدرسې چاپ سوي آثار

١: دسپېڅلي پیغمبر (ص) سپېڅلی ژوند
٢: دروژې احکام او فضائل
٣: افهام الصرف
٤: دتلاوت لاربنود
٥: دمسافر احکام
٦: ځلوېښت احادیث
٧: دښځو دپردې شرعي حدود
٨: ایا زموږ په هیواد کي دجمعي لمونځ سته؟
٩: کودي جادوګري اوناروا تعویذونه داسلام له نظره
١٠: تیسیر المنطق
١١: ښوونه، چي ورزده کړو
١٢: سود دقرآن اوحدیث په رڼا کي
١٣: دقرباني اړونده احکام
١٤: دتقلید شرعي حیثیت
١٥: دحکیم الامت افکار
١٦: دښځو دلباس اوځان جوړوني شرعي حدود
١٧: تحسین النکاح
١٨: دزکاة احکام
١٩: قول الفهام
٢٠: المنهج الاحسن
٢١: تعلیم العقاید
٢٢: دلنګوټې فضایل اومسایل
٢٣: اسلامي آداب
٢٤: داول صنف پښتو
٢٥: ددوهم صنف پښتو
٢٦: ددریم صنف پښتو
٢٧: دڅلورم صنف پښتو
٢٨: دپنځم صنف پښتو
٢٩: داول صنف دري
٣٠: ددوهم صنف دري
٣١: ددریم صنف دري
٣٢: دڅلورم صنف دري
٣٣: دماشومانو لمونځ
٣٤: پښتو اوحساب دابتدائیه ټولګی لپاره
٣٥: داول صنف حساب
٣٦: ددوهم صنف حساب

٣٧: دامام اعظم ابوحنیفه رح دژوند لنډه پېژندنه (همدغه آثر)

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com